د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ټولنیزو علومو مرکز

# آریانا

## مجلهٔ علمی - تحقیقی

په دې ګڼه کې:


- ابو ریحان البیرونی...
- عوامل کودک آزاری...
- افغانی دودونه او...
- په نړۍ او افغانستان...
- د محمد موسی شفیق ژوند...
- له غزنوي شاهانو سره..

...




۳ - ۴

- دوره پنجم
- ربع: سوم و چهارم
- سال: ۱۴۰۲ هـ.ش.
- شماره مسلسل: ۴۵۰-۴۵۱
- سال تأسیس: ۱۳۲۱ هـ.ش
- کابل - افغانستان

مجلهٔ علمی - تحقیقی آریانا
شماره ۳-۴، سال ۱۴۰۲ هـ.ش

# ARYANA

## Quarterly Journal

**Establishment 1942**
**Academic Publication of**
**Afghanistan Science Academy**
**Serial No:** 450-451

Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ټولنیزو علومو مرکز

# آریانا

مجلهٔ علمی- تحقیقی
اقتصاد، تاریخ و اتنوگرافی، حقوق و علوم سیاسی، روانشناسی و تعلیم و تربیه، ژورنالیزم، فلسفه و جامعه شناسی

مؤسس احمد علی کهزاد
سال تأسیس ۱۳۲۱ هـ. ش.
شماره مسلسل ۴۵۰ ـ ۴۵۱
دوره پنجم
شماره ۳-۴ سال ۱۴۰۲ هـ ش

**یادښتونه**

- مقاله دې په رسمي ډول له ځانګړي ادرس څخه د نوم، تخلص، علمي رتبې، د ټیلفون شمېرې او ایمېل ادرس په ذکر کولو سره د علومو اکاډمۍ ادارې ته را واستول شي.
- را استول شوې مقاله باید علمي، څېړنیزه، بکر او دعلمي منل شوو معیارونو مطابق وي.
- مقاله باید مخکې په بل ځای کې چاپ شوې نه وي.
- د مقالې سرلیک باید لنډ او له محتوا سره مطابقت ولري.
- مقاله باید د لنډیز لرونکې وي، ۸۰ څخه تر ۲۰۰ کلمو وي او د اصلي پوښتنې ځواب ویوونکې وي چې مقاله هغې ته ځواب ویوونکې ده. همدارنګه لنډیز باید د یونسکو له ژبو څخه په یوې ژباړل شوی وي.
- مقاله باید د سریزې، مبرمیت، هدف، د څېړنې د پوښتنې، د څېړنې د تګلارې، لاس ته راغلو پایلو او د منابعو د لړلیک لرونکې وي او هم په متن کې منبع ته اشاره شوې وي.
- مقاله باید پرته د ټایپي تېروتنو، د ژبې د اصولو د ټولو نکاتو په مراعتولو او د موضوعاتو په منطقي تسلسل سره د A4 په یو مخیزې پاڼې او د Word په پروګرام کې برابره شي.
- د مقالې حجم باید حد اقل ۷ او حد اکثر ۱۵ معیاري پاڼې وي، په ۱۳ فونټ کې دې ټایپ شي، د سطرونو ترمنځ دې فاصله Single وي او کاپي دې د هارډ او سافټ په بڼه را واستول شي.
- د مجلې کتنپلاوی د رد، منلو او د مقالو د سمونو صلاحیت د علومو د اکاډمۍ د نشراتو د لایحې په نظر کې نیولو سره لري.
- ارایه شوي تحلیلونه او نظرونه د څېړونکي او لیکونکي پورې اړه لري او الزاماً د ادارې موقف پورې اړه نه لري.
- د نشر شوو مضامینو او مقالو د کاپي حق خوندي دی، یوازې د مأخذ په توګه ترې په نشراتو کې ګټه اخیستل کېدلی شي.
- سپارل شوې مقاله بېرته نه مستردېږي.

**یادداشت**

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به اداره اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالۀ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدۀ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نشده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصۀ حد اقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، و گویای پرسشی اصلی باشد که مقاله در پی پاسخ دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان‌های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان، تسلسل منطقی موضوعات در صفحۀ یک رویه کاغذ A4 در برنامۀ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵صفحه معیاری بوده، با فونت ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را با در نظر داشت لایحۀ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل ها و اندیشه های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می تواند.
- مقالۀ وارده دوباره مسترد نمی گردد.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**ناشر:** ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان
**مدیر مسؤول:** عبدالباقي شهاب
**مهتمم:** محمد ابراهیم پکتین
**هیأت تحریر:**
- سرمحقق شیرعلی تزری
- څېړنپوه دکتور محمدشریف ځدراڼ
- سرمحقق عبدالجبار عابد
- څېړنوال محمد داود ناظم
- محقق غلام نبی حنیفی
**دیزاین:** عبدالباقي شهاب
**محل چاپ:** مطبعه ستاره همت. کابل - افغانستان
**آدرس:** اکادمی علوم افغانستان، طره باز خان واټ،
کوچه شاه بوبوجان، شهرنو، کابل
**شمارهٔ تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)
**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** info@asa.gov.af
**ایمیل مدیریت مجله:** aryanajournal777@gmail.com
**اشتراک سالانه:**
کابل: ۳۲۰ افغانی
ولایات: ۴۸۰ افغانی

- قیمت یک شماره در کابل: ۸۰ افغانی
- برای استادان و دانشمندان اکادمی علوم: ۷۰ افغانی
- برای محصلین و شاگردان مکاتب: ۴۰ افغانی
- برای سایر ادارات: ۸۰ افغانی

# د موضوعاتو لړلیک


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱. | ابو ریحان البیرونی... | څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ | ۱ |
| ۲. | عوامل کودک آزاری... | سرمحقق عبدالجبار عابد | ۱۶ |
| ۳. | افغاني دودونه او... | څېړنوال محمد داود ناظم | ۴۲ |
| ۴. | په نړۍ او افغانستان... | څېړندوی شوکت الله عابد | ۷۳ |
| ۵. | د محمد موسی شفیق ژوند... | څېړندوی شېرحسن کمالزی | ۹۳ |
| ۶. | له غزنوي شاهانو سره... | څېړندوی وجیه الله ظهیر | ۱۱۷ |
| ۷. | بررسی عوامل تأثیرگذار... | معاون محقق خدانظر اعتمادی | ۱۳۹ |
| ۸. | له عباسي دربار سره... | څېړنیار سیدمحمدصادق سادات | ۱۶۴ |

څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

# ابو ریحان البیرونی د افغانستان د نومیالی مؤرخ په توګه

# Abu Raihan AL-Biruni as the famous historian of Afghanistan

***<u>Senior Research Fellow M Sharif Zadran</u>***

**Abstract**

Abu Rihan main name was Mohammad, his father name was Ahmad, he was born on Thursday in ٩٧٣, Bironi, Khwarazam. He died in the age of ٧٥ in Ghazni province on Friday, December ١١ ١٠٤٨, and buried there.

Abu Rihan learnt Fersian, Saadi, Khwarazami, Arabic, Abrani, Suryani, and Sanskrit languages. He had knowledge in natural s ciences; math, medical, geology, mines, and social sciences; history, geography, archeology and religion, therefore he had published ١٩٥ academic works with his deep understanding, which has given national and international reputation as a talented historian.

**لنډیز**

د ابوریحان اصلي نوم محمد، د پلار نوم یې احمد، پر ۹۷۳م. کال د پنجشنبې په ورځ د خوارزم په «بیرونی» نومی ځای کې زیږېدلی و. له ۷۵کلونو ژوند او فعالیت وروسته د ۱۰۴۸میلادي کال د دسمبر په (۱۱) مه نېټه د جمعې په ورځ په غزني کې وفات او همدلته خاورو ته سپارل شوی دی.

ابوريحان په فارسي، سغدي، خوارزمي، عربي، عبراني، سرياني او سانسکريت ژبو ښه پوهېده، د حکمت په ټولو څانګو، طبيعياتو، مابعد طبيعياتو، منطق، رياضي، طب، نجوم او لرغون پېژندنه، تاريخ، جغرافيه، کانونو پېژندنې او مذهب پېژندنې کې يې ژوره مطالعه او زيات آثار پنځولي دي، چې شمېر يې (۱۹۵) ته رسېږي. دا دومره ډېر علمي آثار بې له شکه ابوريحان البيرونی په ملي او نړيواله کچه د يوه ځواکمن مؤرخ په توګه راپېژني.

**سريزه**

ابوريحان البيروني د خپلو علمي څېړنو او ليکنو په وجه د افغانستان په خورا نوميالیو مؤرخينو کې شمېرل کېږي. په نړيوالو علمي تعريفاتو کې مؤرخ هغه چاته ويل کېږي چې تاريخ ليکونکی وي او په تاريخ و پوهېږي او د يوه هېواد، ملت او د نړۍ پېښې ثبت او ضبط کړي.(۱: ۲۳۳مخ)

تاريخپوهان وايي، کله چې يو مؤرخ غواړي د تېرو تاريخي پېښو، سياسي، اقتصادي او ټولنيزو حالاتو په اړه څېړنه او ليکنه وکړي، نو هرومرو دوه کارونه بايد سرته ورسوي:

لومړی ــ بايد تاريخي اسناد او وثايق راغونډ کړي او هر يو په جلا جلا ډول تر تحليل، نقد او ارزونې لاندې ونيسي.

دوهم ــ کله يې چې د تحليل، نقد او ارزونې په پايله کې ثقه او مستند معلومات په لاس راوړل، له هغه وروسته د هغوي په تنظيم، ترکيب او ليکنه باندې پيل کوي. په دې ډول لومړۍ مرحله د ارزونې، نقد او تحليل په نامه او دوهمه مرحله د تاريخ ليکنې په نامه يادوي. په پايله کې دواړو مرحلو ته د تاريخ ليکنې اصول وايي.(۱۸: ۲۱مخ)

بې له شکه علامه البيرونی (۱۰۵۰) کاله وړاندې د يوه مؤرخ په توګه د تاريخ ليکنې پورتني اصول په خپلو علمي او تاريخي آثارو کې نه يوازې عملي کړي دي، بلکې دغو اصولو ته يې پراختيا ورکړې ده. دی په خپل تاريخي

کتاب «آثار الباقية» کې پر دغو اصولو غړېدلی دی او یو ښه لارښود ګڼل کیدای شي.(۱۷: ج ـ د مخونه)

د اسلام د ستر پیغمبر (ص) په وینا: (( په هغو مغزو کې چې فکر، تحقیق او څېړنه، نه وي د یوه بې روحه جسم مثال لري)) ( ۲: ٦٠مخ) بنا پر دې د اسلامي نړۍ او په هغه جمله کې د افغانستان مؤرخین یوه اسلامي او ملي دنده لري چې د علومو په بېلابېلو برخو کې څېړنې او لیکنې وکړي، اسلامي ملتونه و پوهوي او د علومو په ګاڼه یې سمبال کړي. باید ووایم چې د ملي او اسلامي وجیبه چې هر علمي شخص پوره کړې ده، د مؤرخ خطاب ورته کولی شو.

اسلامي لوی مؤرخ ابن خلدون لیکي، چې مؤرخ او تاریخ زموږ پر اوسنیو تجربو باندې تېرې تجربې را زیاتوي او زموږ ژوند ته بډاینه ور ښيي. څرنګه چې انسان پخپل ورځني ژوندانه کې خپل تېر خاطرات را په یادوي او څېړي یې، د هغوی له منځ نه ګټور او هغه څه چې لازم یې ګڼي، غوره کوي او یو تر بله یې سره پیوندوي او توجیه کوي یې، دا هغه کار دی چې مؤرخ یې سرته رسوي او په دې ډول تاریخ پخپله د انسان د ژوند برخه ګرځي او انسان پخپل هر ګام او اقدام کې له هغه ګټه اخلي.( ۳: ۱۳مخ)

بیروني د افغانستان د یوه نومیالی مؤرخ په توګه په علومو کې د یوه ځانګړی سبک او روش څښتن و، په دې ډول چې هر علم یې د هماغه علم د ځانګړي میتود او روش پر بنسټ مطالعه او څېړه. د هغه د څېړنې میتود پېژندنه د ټولنیزو او انساني پدیدو په پېژندلو کې پر علمي روح ولاړ وه او په دومره اندازه سمه او موثقه وه چې هېڅکله به خپل علمي ارزښت له لاسه ورنه کړي. (۴: ۳۱مخ) هغه په یونان کې د بت پرستۍ د روایاتو په اړه د یادونې په ترڅ کې وايي:

(( نه باید د هغه څه په اړه چې علم نه وربانديې لرو، حکم صادر کړو.)) (۵: ۳۵۷مخ)

ابو ریحان د ((حقیقت)) رښتینی دوست او ملگری و، په دنیا کې یې هېڅ شي ته پر هغه باندې تر جیح نه ورکوله. حقیقت یې د هیڅ غرض او مقصد لپاره نه پټوه او د خرافاتو د باطلولو او رېښې غوځولو څخه یې ډډه نه کوله او یوه دقیقه یې ځنډ نه کاوه، مسلمان و، خو وچ، خشن (تندخوی) او متعصب نه و. ( ٦: ٢٠مخ) آریانا دایرة المعارف هغه د یوه لوی عالم او مؤرخ په توگه را پېژندلی دی او د هغه (١٩٥) آثار یې د سرلیک په تفکیک سره معرفي کړي دي. (٧: ٢١۴ـ ٢١٧مخونه)

**د موضوع مبرمیت:**

د مقالې د موضوع مبرمیت په دې کې دی چې د افغانستان د نومیالی مؤرخ علامه بیرونی د علم او پوهې رڼا نه یوازې په افغانستان کې، بلکې د نړۍ په گوټ گوټ کې خپره شوې او د علومو په بېلابېلو برخو کې د ده علمي آثار په پوهنتونونو، اکاډمیکو، علمي او څېړنیزو مرکزونو کې د گټې وړ دي، یا په بل عبارت بیروني په نړۍ کې د یو جامع العلوم پوهاند په توگه پېژني. نوموړی ١٩٥ علمي، څېړنیز او بکر آثار دنیا ته وړاندې کړي، چې یوازې یو اثر یې په دري ژبه او نور ټول یې په بهرنیو ژبو کښلي دي، له همدې امله د موضوع مبرمیت په دې کې لیدل کېږي چې په خپلو ملي ژبو د ده ژوند او علمي کارنامې په بشپړ توگه و پېژنو او د علومو په وده او پرمختیا کې ترې گټه واخلو.

**د موضوع هدف:**

د دې مقالې او لیکنې هدف دادی چې علامه بیروني د افغانستان د یوه نومیالی مؤرخ په توگه وپېژنو. د هغه د لیکنو او څېړنو میتودونه او روشونه، علمي اهمیت او علمي مقام وڅېړو.

**د موضوع د څېړنې میتود:**

په نوموړې لیکنه کې له علمي تاریخي، تحلیلي او توصیفي میتود څخه گټه اخیستل شوې او د څېړنې ټول علمي او اکاډمیک اصول رعایت شوي دي.

## لوی او نومیالی مؤرخ

ابو ریحان البیرونی د افغانستان او د اسلامي نړۍ یو نومیالی او لوی عالم او مؤرخ و چې یوناني علوم یې په هندي ژبه او هندي حکمت یې په عربي ژبه ژباړلي دي. د نوموړی بېلابېل لیکنې د نړۍ په معتبرو علمي مأخذونو کې شاملې دي او په بېلابېلو علمي څېړنو کې ګټه ترې اخیستل کېږي. په لنډه توګه ویلای شو، چې ابو ریحان یو ستر پوه، څېړونکی، ژباړونکی، لیکوال، منجم، ژبپوه، تاریخ پوه جغرافیه پوه او د خپل وخت پر ټولو علومو او فنونو واکمن و او له شخصي پلوه نوموړی یو حلیم، مهربان، نرم، قانع او په دین مین انسان و. پروفیسور سارټن نباغلی بیرونی د یوه سیلانی، فیلسوف، ریاضی پوه، منجم، جغرافیه پوه، قاموس پوه او د لوی دیني عالم په توګه راپېژني. (۸: ۱۲۹مخ) بیرونی( ۱۰۵۰) کاله وړاندې پر (۱۳) متداوله ژبو پوهېده او د خپلې زمانې د علومو (۳۴) رشتې یې احاطه کړې وې او د هغوی له جملې نه د (۱۰) علومو موسس و، لکه جیو دیوزی، معدن پېژندنه، جواهر پېژندنه، توپوګرافی، خلک پېژندنه، ژبپوهنه، انسان پېژندنه، جغرافیه، ریاضي او مثلثات مستوی(۴: ۱مخ)

بیرونی یو محقق، علامه او امانت دار ژباړونکی و. د ده له عجائبو څخه یو هم د ده دقیق علمي روش دی چې پر مشاهدو، مکررو تجربو او ازموینو باندې ولاړ و. دی یوازینی پوهاند دی چې پخپل وخت کې یې خرافات لېرې غوزځولي دي، هغه کیسې او حکایتونه کوم چې علمي اساس نه لري بې اعتباره یې ګڼلي دي. هغه د یوه عالم او څېړونکی په توګه د علمي څېړنو، پلټنو او مطالعاتو لپاره ځینې قاعدې او روشونه وضع کړي دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱ــ بې طرفانه او نقادانه څېړنه او لیکنه باید وشي

۲ـ ټول هغه ځیزونه چې په نړۍ کې وجود لري د زمانې په بهیر کې خپل شکل او بڼه بدلوي، دا شاعران دي چې په خپلو ستاینو کې له ډېرو درواغو څخه کار اخلي.
۳ـ مور دا جرأت نه کوو، هغه څه چې مور اوربدلی نه وي بل ته یې و وایو.
۴ـ پر راوی او حکایت کوونکی باندې بې له امانت اداکولو څخه بل شی واجب نه دي. (۹: ۱٦٥ ـ ۱٦٦مخونه)

د هندوستان د لکنهو پوهنتون د سیاسي علومو استاد ډاکټر شرما په خپل اثر Glimpses From Indian) History ) کې لیکي چې البیروني د هند کوم حال په خپل اثر کې کښلی هغه د علمي څېړونکو لپاره د لرغوني هندوستان د تاریخ، ادب، مذهب، اقتصاد، فلسفې، جغرافیې، نجوم او نورو معلوماتو لپاره یو ستر باوري، سم، پوخ او کامل سند دی چې د (کتاب الهند یا تحقیق ماللهند) په نوم یادیږي.(۹: ۹۴مخ)

شوروي ختیځپوه، اشرفیان د ابوریحان بیروني د (کتاب الهند یا د هند تاریخ) اثر په ډېر لوړ انداز ارزوي او لیکي چې د بشري نبوغ د تېرو مهمو یادګارونو له جملې څخه یو د ابوریحان بیروني «هند» نومی کتاب دی. دغه کتاب د منځنۍ آسیا د عربي ژبو آثارو له ډلې څخه دی چې د خورا غوره عالم د ژور فکر محصول دی کوم چې ویې کړای شول چې د منځنیو پېړیو د فکري محدودیتونو، د دیني تعصبونو او په یوه ملت باندې د بل ملت د غوره والی له روحیې نه ځان آزاد کړي.

د بیروني بې طرفۍ او استقلال د ده اثر ته د هند د ۱۰ـ ۱۱ پېړیو د ژوند د دایرةالمعارف بڼه ور بښلې ده. د «هند» کتاب په داسې حال کې چې د نفوسو، عادتونو، دینونو، ښارونو، ټولنیزو انستیتونو او موسسو، علم او کلتور په باره کې ارزښتناک معلومات ورکوي، نن ورځ هم د هغو شوروي او نورو پوهانو د پاملرنې په مرکز کې دی، کوم چې د هند تاریخ او د هغه لرغونی بډای کلتور څېړي او زده کوي یې.(۱۰: ۱۵۷مخ)

هندي مؤرخ سید حسن برنی د ابوریحان د اثر (کتاب الهند) په اړه لیکي چې په کتاب الهند کې بیروني د هغو مسایلو بیان کوي چې ده پخپله لیدلي، اورېدلي یا لوستلي دي، هر مضمون یې پرته له تعصب څخه په ډېر خلاص زړه بیان کړی دی، د کتاب لوستونکی چې پاڼې، پاڼې ولولي بیا هم داسې نه ورته ښکاري چې لیکوال یې غیر مذهبي سړی دی، د څېړنې له انداز او لیکنې له طرز څخه په مشکل سره دا گمان کیدای شي چې د دغه کتاب مؤلف له (۹) سوه کاله پخوانۍ زمانې سره تعلق لري، بلکې داسې څرگندیږي چې گواکې زموږ د زمانې یو بې تعصبه او ربنتینی محقق په ډېر بریالیتوب سره د هندوانو د تهذیب او تمدن بیان اوروي، د طرفدارۍ نوم او نښان هم نه په کې لیدل کېږي، که څه هم دی مسلمان دی، خو له هندي حکماوو سره متفق دی،ځینې علمي مسائل په خورا خوښۍ سره مني، علاوه پر دغو ټولو دی په صداقت مین او له دروغو او ریا څخه په کلکه کرکه کوي. د بیروني له دغه تألیف څخه هېڅکله دا مقصد نه و چې د هغه په زریعه د هندوانو خیالات ردکړي، د دوی مذهب بد وښيي او په دې ډول دوی له خپلو عقایدو راوگرځول شي،ده چې څه لیکلي هغه د ده په خپل قلم د ده د سمو افکارو ښکاره کول دي، د هندوانو تهذیب او عقل بیان پخپله د دوی له خولې څخه اوري او د هندي تمدن تصویر یې پخپله د هندو مصورینو په قلم کښلی دی، ده په وارو وارو دا خبره تکرار کړې ده چې زه د کوم امر د ربنتیا او دروغو مسؤل نه یم.

برنی زیاتوي چې بیرونی د خپل اثر د هر فصل موضوع لومړۍ څېړلې، تشریح او مفصل بحث وربانديې کړی، په پای کې پر مناسبه موقع د هندي معتبرو مؤلفینو په کتابونو او موزونو اقتباساتو د خپل بیان تائید کوي،علاوه پر دې ځای ځای له نقد او مقابلې څخه هم کار اخلي، غرض دا چې له درایت، شهادت، ذاتي معلوماتو، روایاتو او نورو هر ډول معلوماتو څخه د مرستې اخیستلو کوښښ کوي، دغه التزام په ټولو فصلونو کې مشترک دی، په ټول

کتاب کې يو لفظ هم فضول او بې ګټې نه دی استعمال شوی.(۱۱: ۲۲۲ـ ۲۲۴مخونه)

د علمي او تاريخي څېړنو اصول دا دي چې مؤرخ د تاريخ ليکنې له علمي روشونو سره آشناوي او کافي علمي تجربه ولري؛ د تحليل، ارزونې، نقد، تفسير او بيان علمي وړتيا ولري، علامه بيروني دغه ټول صلاحيتونه درلودل او د وخت پر ټولو علومو واکمن و، د نورو علومو تر څنګ د تاريخ له زده‌کړې او لوړې پوهې څخه هم برخمن و، يو پوه، ځيرک، دراک مؤرخ و.

کتاب الهند يا تحقيق ماللهند د ابوريحان البيروني يو ډېر مهم تاريخي کتاب دی چې د هند د تمدن او فرهنګ په اړه د يوه نړيوال مأخذ په توګه اهميت لري او د څېړونکو لپاره يو معتبره مرجع ده. بيروني د دغه لوی تاريخي اثر په ليکنه کې له دوو ميتودونو يعنې له ساحوي (ميداني) او کتابتوني يا په بل عبارت له مکتوبي او غير مکتوبي منابعو څخه ګټه اخيستې ده. هغه په دې ډول چې له يوې خوا خپل اثر په سم ډول مستند کړي او له بلې خوا خپل مخاطبان له دغو علمي روشونو سره آشنا کړي. هغه دغه راز مکتوبي منابعو ته ځانګړې ارزښت ورکاوه او په دې نظر و چې (( کتاب ليکنه د پوهې د ساتلو يو ډول دی او نږدې ده چې له ګفتاری روش څخه لوړه وی؛ که چېرې په قلم ليکلي آثار پاتې نه وای، دتېرو امتونو اخبار له کومه ځايه موږ تر لاسه کول؟)). (۵: ۳۸۱ـ ۳۸۲مخونه)

د بيروني په بېلابېلو آثارو کې د تاريخي څېړنو خورا د قدر وړ ذخيرې پيداکېږي، کتاب الهند او آثار الباقيه له دغه ډول معلوماتو څخه مالامال دي. خو ډېر د افسوس ځای دی چې د بيرونی (تاريخ محمود غزنوي)، (تاريخ خوارزم) او د قرمطه او مبيضه فرقو تاريخونه يو مخ ورک دي او دا يوه داسې د تاسف وړ علمي ضايعه ده چې تلافي يې په هيڅ ډول امکان نه لري.(۱۱: ۲٦۱مخ)

((کتاب الهند)) د ابوریحان البیروني یو له هغو مشهورو تاریخي او علمي آثارو څخه دی چې په ۴۲۳هـ ق. کال یې په (۸۰) فصلونو کې کښلی دی. دغه اثر د هندوستان تاریخ، جغرافیه، فلسفه، نجوم، طب، ادب، تصوف، فرهنګ او د ټولنیز ژوندانه بېلابېل اړخونه بیانوي. دغه راز د ((افغان)) تاریخي او ملي نوم موږ ته راپېژني او زموږ د ملي هویت په روښانولو کې مرسته کوي. باید ووایم چې کتاب الهند د افغانستان او افغان د نومونو او جغرافیې پر تاریخي مخینه او موقعیت باندې رڼا اچوي او په اړه داسې لیکي چې د هند په لویدیځو غرونو کې افغان قبایل اوسېږي چې د افغانستان او هندوستان په سوداګرۍ کې یې لاس درلود.(۱۲: ۱٦۷مخ)

البیروني نه یوازې په (کتاب الهند) کې د ((افغان)) او ((افغانستان)) یادونه کوي، بلکې په یوه بل اثر ((صیدنه)) کې چې د ۱۰۵۰م. کال په شاوخوا کې یې لیکلی د دغو افغان قبایلو د اوسېدو سیمه د ((جبال الافغانیه)) په نامه یادي. (۱۳: ۲۱۳مخ) د حبیبي په قول، البیروني په خپل اثر (قانون المسعودی التفهیم) او نورو جغرافیایي او علمي آثارو کې د افغان او افغانیه د ملي نوم ذکر کوي.( ۱۴: ۱۸۳مخ)

د البیروني په وینا د (افغان ) نوم په هغې کلمې پورې اړه لري چې په مهاباراته کې د اسوکا په نامه یاد شوي دي. اسواکا د ګندهارا په سیمه کې مېشت وو. د ویدي دورې نوم دی او دوی په هغو غرونو کې اوسېدل چې په اسلامي دوره کې د سلیمان غرونو په نامه و نومول شول. دغه راز هندي مشهور ستوري پېژندونکی واراها میرا په خپل اثر (( برې هات سمهیتا)) کې چې د ۵۰۵ ـ ۵۸۷م. کلونو ترمنځ یې لیکلی دوه ځلې د افغان نوم د اوګانه (Avagana) په بڼه راوړې دي او البیروني د همدغه اثر ( برې هات سمهیتا) د ژباړې پر مهال د ((اواګانه))، ((اوغانا)) او د ((افغان)) له نامه سره اشناشو.(۱۵: ۹۸ـ ۹۹مخونه)

ځرنګه چې بيروني د «مهاباراته» او «برى هات سمهيتا» له سانسکريت منابعو سره په ژوره توګه آشنا و او له دغو سانسکريتي منابعو له لارې د افغان له نامه سره آشنا شو. د ده هم عصر ليکوال، فردوسی د ((اوګان))، ((اوغان)) او ((افغان)) درې واړه نومونه په خپل اثر (شاهنامه) کې يادوي. دغه راز مسعود سعد سلمان د ((افغان)) او ((کشورافغان)) نومونه راپېژني.

اچ کرن په ۱۸٦۹م. کال د ((برى هات سمهيتا)) اثر په انګريزي وژباړه او د (( اوګان)) لفظ يې د افغان په بڼه ژباړلی او ليکلی دی او دا ددې معنا لري چې د اوګان لفظ او د افغان نوم بيخي سره يو شی دي.(۱۳: ۵۵مخ)

د سر اولوف کارو په قول، سياح البيرونی د پښتنو په باب د يهوديت نظريه او يا په قيس پورې چې د هجرت په ۴۱هـ ق. کال د ۸۷کالو په عمر مړ شوی دی د سړبن، بېټني او غرغښت د ترلو نکل او کيسه ردوي.( ۱٦: ۲۰ــ ۲۷مخونه)

په پای کې خپله مقاله د فرانسوی ليکوال، بارون کارون کاردو په هغه ستاينه ختموم چې د خپل اثر ((اسلامي مفکرين) په پنځم ټوک کې يې د علامه بيرونی د شخصيت په باب ليکلې ده. دی ليکی چې اوس د لومړۍ درجې له فضلاوو څخه د يوه تن د ژوند پېښې ليکم چې د منځنيو پېړيو په علم او ادب کې ځرګند مقام لري، دا پوهاند ابوريحان بيرونی دی، سره له دې چې د ده له وخته ډېره زمانه تيره شوی ده، خو بيا هم د فکر په لحاظ ځلمی ښکاري او داسې برېښي چې زموږ د عصر له فاضلانو څخه وی.

په علومو او ادبياتو کې د ده دتحقيق او تتبع لاره او فکر د اوسنيو پوهانو د څېړنې سبک او تفکر ته ورته دی.

ابوريحان په انتقاد، ذکاوت، د پېښو د علتونو په تحليل او د څېړنې او پلټنې سره په زياته مينه کې ممتاز مقام لري، د ليؤنارد دووينچي او لايپ نيتز په شان دی، په حکمت، تاريخ، رياضياتو، نجوم، جغرافيه، په شعر شاعرۍ او د مختلفو ژبو په پوهېدلو کې منلی استاد و، د ده د آثارو له کتنې څخه دا

ثابتيږي چې د ښېړنې حسن او د فلسفې ذوق يې سره ګډ کړي دي، دا پوهاند په منځنيو پېړيو کې هم د لويديځو هېوادونو پوهانو پېژند او د ده نوم د هر پوهاند په خوله کې و.( ۹: ۵۴ـ ۵۵مخونه)

دغه راز بيرونی په ((آثار الباقيه ۳۹۱هـ .) کې د يوه رښتيني مؤرخ په توګه ځلېدلی دی او د دغه تاريخي اثر په سريزه کې د تحقيق او ښېړنې پر اصولو او طريقو باندې غږېدلی دی. دی ليکي چې د مختلفو قومونو د تاريخونو او د هغوی تر منځ د اختلافونو، تاريخي ورځو، رواجونو او رسومو د مطالعې او ښېړنې لپاره په کار دي چې د پخوانيو قومونو اخبار، پېښې او روايات وښېړل شي او ځانونه ورباندې وپوهوو، دغه مقصد او هدف يوازې په عقلي استدلال (استدلال بالمعقولات) يا د محسوساتو له مشاهدې څخه په قياس کولو لاس ته نه شي راتلای، بلکې دغه هدف د کتابونو او ملتونو د خاوندوانو په متداولو او سمو افکارو باندې له خبرويدلو او د دغو معلوماتو په اساس په خپل ځای له غور کولو څخه په لاس راتلای شي. او سربېره پردې په دغه برخه کې په خپله د دوی د مختلفو قولونو او افکارو موازنه ضروری ده.

تر ټولو مخکې اړينه ده چې مؤرخ خپل نفس له هغو عوارضو او اسبابو پاک وساتي چې د حقايقو درک او ليدلو ته زيان ورسوي، د بېلګې په توګه ځان غوښتنه، تعصب، د برتری جذبه، د شخصی مقاصدو د حاصلولو فکر او داسې نور..... په هر حال ما پېښې او ممکن الوقوع روايات او اخبار تصور کړل، سم روايات مې ومنل، خو په دې شرط چې نور شواهد هغه باطل نه کړي ...... (۱۷: ج مخ)

د بيروني له وينا څرګنديږي چې په تاريخ ليکنه کې مستندو او حقيقي معلوماتو ته ډېره پاملرنه کوي او په کوم ځای کې چې د مختلفو قومونو او روايتونو سره مخامخ شوی د هغوي تر منځ يې پر تلنه او مقابله کړې ده او د هغوی له منځ نه يې خورا مستند او موثق انتخاب کړی دی او د هغوی په تحليل، ارزونه، ښېړنه، تفسير او ليکنه يې پيل کړی دی.

باید ووایم، چې ابوریحان سربېره پردې چې د افغانستان او نړۍ د څېړنې او لیکنې په ډګر کې یو نومیالی مؤرخ و، په (۱۳) مروجو او متداولو ژبو باندې پوهېده، د علم او پوهې (۳۴) رشتې یې احاطه کړې وې او د (۱۰) علومو موسس و.(۴: ۱مخ)

**پایله**

ابوریحان البیروني د ۹۷۳ــ ۱۰۴۸میلادي کلونو تر منځ (۷۵) کاله ژوند او علمي هلې ځلې وکړې چې په پایله کې یې ځان افغانستان او نړۍ ته د یو لوی عالم او مؤرخ په توګه ور وپېژند. دا نومیالی مؤرخ نه یوازې په (۱۳) ژبو پوهېده، بلکې د خپلې زمانې د علومو (۳۴) رشتې یې احاطه کړې وې او د هغو له جملې نه د (۱۰) علومو موسس و او (۱۹۵) علمي او څېړنیز آثار یې په میراث را پرېښي دي.

بیروني د افغانستان د یوه نومیالی مؤرخ په توګه په علومو کې د یوه ځانګړی سبک او روش خښتن و، په دې ډول چې هر علم یې د هماغه علم د ځانګړی میتود او روش پر بنسټ مطالعه او څېړه. د هغه د علمي څېړنو میتود پېژندنه د ټولنیزو او انساني پدیدو په پېژندلو کې پر علمي روح ولاړه، مستند رښتیني تاریخي اسناد او روایتونه د هغه د لیکنو بنسټ جوړاوه. ده ویل، چې «نه باید د هغه څه په اړه چې علم نه ورباندې لرو، حکم صادر کړو».

دی د یوه مؤرخ په توګه د ((حقیقت)) رښتینی دوست او پلوی و او په دنیا کې یې هېڅ شي ته پر حقیقت باندې تر جیح نه ورکوله او د هېڅ مقصد او غرض لپاره یې پر حقیقت سترګې نه پټولې، د خرافاتو پر ضد یې په خپلو ټولو لیکنو کې غوڅه مبارزه کوله. هغه د دې پلوی و چې لیکنې باید پر واقعیتونو ولاړې او نقادانه وي، راوی او حکایت کوونکی باید امانتداره وي. په علمي څېړنو او لیکنو کې باید د بې طرفۍ اصل وساتل شي او د هېڅ ډول تعصب پلویتوب و نه شي.

بيرونى د يوه پوه، ځيرک او دراک مؤرخ په توگه په خپلو علمي ليکنو کې له نقد او مقابلې څخه هم کار اخيستى دى. هغه د ((كتاب الهند)) په ډېر مهم تاريخي اثر کې له دوو ميتودونو يعنې له ساحوي (ميداني) او كتابتوني، يا په بل عبارت له مكتوبي او غير مكتوبي منابعو څخه گټه اخيستې ده. نوموړى دغه راز مكتوبي منابعو ته په ځانگړې ارزښت قايل و او په دې نظر و چې ((كتاب ليكنه د پوهې د ساتلو يو ډول دى او نږدې ده چې له گفتاري روش څخه لوړه وي، كه چېرې په قلم ليكلي آثار پاتې نه واى، د تېرو امتونو اخبار له كومه ځايه موږ تر لاسه كول؟))

ابوريحان اليبرونى سره له دې چې د خپلو مشاهدو او اورېدو پايلې په خپلو آثارو کې راغونډې کړې، خو د مختلفو مباحثو په شرح کې يې د هغو منابعو نومونه راوړي دي چې گټه يې ترې اخيستې ده. د بېلگې په توگه بيرونى په خپلو كتابونو کې له حمزه اصفهانى، جرير طبري، ابن خردادبه، له مشهورو او لويو منجمانو، لكه ابو معشر بلخى څخه يې مطالب نقل کړي دي.

ابوريحان پخپله تاريخ ليكنه کې هڅه کړې ده چې د حقيقي پېښو په ضبطولو کې ډېر دقت وکړي او په هغه ځاى کې چې له څو بېلابېلو قولونو سره مخامخ شوى دى، هغوي يې يو تر بله مقابله کړي او له هغوي يې خورا موثق انتخاب کړي دي او د هغوى په څېړنه او تفسير يې پيل کړى دى.

**وړانديزونه:**

۱ــ بيرونى (۱۹۵) كتابونه ليكلي دي چې يوسلو څلور نوى يې په عربي او يوازې يو كتاب (التفهيم) يې په دري ليكلى دى، بنا پر دې د افغانستان د علومو اكاډمۍ د ژباړې مركز ته وړانديز كوم چې د بيرونى نور كتابونه پښتو او دري ژبې ته وژباړي.

۲ــ دغه راز له علومو اكاډمۍ څخه هيله كوم چې د بيروني ورک كتابونه، لكه تاريخ محمود غزنوي او تاريخ خوارزم د پلټنې كار پيل کړي او كه امكانات وو چې دغه تاريخي آثار په لاس راشي.

## مأخذونه

۱ــ عميد، حسن، فرهنگ عميد، جلد دوم، چاپ دهم، تهران: چاپخانه سپهر، ۱۳۸۴.
۲ــ مندوزی، محمد ولي، اخلاق او هومانيزم، افغانستان د علومو اکاډمی، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦۷.
۳ــ زرين کوب، عبدالحسين، تاريخ در ترازو، تهران: انتشارات امير کبير، ۱۳۸۳.
۴ــ د ابوريحان البيرونی په اړه د نړيوال سيمينار د جوړولو علمي کمېټه، چکيده، کابل: سروش کتاب پلورنځی، ۱۳۹۷.
۵ــ انصاری، خواجه بشيراحمد، (( انديشه تسامح و همزيستی البيرونی)) مجموعه مقالات سيمنار بين المللی ابوريحان بيرونی، کابل، ۱۳۹۷.
٦ــ دهخدا، علی اکبر، شرح نابغه شهرايران ابوريحان محمد بن احمد خوارزمي بيرونی، وزارت فرهنگ، تهران: چاپخانه مجلس، ۱۳۲۴.
۷ــ آريانا دايرة المعارف (دوره دوم)، جلد اول، اکادمی علوم ـ رياست دايرة المعارف، کابل: مطبعه نبراسکاه، ۱۳۸٦.
۸ ـ ساپی، عبدالغياث، ((البيرونی او پر اقليم باندې اغېزمن لاملونه))، مجموعه مقالات سيمينار بين المللی ابوريحان بيرونی، کابل، ۱۳۹۷.
۹ــ محفوظ، حسين علي، ((الجماهر، د البيرونی د افکارو او عقايدو آئينه)) د افغانستان د نوميالی علامه ابوريحان البيرونی د زېږيدنې په رزمه کليزه کې د مقالو مجموعه، د افغانستان اکاډمي د پښتو د انکشاف او تقويې رياست، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۲.
۱۰ــ اشرفيان، ((بيرونی د هند د طبقاتي تعصبونو په باره کې، ژباړن: منديزی شينواری، البيرونی و هند (د مقالو مجموعه)، د افغانستان اکاډمي او تاريخ ټولنې خپرونه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۲.

۱۱ـ برنی، سید حسن، ابوریحان البیرونی، ژباړن: عبدالاحد عارض، د افغانستان د پښتو د انکشاف او تقویې ریاست، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۲.
۱۲ـ البیرونی، ابوریحان محمد بن احمد، فی تحقیق ماللهند من مقولة مقبولة فی العقل او مزدولة، حیدرآباد دکن: مطبعه مجلس دایرة المعارف الهثمانیه،۱۹۵۸.
۱۳ـ تږی، حبیب الله، پښتانه، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳٦۲.
۱۴ـ حبیبي، عبدالحی، جغرافیای تاریخی افغانستان، پشاور: مرکز نشراتی میوند، سبا کتابخانه، ۱۳٦۲.
۱۵ـ څدارن، محمد شریف، پښتانه په تاریخي آثارو کې، کابل: چهاردهي مطبعه،۱۴۰۰.
۱٦ـ کارو، سراولف، پښتانه، د الحاج شیرمحمد کریمي ژباړه، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۸۷.
۱۷ـ بیرونی، ابوریحان، آثار الباقیه، چاپ ششم، ترجمه: اکبردانا سرشت، تهران: مؤسسه امیر کبیر، ۱۳۸۹.
۱۸ـ محمود، شاه محمود، تاریخ نویسی در افغانستان، چاپ اول، پوهنتون کابل، ۱۳۷۷.

سرمحقق عبدالجبار عابد

# عوامل کودک آزاری راه های پیشگیری و پیامدهای آن

# Factors of child abuse, ways of prevention and its consequences

***Senior Research Fellow Abdul Jabar Abid***

**Abstract**

Children are the most beautiful creatures that are unfortunately abused in many societies. Child abuse is actually a crime and it is against the command of Almighty God, who has given rights and privileges to all human beings, including children. In fact, the environment is the bed of child abuse, which starts from the family to the human society, and the lack of compliance with the rules in the society can become the basis of this unethical phenomenon.

The effective factors in the phenomenon of child abuse can be divided into three groups, one group is caused by the child's physical condition, the child's behavioral and mental problems, the child's illegitimacy, the child's unwantedness, another group is the factors caused by the society and its problems; Such as economic poverty, cultural deficiencies and problems, legal deficiencies and ambiguities, problems of the educational environment,

lack of supervision of child care centers and their support, ideological and Islamic weakness. A group is also caused by the condition of the parents; Such as the lack of parents' educational skills, mother's employment and her educational weaknesses, economic and financial pressures, addiction, divorce, mental and physical illness, as well as family disputes and...

Child abuse differs in each society according to its cultural and social structure, but its consequences are felt equally in all societies, these consequences can be psychological consequences or physical or social consequences.

**خلاصه**

کودکان زیباترین موجوداتی اند که متأسفانه در زیادی از جوامع مورد اذیت و آزار قرار می گیرند. کودک آزاری خود در حقیقت جرم بوده و خلاف امر خدای متعال می باشد که حق و حقوقی را برای همه انسان ها منجمله کودکان عنایت فرموده است. محیط در حقیقت بستر کودک آزاریست که از خانواده شروع تا اجتماع انسانی را در بر می گیرد، همچنان عدم رعایت قوانین درجامعه می تواند زمینه ساز این پدیده غیر اخلاقی شود.

عوامل مؤثر در پدیده کودک آزاری به سه گروه قابل تقسیم اند، گروهی ناشی از وضعیت جسمی کودک، مشکلات رفتاری و روانی کودک، نامشروع بودن کودک، ناخواسته بودن کودک، گروهی دیگر عوامل ناشی از جامعه و مشکلات آن است؛ مانند فقر اقتصادی، کمبودی ها و مشکلات فرهنگی، نواقص و ابهامات قانونی، مشکلات محیط آموزشی، فقدان نظارت بر مراکز نگهداری کودکان و حمایت از آنها، ضعف عقیدتی و اسلامی. گروهی نیز ناشی از وضعیت والدین است؛ مانند فقدان مهارت های تربیتی والدین، اشتغال مادر و ضعف های تربیتی او، فشارهای اقتصادی و مالی، اعتیاد، طلاق، بیماری روانی و جسمی و نیز اختلافات خانوادگی و...

کودک آزاری در هر جامعه نظر به ساختار فرهنگی و اجتماعی آن فرق می کند، اما پیامد های آن در تمام جوامع به طور یکسان محسوس است این پیامدها می تواند پیامدهای روانی یا پیامدهای جسمانی و یا هم اجتماعی باشد.

**مقدمه**

کودک آزاری پدیدهٔ است که متأسفانه در تمام جوامع موجود بوده و مشکلات زیاد را می تواند هم به خود کودکان، و هم در اجتماع به میان آورد. کودک آزاری زیاد تر در کشور های که تطبیق قانون در آن جا کم رنگ است زیاد تر دامنگیر کودکان می باشد.

کودک آزاری عوامل زیاد دارد که می توان از عوامل اقتصادی، ترس، اعتیاد والدین، فقدان مهارت های تربیتی، مشکلات محیط آموزشی، بیماری های روانی و جسمی، طلاق، اختلافات خانواده گی و ... یاد آور شد.

والدین از مهمترین و حیاتی ترین مؤلفه های پرورش و تربیت کودک است. چنانچه والدین نقش اساسی خویش را ایفا نکنند و یا هر گاه تربیه سالم نداشته و آماده چنین کاری نباشند، نمی توانند به طور مناسب با فرزندان خودشان برخورد نیکو داشته باشند که نتیجه چنین تربیت ضعیف و شیوه های برخورد نامناسب والدین و غیر قابل انتظار آنان نسبت به کودکان عواقب وخیم داشته و می تواند نوعی ازکودک آزاری باشد.

در این مقاله ضمن پرداختن به تعریف های از کودک آزاری سعی شده تا علل و پیامدهای کودک آزاری نیز واضح گردد. امیدوارم داشته های این مقاله برای خواننده گان مفید و برای اجتماع انسانی پیامی برای جلوگیری و دوری از این عمل ناشایست داشته باشد که اخلاق و شخصیت انسان را ضعیف جلوه داده و اجتماع از بابت آن آسیب می بیند.

**سوال تحقیق**

عوامل وپیامد های کودک آزاری چیست؟

**مبرمیت موضوع**

کودک آزاری یک پدیدهً نهایت بد در تمام جوامع انسانی قلمداد می شود که هرگاه در هر جامعه جلو آن گرفته نشود هم فرد و هم اجتماع متضرر شده و پیامد های ناگوار را در قبال خواهد داشت. بناءً عوامل کودک آزاری باید مشخص شود و راه های بیرون رفت از این معضل بزرگ اجتماعی باید جستجو گردد.  والدین که کلید تربیه سالم و ناسالم در اجتماع محسوب می شوند باید به طور مشخص بفهمند و بپذیرند تا در راستای جلوگیری از عدیده مشکلات اجتماعی و فامیلی که کودک آزاری جزء آن است اقدامات جدی و سالم را روی دست گیرند که بررسی این همه در حقیقت مبرمیت موضوع را تشکیل می دهد.

**هدف تحقیق**

چون کودک آزاری یکی از پرابلم حیاتی محسوب می شود که متأسفانه جامعۀ ما از این بابت نیز متضرر است، بناءً ضرورت است تا راه های جلوگیری آن جستجو، همچنان سطح آگاهی جامعه باید بلند برده شود تا تربیه سالم کودک در فضای عاری از آزار و اذیت مساعد گردد.  که پرداخت به این همه مشکلات در حقیقت هدف موضوع را نمایانگر است.

**شیوۀ تحقیق**

این تحقیق بر مبنای شیوۀ توصیفی و تحلیلی با استفاده از کتب دست داشته صورت گرفته است.

**کودک آزاری چیست؟**

هر گونه فعلی که باعث آزار روحی و جسمی و ایجاد آثار ماندگار در وجود یک طفل شود کودک آزاریست. و یا کودک آزاری عبارت از آسیب یا تهدید سلامت جسم و روان و یا سعادت و رفاه و بهزیستی کودک به دست والدین یا افرادی که نسبت به او مسئول هستند، می باشد.هرنوع رفتار یا کوتاهی در انجام

عملی که سلامت بدنی، روانی و رشد طفل را به مخاطره اندازد کودک آزاری گفته می شود.(۱۵: انترنت)

در اصطلاح متخصصین بخش روانی - هرگونه آسیب جسمی، روانی، سوء استفاده جنسی یا بهره کشی و عدم رسیده گی به نیازهای انسانی افراد زیر ۱۸ سال توسط افراد دیگر کودک آزاری تلقی می گردد؛«هر گونه عملی که سبب مغشوش ساختن افکار و جسم کودک شود می تواند ناراحتی های روحی و جسمی را بار آورده اختلال فکر و تشویش را زیاد سازد و مزاج را از خط راست صحت و اعتدال منحرف کند و منشاء بیماری های مختلفی شود، کودک آزاریست.»(۵:ص۴۸۵) برخی از آثار کودک آزاری می‌تواند مخفی باشد، چون ممانعت از حاضر شدن کودک در صنف درسی، محروم کردن او از غذا، حبس در اتاق و یا جای دیگر این ها همه اشکال مخفی کودک آزاریست. لت و کوب و تجاوز جنسی به کودک هم از انواع کودک آزاری فیزیکی محسوب می شود. (۱۵:انترنت)

گیلمور می گوید که کودک آزاری زمانی اتفاق می‌افتد که با عملی سلامت جسمی، روانی و عاطفی کودک تحت تأثیر قرار گیرد. در تعریف سازمان جهانی بهداست آمده که هر گونه بدرفتاری فیزیکی و یا عاطفی، سوءاستفاده جنسی، غفلت یا رفتار همراه با بی‌توجهی یا استثمار تجاری یا سایر انواع استثمار، که منجر به آسیب واقعی یا احتمالی به سلامت، بقاء، رشد یا کرامت کودک در زمینهٔ روابط یا مسئولیت، اعتماد یا قدرت شود، کودک آزاری گفته می شود.(۱۳:انترنت)

کودک آزاری را به چند گروه تقسیم می کنند. کودک آزاری جسمی- مثل حمله فیزیکی، پرتاب کردن کودک به جای دیگر، جراحت جسمی به کودک وارد کردن، بریده گی، کبودی، شکستگی استخوان و. . . که برای کودک قبل از سن ۱۸ سال توسط افراد بزرگسال ایجاد گردد. کودک آزاری عاطفی- بی توجهی به نیازهای عاطفی کودک، طرد کردن کودک، اعمال خشونت

خانواده گی در حضور کودک، خوردن نوشیدنی های غیرمجاز توسط والدین در حضور کودک، استفاده از مواد مخدر در حضور کودک و. . . که کودک را از نظر عاطفی مورد آسیب قرار می دهد. مسامحه یا سهل گرفتن عاطفی: بی توجهی و غفلت نسبت به کودک، فراهم نکردن حفظ الصحه، مسکن، مراقبت طبی مناسب، و تحصیل می تواند کودک آزاری باشد. کودک آزاری جنسی- هرگونه آزار جنسی درگیر کردن کودک در فعالیتی که باعث ارضای فرد بزرگسال گردد، تحمیل جنسی بر علیه کودک که فاقد تحول شناختی، هیجانی و جسمی است. لمس، بوسیدن، وادار کردن کودک به دیدن روابط دو فرد بزرگسال، اجبار به برهنه شدن، عکس گرفتن از بدن کودک، نشان دادن عکس از افراد برهنه به کودک را می توان از انواع کودک آزاری جنسی محسوب نمود.

بدترین و شنیع ترین نوع کودک آزاری همانا کودک آزاری جنسی است که کودکان از بابت این نوع اذیت و آزار بسیار رنج می برند. بعضی مشخصه های در وجود آنان نمایان می شود از قبیل ترشح، زخم و خون‌ریزی و آسیب در ناحیه مقعد به خصوص وقتی تکرار شود، عفونت ادراری مکرر، پیدا شدن اشیا مختلف در واژن یا مقعد، بازبودن غیرعادی مقعد در حین معاینه طبی، بارداری در نوجوانی، بیماری‌های آمیزشی وقتی کودک به سن آمیزش جنسی نرسیده باشد، شب ادراری یا شب مدفوعی که قبلاً وجود نداشته، خود آزاری و آسیب زدن به خود(کودک)، فرار، پرخاشگری و خشونت بدون دلیل، انزوا، در خود رفتن، سکوت و تلخی، از دست دادن دوستان، نرفتن به مکتب، خودکشی، بی توجهی و غفلت. (١٤:انترنت)

عوامل کودک آزاری زیاد است که می توان از وضعیت فیزیکی کودک، بیماری های روانی و جسمی، نا توانی جسمی یا معلولیت، اختلالات رفتاری، ممانعت از تحصیل، ترس، مشکلات محیط آموزشی، ضعف قوای ذهنی، اعتیاد والدین، طلاق، اختلافات خانواده گی، مشکلات فرهنگی، خانواده

های پرجمعیت، فقدان مهارت های تربیتی، باورهای سنتی غلط بخاطر تنبیه کودک و غیره نام برد که چندی آن ایجاب تفصیل بیشتر را می نماید.

۱- علل اقتصادی

عوامل اقتصادی یکی از عوامل کلیدی در رابطه به کودک آزاری محسوب می شود. کودکانی که در خانواده‌های فقیر زنده گی می کنند، به دلیل شرایط و محدودیت های موجود از ایمنی کمتری نسبت به دیگر کودکان برخوردارند نیازهای صحی، تغذیه، آموزشی و روانی این کودکان به خوبی برآورده نمی شود و تحت تأثیر فضای نا مساعد زنده گی قرار می گیرند. از سوی دیگر، فقر، سلامت جسمی و روانی خانواده را نیز به خطر می‌اندازد. در شرایط نامناسب اقتصادی احتمال به دنیا آمدن کودک نارس و عقب مانده ذهنی افزایش می یابد. این امر خود به خود کودک را در معرض خطر خشونت از جانب والدین قرار میدهد.

۲- اعتیاد والدین

در خانواده های که پدر یا مادر در بدترین شکل ممکن یکی یا هر دو معتادند، اولاد ها تحت شرایط گوناگون مورد آزار قرار می‌گیرند. والدین معتاد قادر به دنبال کردن یک الگوی رفتاری صحیح با فرزندان خود نیستند. گاه قبل از استفاده از مواد مخدر زمانی که تحت فشار قرار می‌گیرند در برابر کوچک ترین عمل فرزندانشان واکنشی خشن از خود نشان می دهند و ممکن است زمانی که پس از مصرف مواد مخدر به آرامش رسیدند به کودکشان به شکل افراطی محبت کنند. به علاوه معتادان از نظر عاطفی نابالغ، عصیانگر بی قرار و دارای احساسات خصومت زا هستند. همچنین آنان افرادی مضطرب اند که احساس بی کفایتی و تنهایی می کنند. این گونه احساسات و آن گونه تأثیرات ناشی از مصرف مواد مخدر وغیره می تواند کودک را به شدت در معرض خطر قرار داده و آزار دهنده باشد.

اعتیاد والدین به دلیل خصوصیاتی که در ایشان ایجاد میکند، مانند پرخاشگری، بی مسئولیتی، کاهش عاطفه و... سبب میشود تا کودکان، بیشتر مورد سوء استفاده قرار گیرند. وجود گستردهٔ معتادین که بیشتر آنان پدران و نان آور خانه هستند، سبب می شود تا اغلب آنها به دلیل مصرف مواد مخدر، تعادل روانی خود را از دست داده و خشونت خانواده گی را دامن زنند. که چنین خانواده ها به یک یا دو نمی رسند، بلکه هزارها خانواده می تواند در جامعه سراغ گردد که معتاد بوده و فضای خانواده گی شان همیش مکدر میباشد. اعتیاد، به ویژه در خانواده های فقیر، توانایی های تربیتی والدین را ساقط کرده و ایشان را در شرایطی قرار می دهد، که همواره به خود زحمت فکر در عمق اعمال خویش را نمی دهند و آسانترین و سریعترین راه را برای سرکوب اعضای خانواده منجمله کودک انتخاب می کنند. ایشان به دلیل نیاز مالی مرتکب سوء استفاده از کودک در اموری؛ چون فحشاء، تکدیگری، نقل و انتقال مواد مخدر می شوند.

۳- ممانعت از آموزش

تعلیم حق هر کودک است تا بتواند بیاموزد و در آینده مصدر خدمت برای جامعه خود گردد. حق تحصیل برای اتباع هر کشور در قوانین شان تسجیل یافته و ممانعت از تعلیم در حقیقت نوعی خشونت یا کودک آزاری محسوب می شود که باید از آن اجتناب شود. حتی در بسیاری از کشورها تعلیم را برای کودک به اندازه ضروری می دانند که هر گاه والدین ممانعت را ایجاد نماید از حبس تا جریمه نقدی برای آنان پیشبینی شده است.

٤- مشکلات فرهنگی

برخی از سنت های غلط فرهنگی، منجر به کودک آزاری می شوند، که اضافه تر در مناطق روستایی معمول است و آن این که دوقوم بین هم دشمنی پیدا می کنند بخاطریکه این تنش ها پایان یابد دختران قربانی این جنگ ها شده و عروسی می شوند که بعداً در خانوادهٔ شوهر موجب طعنه زدن ها و دها

مورد دیگر می شود که چنین طعنه ها و بد گفتن ها هرگاه ادامه پیدا نماید بعد ها بالای روحیه کودک تولد شده تأثیرات سوء را به جا گذاشته که این خود نوعی از کودک آزاری است. ویا سنتهایی چون تجمل گرایی، مدگرایی، عریان پوشی، بی توجهی به پوشش مناسب دربرابر سایرین به غیر از اعضای خانواده، هر یک موجب به وجود آمدن تنش هایی در خانواده ها می تواند شود که یکی از قربانیان این تنش ها کودکان هستند . از سوی دیگر، ترویج بی رویه مطالب غیر اخلاقی از طریق موبایل، کامپیوتر و غیره، مرزهای اخلاقی را کم رنگ کرده وموجب آسیب پذیرتر شدن کودک در خانواده ها می گردد که بسیاری از کودک آزارهای جنسی، ناشی از عوامل مذکور است.
ذهنیت های غلط حاکم در میان برخی خانواده ها (به ویژه خانواده های با فرهنگ ضعیف) نیز یکی دیگر از موارد کودک آزاریست. برخی از والدین، تربیت کودک را منحصربه تنبیه بدنی بی حد و حصر می دانند. از دلایل وقوع بیشترین آمار کودک آزاری، یعنی کودک آزاری های جسمی و روحی در این است که والدین نمی دانند اعمال سخت گیرانه و بی رحمانهُ ایشان کودک آزاری است و گمان دارند که در جهت تربیت کودک گام بر می دارند. در حالی که ثابت شده است که تنبیه بدنی، یکی از مخربترین روش های تربیتی است. به گفته روان شناسان تداوم این خشونت ها میتواند به ترس، اضطراب و پرخاشگری در کودک، پنهان کاری، شب ادراری، عدم اعتماد به نفس و عدم قدرت ارتباط با دیگران شود. البته عدم درک و آگاهی درست از تنبیه بدنی مجاز به قانون و فقه اسلامی نیز به جای خود، مؤثر است؛ چرا که از دیدگاه تربیت اسلامی، تنبیه بدنی آخرین شیوه تربیتی است وحد متعارف آن، یعنی سرخ شدن پوست است. از آن بالاتر تنبه که جسماً و روحاً کودک را متضرر سازد مجاز دانسته نمی شود و درحقیقت نوع کودک آزاریست.«والدینی که اغلب از رویکرد تنبیهی خشن و سختگیرانه استفاده می کنند، خود را در نقش پولیس، قاضی، زندانبان، داور و یا مامور مجازات

می یابند. آنان رفتار نادرست کودک را مورد کندوکاو قرار می دهند و با رفتار خشن حتی خشونت فیزیکی و با صدای بلند و با عصبانیت کودک را سرزنش می نمایند».(۷:ص.٥٦) که چنین عمل بالای روحیه کودک تأثیر بی جا گذاشته ترس، اضطراب و دلهره را در او زیاد ساخته و کودک غرض رهایی از این همه آسیب ها به تصمیمی که نجاتش در آن متصور باشد، متوسل می گردد.

قابل ذکر است که کودک آزاری مربوط به طبقه خاصی نمی شود، فقر فرهنگی به اندازه فقراقتصادی میتواند در آن خطر آفرین باشد، به نحوی که مسئله کودک آزاری در بین افراد تحصیل کرده و با بضاعت مالی خوب هم دیده می شود. اما رقم آن در فامیل های که بی بضاعت اند و فقر اقتصادی دارند و یا این که از سواد کافی بی بهره بوده و از تربیه خوبی برخوردار نیستند در چنین فامیل ها اذیت و آزار کودکان وافر دیده می شود.

۵- مشکلات محیط آموزشی

مهمترین محیط آموزشی کودکان مکتب است. مکتب، جایی است که کودک زمان بسیار زیادی از عمر خود را در آن می گذارند. بنابراین مشکلاتی که در مکتب برای کودکان ایجاد می شود، مانند انتظار بیش از حد، ندیدن تفاوت ها، اضطراب، ترس ناشی از رقابت های شدید، تبعیض، تنبیه بدنی، تحقیر، توهین و... سبب آزارهای جسمی و روانی کودکان شده حتی باعث می گردد تا کودک به طور وقفه یی یا به طور دایمی از مکتب فرار نماید. به گفتۀ برخی از محققین، سیستم ناکارآمد ارزش گذاری در مکاتب و شیوه های تنبیهی نامناسب از عواملی است که سبب مشکلات زیاد در کودکان می شود، البته بخشی از چنین مشکلات به ناتوانی های تربیتی معلمین و سایر مسئولین در مکاتب ارتباط دارد که در نتیجه کودک متضرر شده با پیشامد نادرست مسئولین درمکتب بعضاً واکنش ها از خود نشان داده و به احتمال با عدم فراگیری دروس ویا نا توانی در یادگیری را از خود با وضوح نشان داده و می

تواند منجر به شکست تحصیلی وی گردد. چنانچه در کتاب (کودکان استثنایی) چنین آمده است:« چنین کودکان از ناتوانی خود در یادگیری واز شیوه های نادرست تنبیهی معلمین و سایر مسئولین عصبانی می شوند ودر جامعه با خشم یا رفتار تلافی جویانه عمل می کنند، همچنان روابط شان با همسالان(گروهی است که بعد از خانواده بالای شخصیت کودک تأثیر گذار می باشد و این تأثیر نسبت به خانواده که از زاویه عاطفی و محبت نسبت به کودک برخورد می کنند به مراتب شدید تر است.)(۳:ص۲۲۵) شان تغییر کرده حتی عقده حقارت یا خود کم بینی(شامل تمام مشخصاتی می شود که مظهر عدم اعتماد به نفس، حس شکسته نفسی، عدم شایستگی و فقدان اراده هستند) در آنان ظاهر می گردد که چنین کودکان وقتی بزرگ شوند یک رفتار انزواطلبانه ای را به پیش خواهند گرفت.(۵:ص۲۱۹) چنین کودکان وقتی خود را در جامعه منزوی می یابند به احتمال به کارهای غیر قانونی متوسل شوند و در آینده آن چیزی را که نسبت به خود دیده اند شاید بالای دیگران عملی سازند.»(۲:ص۲۷۷)

٦- فقدان مهار ت های تربیتی

یکی دیگر از عوامل کودک آزاری، عدم مهارت و ناتوانی والدین در برابر کنترول رفتار کودکانه کودک است. برخی از والدین، نزدیکترین راه برای اصلاح رفتارهای کودک خود را در تنبیه بدنی میبینند، که با تکرار از سوی والدین، کودک کم کم بدان عادت میکند، در این شرایط برخی والدین آگاهانه و شدید تر به تنبیه بدنی و روانی رو می آورند و تا آن جا پیش می روند، که از در لجبازی، صدمات جبران ناپذیری به کودک وارد می آورند.

در این میان، ناتوانی مادران در کنترول و هدایت رفتار کودکان نقش پر رنگتری دارد. از این رو، ضروری است تا مادران بیشتر در صدد تربیت و مهار رفتار نا مطلوب کودک خود با یادگیری روش های صحیح تربیت، باشند. اگر مادر فضای خانه را به درستی مدیریت کند، کار به جایی نخواهد کشید، که

پدر خسته از کار، متوسل به رفتارهای آزار گرانه شود. حتی مادر میتواند پدر را نیز از شیوه های مناسب و جدید تربیتی آگاه نماید و مانع خشونت او علیه کودک معصوم شود. به طور کلی والدین باید با جدیت در صدد تربیت صحیح کودک با استفاده از روش های مناسب باشند و صرفاً در صدد آن نباشند تا جسم کودک بزرگ و شکم وی پُر گردد.(١٦ : انترنت)

٧- علل عاطفی

آنچه کودک آزاری عاطفی نامیده شده، به عنوان سوء استفاده روانشناختی یا کلامی نیز شناخته می شود. کودک آزاری عاطفی یکی از رایج ترین انواع کودک آزاریست که در طول زمان ایجاد می شود و سلامت احساسی کودک را به خطر می اندازد. در این نوع از آزار کودکان والدین به گونۀ رفتار می کنند که کودک احساس بی ارزشی، تحقیر، ترس و یا گناه می کند. نمونه‌های کودک آزاری عاطفی عبارت از تحقیر و تمسخر مداوم کودک، پرخاشگری و تهدید کودک، عدم توجه و محبت کافی، ترساندن و استرس وارد کردن به کودک، تبعیض قائل شدن بین کودک و دیگر اعضای خانواده.

در کتاب (روانشناسی کودکان) آمده است:«بررسی های فراوان نشان داده است کودکانی که از نظر پیوند های عاطفی با مادر یا اطرافیان دچار فقر شدید بوده اند اکثراً به اختلالات شخصیتی، ناسازگاری های اجتماعی و نارسایی های عقلی مبتلا شده اند. این اختلالات در خانواده هایی که به عللی از هم پاشیده شده اند یا احیاناً روابط عاطفی والدین با کودک نا مساعد بوده است زیاد دیده می شود. در خانواده هایی که همبستگی عاطفی بین اعضای خانواده وجود ندارد مسلماً شرایط عاطفی متعادل و مساعد نخواهد بود و خواه نا خواه کودک همانند سازی با رفتار های نا متناسب داشته که موجب اختلالات رفتاری او می شود.»(٨:ص١٢١)

۸- طلاق

بزرگترین قربانیان طلاق، کودکانی معصومی هستند، که از مهر مادری یا لطف پدری محرومند. بخش مهمی از موارد کودک آزاری به کودکانی اختصاص دارد، که گرفتار تک سرپرستی یا سرپرست نامناسب پس از طلاق هستند. در مواردی مشاهده شده که نامادری یا نا پدری در اثر غفلت یا بی توجهی والدین، کودک را مورد آزار جسمی و یا جنسی قرار داده اند.(١٦: انترنت)

۹- بیماری روانی و جسمی

کودکانی که والدین آنان دچار بیماری های روانی و یا جسمانی می باشند، بیشتر در معرض کودک آزاری هستند. در مواردی، کودک آزاری جسمی به سبب مشکلات روانی و گاه جسمانی بوده است. در صورتی که والدین به بیماری های روانی مبتلا شوند، با رفتارهایی؛ مانند تند خویی، خشونت، ناسازگاری، بی توجهی و... که ناشی از این بیماری هاست سبب آزار کودکان می شوند.

۱۰- اختلافات خانواده گی

خانواده عبارت از نهاد کوچک طبیعی است که هسته اساسی جامعه را تشکیل میدهد.(٦:ص٣) در اصطلاح شرعی، خانواده گروه یا جمعیتی را گویند که زیر بنای جامعه را تشکیل میدهد. این نهاد از رابطه همسری یک مرد و زن تشکیل می شود، پیامد آن وجود فرزندان است همچنان پیوند های برادری، خواهری، مادری، دختری و غیره ا ز همین رابطه پیدا می شود.(۱۰:ص۱۲)

اعضای خانواده می توانند دارای روابط حسنه باشند و قاعده های زناشوهری را به طور شاید و باید آن رعایت نمایند و هم می توانند منبع جارو جنجال ها و مشاجرات شدید باشند که این روابط خراب و ناخوشایند می توانند بالای روحیه اطفال تأثیرات سوء را به جا بگذارند. گذشته از آن

ناهماهنگی میان والدین باعث می شود که کودک در کارهای خود مستقلانه تصمیم بگیرد و یا یک طرف را تأیید نماید در حالی جانب دیگر نا راحت می شود و شاید به عملی متوسل شود که در نتیجه اذیت و آزار ببیند. به گونه مثال، اگر مادر بگوید قبل از این که بیرون بروی وسایلت را جمع کن و پدر بگوید بگذار برود دوستانش منتظر هستند و حتی دروازه را بروی فرزندش باز کند. در این جا طبیعتاً کودک به جانبی رو می آورد که در آن نفع می برد یعنی تأکید پدر برای او ارجحیت دارد، زیرا زود تر می تواند برود و همبازی با همسالان خود شود. چنین عملی (نا همانگی میان والدین) در حقیقت جاروجنجال های خانواده گی را زیاد ساخته حتی باعث فاصله و مناسبات ناسالم بین زن و شوهر شده می تواند.(۷:ص۹۷)

واقعاً یکی از قربانیان مشاجرات شدید و طولانی والدین، کودکان بی گناهی هستند که در خلال این مشاجرات صدمه عاطفی و روانی می بینند. گاه در خلال مشاجرات والدین، کودکان ابزار تلافی قرار می گیرند که بر آسیب های ایشان می افزاید. اضطراب حاصل از این فضا کودک را تحت فشار شدید روانی قرار می دهد و در نهایت ممکن است ایشان را به مشکلات رفتاری و اختلالات روانی دچار کند. براساس پژوهش های که صورت گرفته نشاندهنده آنست که خانواده های که بیشتر اختلافات دارند درحاصل رقم قابل ملاحظهٔ از کودکان شان در معرض آزار جسمی و روانی قرار دارند. بناءً رفع اختلافات در خانواده بخاطر تربیه سالم و رهایی از چنگ انواع ناراحتی های جسمی روانی کودکان امر حتمی و ضروری پنداشته می شود.«عقیده بر این است که آثار سوء اختلافات خانواده گی بالای روحیهٔ اطفال تأثیر نا گوار خود را دارد، زیرا نزاع یا مشاجره یا عدم توافق والدین احساس حقارت و حس ناایمنی شدیدی در کودک تولید می کند. کودک والدین را همیشه به صورت سپری علیه مشکلات خود می داند. اختلافات خانواده گی احساس ایمنی و ارضای عاطفی کودک را از بین می برد.»(۸:ص۱۲۲)

بزرگترین حق فرزندان بر پدر و مادر، تربیت سالم واخلاقی آن ها می باشد. خوشبخت ترین پدران و مادران آنهایی اند که دختران و پسران شان را از تربیت سالم و اخلاق نیکو برخوردار ساخته و به مثابهٔ شخصیت های والا مصدر خدمت به مردم و کشور شان می سازند.«پدران ومادران و اولیای امور نسل های مسئولند تا از عواملی که از جهت منفی اثرگذار بالای فرزندان و نسل هاست جلوگیری نموده و برعوامل موثر و مفید اخلاقی بر آنها تأکید نمایند.»(٤:ص٣٤٢)

١١- سوء رفتار وغفلت

سوء رفتارعمل غیر تصادفی است که از یک بزرگسال سرزند و سلامتی یا رفاء کودک را تهدید کند.(١:ص٦٠١)

امروز ثابت شده است که در جهان سالانه بیش از ملیون مورد غفلت و سوء رفتار جسمی، عاطفی، جنسی نسبت به کودک صورت می گیرد. متخصصان تلاش می کنند تا پدیده سوء رفتار و غفلت نسبت به کودک را بر حسب تعامل تأثیرات فرهنگی و خانواده گی بشناسند.

میزان سوء استفاده با کودک در یک گروه فرهنگی بسته به این دارد که آیا آن فرهنگ، خشونت را به عنوان شیوهٔ حل تضاد اجتماعی مجاز می شمارد یا نه. به گونه مثال تنبیه بدنی در چین به عنوان یک تاکتیک پرورش کودک غیر مجاز است. بناءً خشونت کمتری در بین کودکان وجود دارد و سوء رفتار با کودک صورت نمی گیرد. در جاپان تنبیه بدنی همچنان غیر متداول است، سوء رفتار با کودک خیلی نادر است. در ایالات متحده، گرایشی در جهت استفاده از مجازات بدنی کودکان وجود دارد.

شواهد فراوانی نشان می دهد که والدین دارای سوء رفتار و غفلت نسبت به کودکان، آنهایی هستند که خود در دوران کودکی مورد سوء استفاده و غفلت واقع شده اند. نوع رفتار با والدین در دورهٔ کودکی ظاهراً رهنمود هایی در مورد شیوه های مناسب به آن ها می دهد که می تواند بعدها در تعامل

های والدین تأثیر داشته باشد. مطالعات این واقعیت را ثابت ساخته است که والدین دارای سوء رفتاردر مقایسه با والدین بدون سوء رفتار دارای الگوهای تعامل متمایزی با کودکان خود هستند. به طور مثال، تنبیه بدنی در میان خانواده های دارای سوء رفتار فراوانتر است و این پدیده در تمام گروه هایی که درآمد اقتصادی گوناگون دارند، یافت می شوند بدین معنی که عامل اصلی این پدیده ضعف یا فقر اقتصادی نیست.(۱:ص۳۰۸)

**پیامدهای کودک آزاری**

اینکه پیامد های کودک آزاری کدام ها اند، به چند مورد زیر اکتفاء می کنیم:

۱ـ پیامدهای جسمانی

خسارات جسمانی وارد بر کودکانی که آزار می بینند در واقع عینی‌ترین نمود ارتکاب جرم علیه ایشان است، نشانهٔ که همگان قادر به رؤیت و تشخیص آن اند. کودکی را که مورد خشونت جسمی قرار می‌گیرد می توان از طریق آثار خشونت واقع شده علیه وی تشخیص داد. کبودی موجود در بدن و آثار ضرب و جرح، نشانگر خوبی جهت معرفی آزاردهی وی است آنچه به عنوان نتیجه این امر بروز می‌کند، اثرات ماندگار ناشی از این اذیت ها است که گاه تا مدت ها و شاید هم به طور دایم نزد کودک آزار دیده باقی می مانند.

خسارات ناشی از جرم تنها خسارات جسمانی نیستند از هر اذیت شده یک شخص ممکن است در نتیجه ارتکاب جرم هم از نظر معنوی دچار خسارات شود و هم از نظر عاطفی متضرر گردد. اگر چه خسارات و صدمه و تعریف آن مشکل است و اثرات آن غیر محسوس می باشد اما تصور می شود که این نوع پیامد معمول تر از پیامدهای جسمی و فیزیکی باشد، تمامی انواع آزار به طور قطع در بردارندهٔ آزارهای روحی‌اند، اما می توان گفت که بسیاری از انواع رفتارها هستند که تنها از نظر روحی برای کودک مضر هستند اگر چه مشمول آزار جسمی یا جنسی نمی گردند.

۲ـ پیامدهای روانی

همان طور که برای رشد جسمانی، کودک به انواع و اقسام مواد غذایی احتیاج دارد، به همان ترتیب نیز برای رشد عاطفی خود و ورود به اجتماع احتیاج به محبت واحساسات عاطفی دارد. کودکان بیش از غذای خوب، لباس گرم و اسباب بازی و هوای آزاد، نیازمند آن هستند که مقبول والدین قرار گیرند و دوست داشته شوند و احساس کنند که به کسی تعلق دارند.

کودکان آزار دیده در محیطی رشد می یابند که نه تنها فرصت های مناسب از آنها گرفته شده، بلکه آسیب های فیزیکی و هیجانی و عاطفی جایگزین آنها شده اند. کودک در خانواده آزارگر در تعارض شدیدی بین دلبستگی به افراد خانواده، حتی افراد آزاردهنده قرار دارد، از این تعارضات آسیب های جدی بر رشد روانی ـ عاطفی او وارد می‌آورد . کودکان آزار دیده در برقراری دلبستگی‌های مطلوب ناتوان اند و فقدان همدردی با دیگران و عدم شکل گیری وجدان در آنها دیده می شود.

آنها ممکن است رفتارهای ناشایستی داشته باشند که بازتابی است از آنچه خود عمل کرده اند کودکان آزاردیده معمولاً پذیرفته اند که سزاوار آزار هستند و این خود امری است که می تواند عزت نفس پایین تر و زمینه افسرده گی و تنفر از خود را فراهم کنند. اگر کودکی احساس کند که از خانواده طرد شده و دوستش ندارند این بدترین باوری است که می تواند با خودش به مکتب ببرد، غیر از اینکه اعتماد به نفس او پایین می‌آید و دنیا برای او ناامن می‌شود و پیوندها را کاهش می دهد، یک نوع باور اشتباه در کودک ایجاد می شود که می تواند زمینه ساز هر گونه اختلال روانی باشد؛ از اسکیزوفرنی اکتسابی نه ژنتیکی گرفته تا اختلال سلوکی و تا آمادگی برای بزهکاری، که ناشی از این تفکر است که هیچ کس مرا دوست ندارد و دنیا جای امنی نیست.(اسکیزوفرنی عبارت از رفتار روان پریشانهٔ است که با از

دست دادن تماس با واقعیت، فرایند های فکری غریب و کُنش های نا مناسب متجلی می گردد). (۲:ص٨٦٨)

۳ـ پیامدهای اجتماعی

دوران کودکی، دوران نقش‌پذیری اجتماعی کودک است. در این دوران است که کودک حد و مرزهای رفتار اجتماعی و بایدها و نبایدها را می‌آموزد. نظریه رفتار بیان می دارد که اعمال انسان از طریق تجربیات یادگیری گسترش پیدا می کند . یادگیری شامل عادات و اطلاعاتی است که به عنوان نتیجه یک تجربه شخصی در ورود و انطباق با یک جامعه گسترش پیدا می‌کند.

خانواده نخستین و مهم‌ترین پایگاه تربیت فرزندان است و فرزندان بیش از آنکه حرف های پدر و مادر را بیاموزند، رفتار آنان را الگوی خود قرار می دهند . احساس و عاطفه افراد، ابتدا در خانواده جهت می یابد و شکل می گیرد اما متأسفانه برای بسیاری از کودکان و نوجوانان این نخستین پایگاه به آموزشگاه خشونت مبدل می گردد چرا که خشونت میان والدین و خشونت علیه فرزندان آموزه‌هایی برای ایشان به همراه دارد.

بدین ترتیب خانواده به همان میزانی که می تواند کودک را در فرایند جامعه پذیری یاری دهد، به همان میزان نیز می تواند فرایند جامعه پذیری کودک را ضعیف یا مختل کند یا آن را با یک نتیجه معکوس همراه سازد.

خانواده اصلی نقش اساسی در شکل گیری شخصیت آزار شونده ایفا می کند. تحقیقات ثابت ساخته است وقتی که فسادی که موجب بروز اختلال در رفتار طبیعی خانواده با طفل شود، در اغلب موارد و پس از مدتی شاهد بروز خطا کاری خواهیم بود.

برخی معتقدند که هشتاد تا نود درصد آزار دیده نوجوان در کانون های خانواده گی به هم ریخته و تجزیه شده پرورش یافته اند. جرم شناسان معتقدند که خانواده نسبت به عوامل کمک کننده در ارتکاب جرم مهم تر و

قابل توجه تر است چرا که خانواده محیطی است که کودک از زمان تولد ناچار باید مقتضیات آن را تحمل کند.

این اعتقاد وجود دارد که کودکان آزار دیده خود در آینده، والدین آزاردهنده خواهند بود. به این ترتیب کودکان آزاردیده به ویژه با استفاده از اعمال خشونت علیه ایشان، نه تنها آسیب جسمی و روانی بر آنان وارد می کند و باعث تحقیر آنان می گردد، بلکه با عادی جلوه دادن خشونت نزد آنان در آینده زمینه آزار رساندن را برای آنان فراهم می سازد . نوجوان هنگامی که با مسائل زنده گی روبرو می‌شود، واکنش هایی از خود بروز می دهد که منبع الهام آن همانا واکنش والدین او در چنین شرایطی است. بنابراین بسیار طبیعی است، کودکی که تمام دوران طفولیت خود را در سختی و مشکلات گذرانده و محبت ندیده، بعدها فردی خشن و بی‌عاطفه بارآید.

قابل ذکر است که یکی از اثرات خشونت های خانواده گی و به ویژه خشونت های علیه کودکان را می توان فرار کودکان از منزل دانست. بر اساس برخی گزارش ها، بیش از نود درصد نوجوانان به دلیل آزارهای جسمی، جنسی و روحی از خانه فرار می کنند و به دلیل قوی که آنان علت فرار شان را ناشی ازعمل آزاردهنده گان خود می دانند، زیرا آنان جرأت نمی کنند مشکلات خود را با کسی در میان بگذارند.

چنانچه در جایی آمده است:« فرار کودک یا نوجوان از منزل در واقع زیر پا گذاشتن مقررات خانواده گی است و مسلماً رفتار عادی و طبیعی نیست. فرار اغلب به ترس، خشم یا انتقام جویی در مقابل عوامل مخرب و آشفته شدن بزرگ های خانواده است که منجر به فرار کودک می شود و کودک ترجیح می دهد که به جزء خانه خود هر جایی دیگری که باشد پناه ببرد. روانکاوان عقیده دارند که فرار در واقع نشانۀ پناه بردن به چیزی دیگری است. کودک در حقیقت به دنبال مهرو محبت می رود. به عبارۀ دیگر فرار در حقیقت گریزی از کشمکش و عوامل هیجان آور است.»(۹:ص۳۵۲)

محیطناامن و پرخشونت خانه، فرزندان خانواده را از خود بیزار می کند و سبب می‌شود آنها برای یافتن محیطی آرام تر یا صرفاً به خاطردور شدن از جار و جنجال و نابسامانی ها خانه آن را ترک کنند. در این هنگام شاید به خانه دوستان، اقوام و آشنایان پناه می برند که احتمال انحراف کودک یا نوجوان فراری کمتر خواهد بود و می توان انتظار داشت که با بهبود شرایط مجدداً به خانه و زنده گی اجتماعی عادی خود برگردند. اما اگر چنین نشود، یعنی قربانی خشونت خانگی در کوچه و بازار سرگردان و در نهایت گرفتار افراد ناصالح و گروه های خطا کار شود، آنگاه ضربهٔ بزرگتر و جبران ناپذیری بر کودک و اجتماع وارد خواهد آمد، زیرا احتمال ارتکاب جرم توسط وی و یا ورود وی بر گروه ها و باند های مردم آزار و تبهکار بسیار زیاد خواهد بود. این باندها و گروه ها تبهکار و مردم آزار در حقیقت انتظار این را دارند تا کودکی خانه و کاشانه اش را رها و به آنان پناه ببرد و بیشتر فعالیت های غیرقانونی را ذریعهٔ آنان به انجام برسانند مانند کیسه بری ( کیف زنی)، سرقت، جرائم مرتبط باmواد مخدر، جرائم جنسی ، تگدی گری، ولگردی و...

کودک آزاری به هر نوعی که باشد، عمل شنیع و نا بخشودنی محسوب می شود برای این که بتوانیم از کودکان خود به شکل درست آن مواظبت کنیم ضرورت می رود تا بعضی توصیه های لازم را به والدین که پرورشگاه نخستین برای تربیه کودکان است پیشکش نماییم.

- والدین باید پرورش دهنده باشند.
- کودکان باید بدانند که آنها خاص و دوست داشتنی هستند و قادر به پیروی از رویاهای خود هستند.
- آموزش کودکان، والدین و مربیان می تواند به حفظ امنیت کودکان کمک کند.

- نظارت بر تلویزیون، ویدئو و انترنت، بیش از حد تماشای فیلم های خشونت آمیز، برنامه های تلویزیونی و فلم ها می تواند به کودکان جوان آسیب برساند. والدین همچنین باید بر فضای مجازی فرزندان نظارت داشته باشند.

- با کودکان باید صحبت شود . به کودکان اطمینان داده شود که همیشه حق داشتن امنیت را دارند و اگر آنها در موقعیت های سوء استفاده قرار بگیرند، گناه آنها نیست. وقتی کودکان بدانند که در صورت مواجهه با آزار گناهکار نیستند، راحت تر می باشند.

- در فعالیت های فرزند خود شرکت کنید و دوستان فرزند تان را بشناسید.

- وقتی کودک شما به شما می گوید که نمی خواهد با کسی باشد، این می تواند یک هشدار باشد بناءً به حرف های کودکان گوش کنید و هر چه را که می گوید باور کنید.

- به تغییرات رفتار یا نگرش فرزند تان توجه کنید.

او را تنها به خانه همسایگان، دوستان و اقوام نفرستید.

- کودک خود را با نام های صحیح قسمت های بدن آشنا کنید همچنان قسمت های خصوصی بدن را به کودک آموزش دهید و به او یاد دهید که هیچکس نباید قسمت های خصوصی بدنش را ببیند یا لمس کند.

- به کودک آموزش دهید که در صورتی که کسی او را لمس کرد و یا مخفیانه بوسید سریعاً از محل فرار کند و جیغ بزند.

- به کسی که علاقه غیرمعمول به کودکتان دارد بیشتر توجه کنید.(۱۱:انترنت)

- خانواده ها باید اطلاعات و درک صحیحی داشته باشند در مورد وجود خطراتی که از نظر آزار جنسی فرزندان شان را تهدید می کند. متاسفانه آمار و ارقام نشان می دهد که در حدود ۹۰ درصد موارد، کودک و خانواده ها شخص آزار دهنده را می شناختند و به او اطمینان داشتند و در واقع قربانی همین اعتماد خود شده اند.

- هیچگاه کودک تان را با بزرگتر از خودش (حتی افراد نزدیک و خویشاوند) تنها رها نکنید. در ایالات متحده، حدود ۵۰ درصد از مردانی که به دلیل کودک آزاری دستگیر شده اند متاهل هستند و اولاد هم دارند. پس به هیچ عنوان تنها به این دلیل که فردی خود پدر یا مادر است، او را به عنوان شخص قابل اعتماد نگاه نکنید و او را با کودک تان تنها نگذارید. یاد تان باشد کودکان در اغلب موارد هیچگاه متجاوز را رسوا نمی کنند و این خود سبب آسیب بیشتر جسمانی و روانی برای آنها است.

- به حداقل رساندن موقعیت هایی که به احتمال سوء رفتار و بروز آزار جنسی می انجامد. آزاردهنده گان اغلب خدمات خود را به تیم های ورزشی، مکاتب یا سازمان ها در ارتباط با کودکان ارائه می کنند. آنها اغلب مهارت های بین فردی خوبی با کودکان دارند و به راحتی اعتماد کودکان را بدست می آورند. خانواده ها باید در به حداقل رساندن این شرایط تلاش کنند و اگر مجبور هستند کودک شان را برای شرکت در گروپ های ورزشی و... با مربی تنها بگذارند، ابتدا از صلاحیت اخلاقی او مطمئن شوند.

- آشنایی با خُلق و خُوی کودک خود ایجادگر ارتباط صمیمی بین والدین و فرزندان است. اگر متوجه شدید کودک شما خُلق آشفتهٔ دارد با او صحبت کنید و حتماً دلیل را از او جویا شوید. والدین باید سد سکوت را بشکنند و تا حدی روابط شان را با فرزندان شان صمیمی کنند که آنها از بیان حقیقت به والدین واهمه نداشته باشند و این حاصل نمی شود جزء در یک فضای راحت و صمیمی بین کودک و والدین. والدین باید به کودکان آموزش دهند که درباره ترس و اتفاق هایی که برایشان افتاده صحبت کنند.

نکته بسیار مهمی که در این میان وجود دارد این است که وقتی کودکی ماجرای آزار دیدن را افشاء می کند چه میزان حمایتی از طرف والدین خود دریافت می کند. معمولاً کودکانی که بعد از سوء استفاده جنسی در مرکز بحران خانواده قرار می گیرند و از طرف آنها مواخذه می شوند بیشتر از

کودکانی که تحت حمایت و مراقبت قرار می گیرند، عذاب می کشند و آسیب می بینند.

- آگاهی والدین از علائم مربوط به آزار جنسی کودکان و آنها را به عنوان هشدار و زنگ خطر بشناسند. نشانه های جسمی عبارتند از برافروختگی چهره، عفونت های ادراری، سردردهای مداوم، معده درد، دل درد، خارش و التهاب در ناحیه عقب، علائم روحی، روانی و رفتاری نیز مانند ترس های شَدید، دیدن کابوس یا خواب، گوشه گیری و افسرده گی، تحریک پذیری بالا و گوش به زنگی، خشم های غیر قابل توجیه و سرکشی باید مورد توجه قرار گیرد. به دلیل ترس و یا شَدید بودن آزار ممکن است هیچکدام از این علائم به وضوح بروز نکند.

- والدین توجه داشته باشند که بعد از ماجرای کودک آزاری برخورد خود را با کودک آزاردیده تغییر ندهند بدین معنی که خونسردی خود را حفظ نمایند و هرگاه می خواهند برای پیگیری قضایی ماجرا را دنبال کنند تلاش نمایند تا حد امکان فرزند خود را به دادگاه و مراجع نظامی و قضایی نبرند چرا که حضور کودک در این مکان ها اضطراب او را بیشتر خواهد کرد و نکته بعدی اینکه وقتی فرزندتان ماجرای آزاری را که دیده است با شما در میان گذاشت، قبل از هر اقدامی از او تشکر کنید که این مسئله را با شما در میان گذاشته، به نوعی به او یادآوری کنید که او با مطرح کردن مشکل با شما شجاعتش را نشان داده است.(۱۲:انترنت)

**نتیجه گیری**

یکی از مسائل بسیار مهم و در نهایت پیچیده و ناراحت کننده کودک آزاری است که توجه بسیاری از محققین، جامعه شناسان، جرم شناسان و روان شناسان را به خود معطوف داشته است. که متأسفانه روزبروز دامن آن وسعت پیدا می کند. کودکان، افراد معصوم و در نهایت بی دفاع هستند روی همین ملحوظ همیش آسیب پذیرند و نیاز به حمایت و مراقبت جدی دارند.

یکی از انواع بسیار بد و در نهایت شنیع این پدیده همانا کودک آزاری جنسی است. افرادی که به چنین عمل متوسل می شوند در نهایت افراد فاسد، بی خبر از مزایای دینی و در نهایت خدا ناترس هستند.آنان صاحبان اخلاق نیکو و پسندیده نبوده و در جامعه افراد منفور و بد اخلاق و صاحب رذایل به معرفی گرفته می شوند. چنین افراد از تربیه خوب خانواده گی و اسلامی بی بهره می باشند، زیرا هر گاه تربیه خوب ایمانی و اخلاقی دیده باشند بناءً می توانند خوب را از بد تفکیک کرده و اعمال غیر اخلاقی که باعث تضعیف شخصیت خود شان حتی خانواده و نزدیکان شان می شود اجتناب ورزند. خدای متعال می فرماید: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا. ترجمه: ای کسانیکه ایمان آورده اید خود و خانواده تان را از(عذاب) آتش مصئون نمایید.

**مآخذ**


۱-آسلمو، ساندرا، رشد در دوران اولیۀ کودکی، ترجمه علی آخشینی، بنیاد پژوهش های اسلامی: مشهد،۱۳۷۹.

۲- دانیل. پی.هالاهان وجیمز.ام.کافمن، کودکان استثنایی(زمینه تعلیم و تربیت ویژه)،ترجمه دکتر فرهاد ماهر، انتشارات رشد: تهران،۱۳۸۷.

۳-لودی، میرزا محمد، په افغانستان کی د کورنی نظام تحلیل،اکادمی علوم افغانستان: مطبعه شمشاد، کابل،۱۳۹٦.

٤-فاضلی، عبدالحکیم، اخلاق از دیدگاه اسلام، اکادمی علوم افغانستان: مطبعه شعیب، کابل،۱۳۸۸.

۵-فلسفی، محمد تقی، کودک از نظر وراثت و تربیت،چاپ سوم،دفتر نشر فرهنگاسلامی:تهران،۱۳۸۱.

٦-مروت، محمد منیر،نهاد خانواده طبیعی یا قراردادی، مجموعه مقالات کنفرانس جایگاه خانواده در پرتو اعجاز قرآن کریم، ضمیمه مجله تبیان،ناشر ریاست اطلاعات و ارتباط عامه، اکادمی علوم،مطبعه بهیر:کابل،۱۳۹۲.

۷-مکنزی، رابرت جی ، مرزهایی برای کودکان،مترجم شهروز فرهنگ بیگوند،چاپ دوم،دیبا،تهران۱۳۸۸.

۸- میلانی فر، بهروز ، روانشناسی کودکان و نوجوانان استثنایی، نشر قومس:تهران،۱۳۸۳.

۹- میلانی فر، بهروز ،روانشناسی کودکان و نو جوانان استثنایی،قومس:تهران،۱۳۸٤.

۱۰- نوری، ویس الدین، ضرورت تشکیل خانواده از دیدگاه قرآن، مجموعه مقالات کنفرانس جایگاه خانواده در پرتو اعجاز قرآن کریم، ضمیمه مجله تبیان،ناشر ریاست اطلاعات و ارتباط عامه، اکادمی علوم،مطبعه بهیر:کابل،۱۳۹۲.

۱۱- عبدالهی، مریم ، پیشگیری از کودک آزاری-https://maryamabdollahi.com/youth/

۱۲- هفت گام برای دوری از خطر کودک آزاری، هیأت تحریریه علمی یو سی، تاریخ انتشار ۲۰۱۷/۱۲/۸،تاریخ مشاهده:۱٤۰۱/۹/۸-
https://youc.ir/-ways-to-prevent-child-abu

۱۳- تعریف جامع کودک آزاری، جمعیت امداد دانشگایی امام علی (ع)، تاریخ انتشار : ۲۴ خرداد ۱۳۹۹،تاریخ مشاهده:٦/۷۱/-۱٤۰۱-
https://sosapoverty.org/article/

۱٤- کودک آزاری - ویکی‌پدیا، دانشنامهٔ آزاد
https://fa.wikipedia.org/wiki/

۱۵- کودک آزاری، دانشیاری، تاریخ انتشار: ۲۰۱٤/۱/۱، تاریخ مشاهده:۱٤۰۲/۱۲/۱۱-
https://daneshyari.com/isi/articles/child_abuse

۱٦- پرتال جامع علوم انسانی، محمد  حسین طارمی، علت شناسی پدیده کودک آزاری، تاریخ مشاهده:۱٤۰۲/۱۰/٦-
https://ensani.ir/fa/article/

خېړنوال محمد داود ناظم

# افغاني دودونه او په اړه يې د رسنيو رول
# العادات والتقاليد الأفغانية و دور وسائل الإعلام تجاهها

**الخلاصة**

إن عادات وتقاليد أى بلد هي انعكاس واضح لثقافة وقيم ومعتقدات وإتجاهات وأهداف ذلك البلد. والمحتوى العام لهذا البحث العلمي هى علاقة هذه الموضوعات المذكورة بالإعلام ودراسة تأثيراتها على المجتمع. والقضايا الرئيسية التي دارست في هذا المقال هي التقاليد الإجتماعية وأهميتها، والعلاقة بين العادات والإعلام، وهكذا العادات والتقاليد السليمة والسيئة والمتوسطة بينهما في المجتمع الأفغاني، وأساليب مكافحة العادات السيئة من خلال وسائل الإعلام ودور الإعلام في تعزيز العادات السليمة، وغيرها من القضايا التي لو يتم الرعاية بعناية ودراستها بشكل عادل ومهني فسيتم الكشف عن الإستراتيجية المناسبة لوسائل الإعلام والمجتمع -و هذه النِكات المذكورة توضح أهمية البحث و أهدافه- وهكذا فإن تنفيذ هذه الاستراتيجية والنتائج و الإقتراحات المنبثقة من هذا البحث العلمي بكل الإخلاص والمسؤولية لن تسبب فقط لتعزيز عادات سليمة وتضعيف عادات سيئة وزوالها في المجتمع الأفغاني، بل سيثبت أيضاً ضرورته وفعاليته لوسائل الإعلام في تأصيل القيم الإسلامية والوطنية والعلمية والعملية العالية، التي سيتوحد فيها الإعلام والمجتمع معاً في الإزدهار والنجاح والسعادة والرضاء.

**لنډيز**

دودونه د يو هېواد د فرهنګ، باورونو، ليدلورو او اهدافو روښانه انعکاس دی چې له رسنيو سره يې تړاو او يو پر بل يې د اغېزو څېړنه د دې بحث عمومي منځپانګه جوړوي. عمده مسايل په دې مقاله کې ټولنيز دودونه او د هغو ارزښت، د دودونو او رسنيو تر منځ اړيکې، په افغاني ټولنه کې سم، ناسم او متوسط دودونه، د رسنيو له لارې د ناسمو دودونو په وړاندې مبارزه او د سمو دودونو د پياوړتيا لپاره د رسنيو رول او داسې نور موضوعات څېړل شوي دي چې په ځيرکانه، عادلانه او مسلکي مطالعه به يې رسنيو او ټولنې ته مناسبه تګلاره څرګنده شي. دغه نکتې د څېړنې مبرميت او موخې هم په ګوته کوي. همدارنګه د دې تګلارې او د مقالې د پايلو او وړانديزونو مخلصانه مسؤولانه پلي کول به په افغاني ټولنه کې نه يواځې د غوره دودونو د پياوړتيا او د ناوړه دودونو د کمزورتيا او له منځه تګ سبب شي بلکې د رسنيو لپاره به د غوره، اسلامي، ملي، علمي او عملي ارزښتونو په بنسټيز کولو کې هم اړين او اغېزناک ثابت شي چې په ترځ کې به يې رسنۍ او ټولنه په نېکمرغيو او بريو کې يو له بل سره راضي اوسي.

**سريزه**

زموږ ټولنه د دودونو له درکه يوه بډايه ټولنه ده چې ډېر يې ښه او ګټور دودونه دي او زموږ د ټولنې تاريخ او فرهنګ پرې وياړي خو ځينې پکې ناسم دودونه هم شته چې د بېلابېلو پخوانيو او اوسنيو عواملو له کبله په ټولنه کې شتون لري او د ټولنې فرهنګ ته تور داغونه او ټولنيز ژوند ته کړاوونه لري. رسنيو په افغاني ټولنه کې له خپلو خپرونو سره سم د نورو ټولنيزو مسؤوليتونو ترڅنګ د دودونو په اړه هم خپلې اغېزې جوتې کړې چې کله يې په ګټه او کله يې په زيان تمامې شوې دي. له همدې کبله يو څېړنيز بحث ته اړتيا ليدل کېږي چې د رسنيو او دودونو تر منځ اړيکې، زيانونه، ګټې او د هغو عوامل روښانه کړي، ترڅو رسنۍ په دې اړه خپل رسالت ته ښې پاملرونکې شي، د خپلو

فعالیتونو ریښې او ارزښتونه ښه وپېژني او خپلې رسنيزې برنامې او پیغامونه پرې بنسټیز کړي. په دې توگه به رسنۍ د ټولنې د سوکالۍ او نېکمرغۍ جوگه شي.

## د څېړنې مبرمیت

افغاني ټولنه کې د خلکو د ژوند بڼې او کړه وړه د ټولنې د بډایو دودونو له خوالو او ناخوالو څخه اغېزمن دي. وگړي او کورنۍ په ډېرو حالاتو کې مجبورېږي چې ډېر څه په ټولنه کې د شته دودونو د فشارونو له کبله ترسره کړي، که هر څومره د هغوی په کورنۍ او اقتصاد ناوړه اغېز کوي، خو سره له دې هم د دود له مخې يې په ترسره کولو کې سیالۍ کوي. همدارنگه رسنۍ هم د افغاني ټولنې د ژوند یوه مهمه برخه گرځېدلې چې په پروگرامونو او پیغامونو کې يې په بېلابېلو ډولونو د افغاني ټولنې دودونه انعکاس مومي. له همدې کبله د دودونو او رسنیو د اړیکو په اړه څېړنه خپل مبرمیت جوتوي.

## د څېړنې موخه

دغه څېړنه په دې موخه اجراء کېږي چې په ټولنه کې د سمو او ناسمو دودونو په اړه څرگند سرحد ترسیم، په اړه يې د رسنیو ونډې روښانه او رسنیو او د هغوی مخاطبینو ته په دې اړه مناسبه تگلاره وپېژندل شي.

## د څېړنې سوالونه

١- د افغاني ټولنې د دودونو په اړه رسنۍ څه رول لري؟

٢- د ټولنې سم او ناسم دودونه په کومو معیارونو وپېژندل شي؟

## د څېړنې فرضیه

افغاني ټولنه سم، ناسم او متوسط دودونه لري چې رسنیو سره يې ډېره اغېزناکه متقابله اړیکه د هغوی تر منځ په مشترکو ارزښتونو او اهدافو کې نغښتې ده.

**لومړی- ټولنيز دودونه او په ټولنه کې يې ارزښت**

دود چې جمع يې دودونه دی په لغت کې د رواج، رسم، دستور، هڅوب، کلتور، کلچر، په ډول، په څېر، په شان او غوندې معناوې افاده کوي.(۱۴:ص.۴۶۲) او په اصطلاح کې هغه څه ته وايي چې خلکو کې عادت وي او هغه په خپلو ويناوو او کړو او وړو کې عملي کوي.(۲۰:ص.۲۴)

دودونه د يوې ټولنې د ژوندانه د کړو وړو او فرهنگ يوه بډايه برخه ده چې په سمو يې فرهنگونه ځلانده کېږي، وگړو ته يې د وياړ شملې جوړوي او نورې ټولنې يې هم ترې تقليدوي؛ خو په ناسمو دودونو فرهنگونه تتېږي او وگړو ته يې د ننگ لکې او د پېغور ټکي جوړوي. په يوې ټولنه کې ښه دودونه د هغې ټولنې د بقا او نېکمرغۍ زېرى لري او بد دودونه د کمزورتيا، بدمرغۍ او حتى د له منځه تگ د خطر زنگ يې کړنگوي. له دې څخه په ټولنه کې د دودونو ارزښت، د ښو هغو يې گټې او د بدو يې زيان ښه جوتېږي. محمد حسن ساپې ليکي چې «دغه اوسني دودونه او اخلاقي خصائل د څلور زره کاله را پدې خوا له پلرونو او نيکونو په ميراث را پاتې دي.»(۹:ص.ز)

دودونه په ټولنه کې ډېرې ژورې ريښې لري چې پېړۍ پېړۍ په ټولنه کې نسل په نسل يو بل ته پاتې کېږي. د دودونو ريښې په ټولنو کې دومره پياوړې او خورې وي چې د ناسمو هغو له منځه وړل يې ډېر ستونزمن او زمان غوښتونکی کار دی«ځينې پخواني دودونه اوس هم په ځينو متمدنو او مترقي ملتونو کښې شته چه څه مادي يا معنوي گټه پکښې سړی نهويني، مگر د دې لامله چه د خُلق او عادت ځاى ئې نيولى دى څوک ئې نه شي پرېښودی. د ولس په اخلاقو، قوانينو او تربيت کښې د عُرف او عادت، دود او دستور اغېزه ډېره زياته ده او په دين او مذهب کښې ئې هم ډېر مراعات شويدی. د يوه ملت ذهني او روحي معرفت له دود او دستور سره ډېره ټينگه رابطه لري او همدغه شی يو ملت له بل څخه په معنوي او کلتوري لحاظ بېلوي. د انسان ناسته ولاړه تگ راتگ، خندا او ژړا، غم او ښادي دوستي او دښمني په هر

ځای کښې یو څه مخصوص اداب او رسوم لري چه څوک ترېنه مخالفت نشي کولی او ښه سړی یا بد سړی په همدغه هنداره کښې لیدل کېږي. څوک چه د یوه ملت ذهني حال مطالعه کوي او غواړي چه معنوي او حقیقي څېره یې ځانته معلومه کړي نو د هغه ملت په دود او دستور، رسم او رواج کښې ژوره مطالعه شروع کړي او دغه شي ته په ډېر اهمیت ګوري.»(۲:تقریظ) دا ځکه چې دودونه د هغه ملت په وګړو کې ډېرې عمیقې او دقیقې ریښې لري چې د هغو پر اساس یې افکار او کړه وړه ښه درک کېدلی شي؛ خو د سمو دودونو ساتل بیا ډېر آسانه کار دی چې په لږ زیار ډېر ذهنیتونه او وګړي پرې راټولېدلای شي او په آسانه قناعت کوي. په ټولنه کې هغه څوک د ډېر نفوذ او نورو ته د قناعت ورکولو ښه توان لري کوم چې د ټولنې په دودونو او باورونو کې ښه معلومات ولري، لکه ګل پاچا الفت چې د «پښتني دودونه» نومي کتاب په دوهم مخ کې لیکي: «په یو ملت کښې هماغه کسان په نورو باندې ډېر تأثیر او نفوذ پیدا کولی شي چه د قوم عادات او اخلاق، دودونه او رواجونه ورته ښه معلوم وي او له دغې لارې نه د خلقو له روحیاتو او نفسیاتو سره ښه اشنا شویدي.»(۲:تقریظ) دا ځکه چې هغه څه ته چې خلک په احترام قایل دي، او فرهنګي مجاورت او فکري تړاو ورسره لري په هغو رازونو او رمزونو ښه پوهېږي نو له دې لارې د خلکو زړونو ته هم په آسانه لاره پیدا کولی شي؛ چې دا په ټولنه کې د دودونو او رواجونو ارزښت او اهمیت ثابتوي.

**دوهم- د دودونو او رسنیو تر منځ اړیکې**

رسنیو او عصري تکنالوژۍ ټولنه سره نږدې کړه او یو نړیوال کلی یې ترې جوړ کړ. که پخوا دودونو د سترو دېوالونو، سرحدونو، غرونو، ګڼو ځنګلونو، دښتو، دریابونو او داسې نورو موانعو په واسطه د اړیکو د کمزورتیا او شکېدو له کبله سره توپیر کاوه، اوس د بېلابېلو رسنیو له لارې د اړیکو یا ارتباطاتو د چټکتیا له کبله دا ټول سرحدونه مات شوي او خلک سره نږدې شوي دي. که اوسنیو عصري یا تکنالوژیکو (چاپي، غږیزو، تصویري او ټولنیزو) رسنیو د

ارتباطاتو(اړیکو) د چټکتیا او پیغام رسولو په اړه ټولنه سره نږدې کړه، خو د باورونو او افکارو په برخه کې یې لا سره لرې او متفرقه کړې ده. دې رسنیو یو د بل له دودونو څخه په چټکۍ سره اطلاعات تیت او خپاره کړای شول، خو په ګډو دودونو او مراسمو کې یې سره راټول نه شول کړای؛ دا ځکه چې د دې رسنیو ارزښتونه، معیارونه او خپل باورونه سره متفاوت دي او هره یوه یې د ځانګړو هغو لپاره کار کوي، نو له همدې کبله د نړیوال فرهنګ په رامنځ ته کولو او د مشترکو دودونو په ترویجولو تر هغه نه شي توانېدلای، ترڅو بنسټونه، ارزښتونه او اهداف سره مشترک نه کړي. په رسنیو کې د ارزښتونو د تضاد د خطر په اړه محمد تقي سبحاني هم لیکي: «نن ورځ زموږ په رسنیو کې اصلي ستونزه د ارزښتونو نشتوالی نه؛ بلکې د ارزښتونو تضاد دی او همدا څورنګې ده چې ډېرو اخلاقي ستونزو ته لاره پرانیزي او له خلکو څخه د غوره انتخاب فرصت اخلي.»(۱۰:ص.۱۳)

ګډ باورونه کولای شي چې ګډ دودونه، فرهنګونه، فکرونه، غوښتنې، پوښتنې، خوابونه، نظامونه، هېوادونه، اراضي، اهداف، هیلې، آرمانونه، خوښۍ، غمونه، زغمونه، احساسات، بازارونه، لارې، سیاستونه او بالآخره یو له بل سره تړلې او زړه سواندې بشري نړیواله کورنۍ رامنځ ته کړي، چې د دې هدف او آرمان د پلي کولو لپاره د منبر طبیعي او الهي رسنۍ او په واک کې یې تکنالوژیکې رسنۍ (د ارتباط وسیلې) ډېرې اغېزناکې تمامېدلای شي.

هغه نړیوال کلی چې د متضادو ارزښتونو او اهدافو لرونکو رسنیو د زهرجنو خپرونو او تبلیغاتو د طوفان په فشارونو کې له اختلافونو، کینو، حسدونو، جګړو او تضادونو څخه چوي، د بشري ټولنې دردونه نه شي دوا کولای او په ګډو دودونو او نورو مشترکاتو کې یې نېکمرغیو ته نه شي رسولای؛ خو هغه الهي طبیعي رسنۍ(منبر) چې ارزښتونه یې د یوه الله عبادت، یوه مسیر(قبلې) ته د ټولو فزیکي او معنوي مخ اړول، د یوه کتاب(قران) په رڼا کې د علمونو او فکرونو لارې په چټکۍ سره موندل، د یوه پیغمبر په شریعت

کې ټولې نړۍ ته پيغامونه رسول، د پرښتو په واسطه تر الهي کامرو لاندې خپل ټول کړه وړه تهذيبول، د حساب کتاب، جنت دوزخ د وېرې او امېدونو تر منځ خپل ټول ژوند، دودونه، کړه وړه او فکرونه تصفيه کول او د همدې واحد ليدلوري او ايمان په فضا کې د ستر ذوالجلال عليم الخبير رب د رضاء حاصلولو په ستر ارزښت کې د ټولو برنامو او پيغامونو خپرول او منبري رسالت په سمه توګه اداء کول وي؛ بې له شکه د دې سبب کېږي چې بشري ټولنه د يوې نړيوالې مينه ناکې کورنۍ په څېر په ګډو باورونو او سمو دودونو کې سره راټوله او نېکمرغه کړي، نو ويلای شو چې تکنالوژيکې رسنۍ که د چټکو اطلاعاتو په طوفان کې نړيوال کلی جوړوي، نو الهی رسنۍ(منبر) د اخوت په بوستان کې نړيواله کورنۍ او يو واحد جسم جوړوي، لکه څنګه چې الله متعال فرمايي: «**وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا**»(آل عمران:۱۰۳)

که په ټولنه کې د رسنيو سترګه يا کامره د وګړو په لور ور اوښتې بالعکس د وګړو سترګه يا کامره هم د رسنيو په لور فعاله ده. دواړه يو بل سره څاري، نيوکه کوي، قناعت کوي او يو پر بل اغېزې ښندي؛ نو په کار ده چې دواړه لوري يو د بل د رښتينو اړتياوو، ښېګڼو او نېکمرغيو لپاره ولټېږي او دوامدار مسلکي او مسؤولانه فعاليت ولري.

رسنۍ که د ټولنې په دودونو اغېز کولای شي، په ټولنه کې شته دودونه د رسنيو پر برنامو هم پياوړی اغېز کولای شي؛ ځکه ډېرې رسنۍ داسې ليدلوری لري چې غواړي له دودونو او د خلکو له هر ډول غوښتنو سره سم ځانونه عيار او په هماغه رنګ خپلې برنامې خپرې کړي. له دې څخه څرګندېږي چې ټولنه او رسنۍ يو له بل څخه په مستمر، متقابل ډول تفاعلي اغېزمنتيا مومي؛ نو بايد دواړه لوري د خپلو نيتونو ارزښتونو، موخو، غوښتنو، پوښتنو او کړو وړو په اصلاح سره يو پر بل د ښې اغېزې په هڅه کې وي؛ په دې توګه به د دواړو تر منځ يو د حياء حجاب رامنځ ته شي چې هر يو به يې د

ساتلو کوښښ کوي او په هر خلاف کار یا خپرونې به یو له بل څخه د شرم احساس کوي. که د رسنیو او ټولنې تر منځ د داسې یوې ژمنتیا او نزاکت مکانت، فضا یا اخلاقي ترون رامنځ ته شو، نو بې له شکه چې هم به د ټولنې ارزښتونه او ویاړونه په‌کې خوندي او لا پیاوړي کیږي او هم به وګړي او ټولنه د لوړو اخلاقو او آرمانونو په هسکو پوړیو کې نېکمرغه او هیلمن ژوند ته رسیږي او رسنۍ اوټولنه به هم یو له بل سره خوښ او راضي اوسي. «دایو څرګند حقیقت دی چې دود او دستور، رسم او رواج زمونږ په ژوندانه په تېره بیا اخلاقو، قوانینو او تربیت کې ډېره برخه لري، ځکه نو مونږ یې له اغېزې بیخي وتلی نشو»(۱۵:ص.هـ) د دې لپاره چې رسنۍ هم په اوسنۍ زمانه کې د اغېزو یوه پیاوړې سرچینه ده، نو د دودونو ریښې د رسنیو له کانالونو سره په مصلحانه لیکه او اړیکه کې تنظیموو.

**دریم- په افغاني ټولنه کې سم دودونه او په اړه یې د رسنیو رول**

په افغاني ټولنه کې سم دودونه ټول هغه دودونه یادېږي چې هغه د اسلام مبارک دین سره په ټکر کې نه وي او که د اسلام مبارک دین په هغې اړه اوامر او لارښوونې ولري نو بیا خو د عبادت مقام ترلاسه کوي او ښه به دا وي چې د عبادت په موخه انجام شي، ځکه په دې توګه وګړي د هغه کار اجراء ته نه یواځې د دنیوي ګټې په موخه هڅېږي، بلکې د آخرت د اجر، ثواب او د الله تعالی د تقرب وسیله هم جوړېدلای شي. د دې ډول دودونو د عقیدوي او عبادتي اړخ په ترویجولو به موږ خپلو وګړو ته په آسانه قناعت ورکړای شو او د اجراء لپاره یې دهغوی هڅې او هېلې لا زیاتې کړو، چې د هغو اعمالو په اداء خپل ځانونه او ټولنه له سعادتونو سره مله کړای شو. د دې ذهنیت په ترویجولو کې رسنۍ اغېزناک رول لوبولای شي، دا ځکه چې رسنۍ په دوامداره توګه په هره کلمه، جمله او برنامه کې له مخاطبینو سره د فکرونو په لیکه خپله اړیکه ټینګوي.

افغاني ټولنه ډېر داسې ښه دودونه لري چې که هغه په ځیرکتیا سره په هېواد کې دننه او بهر د نورو لیکوالانو، نظرخاوندانو او څېړونکو له نظره وپلټل شي، نو د ویاړ جوغې یې تر شمشاد او هندوکشه لا لوړېږي او د پامیر په څېر د لوړو اخلاقو او دودونو هسک بام د نړۍ پرې ښایسته کېږي.

د افغاني ټولنې سم دودونه لکه حشر، مېلمه پالنه، مسافر ته ځای ورکول، زېری، نکاح، ولیمه، مهر، د مسجد جوړول، مسجدونو ته ملا نیول، مسجدونو کې درسونه سبقونه ویل، ختمونه او تراویح اداء کول، په ژمي کې د مسجدونو گرمول او مسافرانو ته پکې شپه ورکول او د هغو ښه پالنه، جرگې مرکې او مشورې، یو بل سره مرستې، صدقې، نذرونه، خیراتونه، ډالۍ ، جایزې او شاباسونه، خوانی، شیریني، عشرونه، زکاتونه، «سرواره...هغه لومړۍ خورلنې تگ دی چه واره کال میاشت پس د پلار ورور یا بل خپل په بوله...خپل پلار کره کېږي»(۱۸:ص.۱۹۰)، مشرانو ته احترام، په کشرانو شفقت، له ځانه وړو سره ځان نه وهل، اول وار نه کول، د مظلوم لاس نیوی، له فقیرانو او یتیمانو سره مرسته، د قرآن کریم ختمونه او گډونوالو ته ډوډۍ کول، د دوستانو او ملگرو په جنازو کې گډون او د دفن کېدو او د امام تر وینا وروسته هم له ویرجنې کورنۍ سره غمشریکي کول او د مرستې او خدمت په نوم ورته لاس په سینه ایښودل، د اخترونو لمانځل او یو بل کره تگ راتگ، ماشومانو ته په اخترونو کې نقدې پیسې او ډالۍ ورکول، له اخترونو څخه دمخه له بېوزلانو سره مرسته، د روژې په میاشتې کې په کورونو او جوماتونو کې د روژه ماتو د دسترخوانونو خوره مېله، په مسجدونو کې لمنځونه اداء کول، په ځانگړې توگه د جمعې او اخترونو لمنځونو کې په ښه شان او شوکت گډون کول، په اخترونو او ودونو کې د کورنۍ غړو او ځینو دوستانو او مستحقینو ته نوې جامې کول، د ناروغ پوښتنه او هغه ته مېوه یا پرهېزانه وروړل یا د درملنې په نوم هغو مریضانو ته چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي نقدې پیسې تر بالښت یا توشک لاندې ایښودل او یا یې پټې په لاس کې ور سپارل، یو دوست کره په

ډک لاس ورتګ، په لارو او عامه ځایونو کې د دین او عُرف خلاف کارونو د لیدلو په وخت کې سمدلاسه د عالمانو او مشرانو له لوري د هغو منع کول، د ټولنې د وګړو له خوا د دین او عُرف(دودونو) خلاف کارونو د ارتکاب په صورت کې شرم او حیاء کول، په ښځو او کمزورو باندې لاس نه اوچتول د مروت او غیرت نښه ګڼل او عکس یې د بې غیرتۍ او ننګ داغ ګڼل، مېرمنو ته خورا احترام او عامه چارو کې ورته اولویت ورکول، د لارو جوړول، له لارو څخه د مضرو شیانو لرې کول، رزق او روزي ته په احترام قایلېدل او یو ځخوزی هم ایسته نه اچول، په لارو کې یو بل سره سلام کلام، غوړ روغ بړ او په مینه او ورین تندي یو دبل حال پوښتل، یو بل ته د چای او ډوډۍ ست اوسلا کول، همدارنګه د محلي لوبو او ورزښتونو دود، د هېواد دین او ناموس ساتنې او دفاع دود، د غزا او جهاد دود، د وطندوستۍ او وطنپالنې دود چې له وطن څخه لرې مسافرین یې په معنی ښه پوهېږي، د مسافرینو مخې او سترې مشي ته د ورتګ دود، د حج او عمرې دود، د حلالې روزي ګټلو دود، د کور جوړولو دود، د کرنې، باغدارۍ او مالدارۍ دود، د خپل کلي او محلې، لارو او ګودرونو د امنیت ساتلو دود، د اولادونو د راوړلو او روزلو دود، اولادونو ته د ودونو او ژوند جوړولو دود، په کور کې د قرآن کریم، سپارو، تفسیر، حدیث او نورو ضروري کتابونو(کتابتون) د لرلو دود، د لارو، ویالو، څړځایونو، جرګو او مرکو خونو یا صفو د جوړولو دود، د اجرو جوړولو دود، همدارنګه په کورونو کې د یادګاري او تاریخي شیانو د ساتلو دود، د موسمي خوړو او جامو د برابرولو دود، په ښېګڼو کې یو له بل سره د سیالیو او شریکیو دود. دې ته ورته د مشرانو له خوا کشرانو ته په شفقت سره سبقونه وربښودل او هغوی ته پخوانۍ دیني او فولکلوریکې کیسې، عبرتونه، متلونه او خپلې شخصي خاطرې او تجربې بیانول، هغوی ته فرهنګي مسایل نسل په نسل انتقالول، محلي بوټو او حرکاتو باندې درملنه، په قرآني آیتونو او مسنونه دعاوو تلقیني او روحاني درملنه، د ذهني آزموینو او چستان ویلو دود چې د ټولنې په علمي او فکري

پرمختګ کې اغېزناک رول لري، يو د بل له حاله د ځان خبرولو دود او تلوسه چې په افغاني ټولنه کې ډېره ليدل کېږي، د اخلي پخلي او ګنډلو دود چې په افغاني ټولنه کې د مېرمنو لپاره يو له اصلي هنرونو او زده کړو څخه ګڼل کېږي او د نارينه وو لپاره حرفوي زده کړه ګڼل کېږي، د ښه ګاونډيتوب دود، د ښې ملګرتيا او انډيوالۍ دود او داسې نور ډېر ښه دودونه زموږ په افغاني ټولنه کې شته چې موږ ته لوړ او وړ وياړونه او افغاني فرهنګ ته مو روښانه تاج ور په سر کوي. دغسې «زمونږ د نن ورځې دودونه او رواجونه لرغونې ريښې لري او په حقيقت کې دا زمونږ د اسلافو هغه کړه وړه دي چې د يادګار په ډول نسل په نسل مونږ ته را رسېدلي دي.»(۱۵:ص.هـ)

د مثال په توګه په پښتني ټولنه کې ځينې نېک خويونه د عبدالله بختاني په څېړنه کې په ګوته شوي دي چې زه په خپل ديد او مطالعه دغه خويونه د افغاني ټولنې له خويونو څخه وينم چې ځينې هغه يې له خويونو څخه په دودونو هم اووښتي دي، لکه: ننګ او غيرت، توره، مېړانه، د قام او ټبر مينه، د وطن مينه، د مېلمه قدر، رښتيا ويل، په ځان وېسا (باور)، ښه ځواني، سړيتوب، دينداري، د آزادۍ مينه، عفت، وفاداري، ايثار او زيار ايستل.(۳:ص.۹-۷۹)

دا پرېمانه ښه دودونه او بډايه فرهنګ افغاني رسنيو ته د فعاليت پرېمانه فرصتونه، مطالب او امکانات په واک کې ورکوي چې خپل پيغامونه، برنامې، اهداف او ارزښتونه پرې استوار او پراخ کړي. په رڼا کې يې خپل فرهنګ لا ښه معرفي کړي او د ژورناليزم د فرهنګي مجاورت ارزښت له لارې د ټولنې د خوښې برنامې په لوړ درک سره جوړې او خپرې کړي. اطلاعاتي، تحليلي او ادبي ژانرونه پرې لا بډايه کړي. د هېواد رسنۍ، افغان فلم او نورې فلم جوړوونکې کمپنۍ کولای شي چې د دې بډايه فرهنګ او دودونو په ارته فضا کې مناسب پروګرامونه، پيغامون، فلمونه او سريالونه جوړ او خپاره کړي. په دې توګه به خپل اصيل فرهنګ او له وياړونو ډک دودونه او نېک خويونه په

ټولنه کې لا ریښې وزغلوي، نوي نسل ته په ښه توگه ور انتقال شي او ټولنه د پردیو نا سمو دودونو او فرهنگونو له منفي اغېز څخه وژغورل شي.

بډایه او ارت فرهنگ او دودونه د ژورنالیستیکو ژانرونو، ادبي پنځونو او رسنیزو برنامو لپاره ارته لمن او فرصتونه لري. له نېکه مرغه دغسې بډاینه او ارتوالی په افغاني فرهنگ او دودونو کې پراخ شتون لري چې د هېواد رسنۍ او هنري ډگرونه یې باید غنیمت وگڼي او د خپلو خلکو لپاره له هغو سره سم گټور څه جوړ او خپاره کړي.

**څلورم- په افغاني ټولنه کې ناسم دودونه او په اړه یې د رسنیو رول**

په افغاني ټولنه کې د ډېرو ښو او د ویاړ وړ دودونو تر څنگ  ناسم دودونه او خرافات هم زیات لیدل کېږي«خرافه...چې جمع یې خرافات گڼل کېږي له ښکارندو څخه هغه تفسیر دی چې عقل یا نقل هغه تائید نه کړي او هغوی چې په داسې اوهامو باور ولري خرافاتي ورته ویل کېږي»(۷:ص.۱٦، ۲۱) چې ډېر هغه یې له اسلام نه مخکې د جاهلیت د زمانو او پخوانیو ادیانو او فرهنگونو څخه راپاتې دودونه دي، خو ځینې نور دودونه یې د دیني نصوصو، مذاهبو او د ځینې علماوو له نظریاتو څخه د ناسم تعبیر او ناسم درک له کبله په ځان او ټولنې ورتپلي دي. مگر یو شمېر یې د اوسنیو فرهنگي او استخباراتي یرغلونو او دروني شیطاني وسوسو او د گناهونو د ارتکاب له وجهې په ټولنه کې رواج موندلی دی، لکه په خپلو خلکو او ویاړونو ملنډې وهل، د پردیو مینه، کور کورانه تقلید، له وطن څخه تېښته، بهرنیو هېوادونو ته د لوړو او زمنو په ودولو کې د سیالۍ ډگر تودول، په هر نوي او پردي باندې بې له سنجشه ویاړل، د هغو منل او پلي کول، پر سړکونو، چمنونو او گوشه ځایونو کې په نشه یي توکو د روږدو راټولیدل، د ولگردو ځوانانو او گنهگارانو بې مفهومه گرځېدل او ځای ځای ودرېدل او پړقېدل، ځینې وخت په موټرونو کې بې موجبه گډا او چک چکې کول او ترافیکي مسیرونو کې تشویش را منځ ته کول. په افغاني ټولنه کې دغه دودونه په وروستیو لسیزو کې نوي را وارد

شوي دودونه دي چې ځینې وخت تر سترګو کېږي، خو د اسلامي امارت له واکمنېدلو سره دغه ناسم دودونه ډېر را کم شوي دي.

ډېر نور داسې دودونه هم په افغاني ټولنه کې شته چې اوږدمهالې او منځمهالې تاریخچه لري لکه: ولور، کونډه د لېوره لپاره په زوره ودول، په ودونو او مړو کې ډېر لګښتونه، په ودونو کې ډزې کول، په زوره کوزده کول، بې له لیدنې او روحي توافق کوزده کول، بدل، د ماشومانو ځورول او د هغوی له ځور څخه خوند اخیستل، جیب وهل(کیسه بری)، مېرمنو ته د میراث نه ورکول، د خویندو او لورانو علم او تغذیې ته نه یا کمه پاملرنه، رشوت اخیستل، قدرت ته رسېدلو په لاره کې ناسم رقابتونه او سیالۍ، په مادیاتو فخر او مباهات، په عامو سړکونو کې یو له بل څخه د موټرو مخکې کول، په عادي مسایلو کې ضد او سرتمبه ګي، واړه مسایل تاوول او غټول، له ښېګڼو وروسته احسان بارول او پېغور ورکول، سحر او جادو، د فال لیدلو بېلابېلې لارې چارې، چل فریب، یو پر بل باندې د ټوکو په نوم ملنډې وهل او خندېدل، د ځینو اعدادو په اړه ناسم ګمانونه او د هغو پر معیار خپل کړه وړه برابرول، په خرافاتي تعویذونو، زیارتونو او بندونو کې د آزادو انسانانو بندول او غیر له الله تعالی څخه په عالم د معنی کې د رب العزت د ازادو بنده ګانو بندیوان کول، د ګمان او وهم پر اساس له بلاګانو، دېوانو او سیورو(سایو) څخه وېره، لکه چې وایي د مړي یا زچه سایه پرې کښېني، بې له کوم دیني او علمي اصل څخه خرافاتي ګمانونه او پر ځان او نورو باندې د ځینو شیانو او کارونو الزامول او د ځینو نورو منع کول، د مرغانو او حیواناتو جنګول، قمار، نصوار، سګرټ، چرس څښول او نور مخدرات کارول، په ځینو سیمو کې د مخدره توکو کر کیله او قاچاق، چې د اسلامي امارت له واکمنېدلو سره د دود د بدلون پر بنسټ نه، بلکې د امیرالمؤمنین د نهي پر بنسټ د نشه يي توکو کرکیله «پنځه نوي سلنه راکمه شوې ده»(۴:بي بي سي راډیو)، د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالی، ځینې وخت په لارو، بازارونو، موټرو، کورونو او دفترونو کې جنګونه

کول او یو پر بل باندې وارونه او بد الفاظ سره تبادله کول، په خبرو کې ښکنځلې کول، یو تربله کینه او حسد کول، حتی دښمني او وژل، په ځینې ځایونو کې د دښمنیو(بدیو) په اړه د ځانګړو خطرناکو محلي دودونو شتون، دښمنۍ کې په افراطي توګه د بدل او انتقام اخیستل، په بدو کې د ښځو ودول او له هغو سره بیا بد چلند کول، بېلابېل اخلاقي، اداري او حرفوي فسادونه، په کورونو، دفترونو او حتی مسجدونو کې یو بل پسې د غیبتونو مجلسونه ګرمول او داسې نور ناسم دودونه شته چې ټولنه ترې رنځېږي.

څېړندوی حضرت آغا همدرد په ټولنه کې له ناوړه دودنو څخه رامنځ ته کېدونکې ستونزې داسې په ګوته کوي:

«۱- ناوړره دودونه کورنۍ جدا کوي؛

۲- عاطفه او رحم په خلکو کې ختموي؛

۳- په ټولنه کې د وګړو تر منځ کرکه او نفرت پیدا کوي؛

۴- شخړې او جنګونه رامنځ ته کوي؛

د کورنیو تر منځ مینه کموي؛

٦- قتل او ځانوژنې ډېروي.

دا او دې ته ورته نورې ستونزې په ټولنه کې د ناوړه دودونو له امله رامنځ ته کېږي.»(۲۰:ص.۲٦)

څېړنوال مولوي محمد اما رسولي «ناوړه دودونه د اسلام په رڼا کې..» څېړلي چې په یوه برخه کې یې لیکي: دا چې اسلام د دې لپاره راغلی دی چې ښه خویونه او اخلاق په ټولنه کې پوره کړي او خلک په هغو وپوهول شي او د هغو لور ته دعوت او بلنه وشي او هغه په ټولنه کې په پراخه کچه خپاره او عام شي او بالمقابل د جاهلیت د وخت چې کوم دودونه، رسمونه او رواجونه دي هغه که ښه وي په خپل ځای پرېښودل شي او که ناوړه وي په ځای یې سم او سالمه کړنه عملي او مروج شي، لکه د مېلمه پالنې دود او د مقتول دیت ورکړه چې په خپل ځای پاتې شوي دي، خو د نجلۍ پیدا کېدل به عار

او شرم ګڼل کېده او هغوی به ژوندۍ په ګور خښېدلې چې دغه ناوړه دود د اسلام مبارک دین له منځه یووړ.(۸:ص.۱۰۳)

په افغاني ټولنه کې رسنۍ د داسې ناسمو دودونو په اړه اغېزناک رول لري، هم یې په زیاتوالي او هم یې په مخنیوي او کمولو کې خپل رول ثابتولای شي. که په دې اړه په هېواد کې د رسنیو د طوفان دوره -چې د امریکا او ناټو د اشغال په وخت کې خپل اوج ته رسېدلې وه- تر مطالعې لاندې ونیسو، نو له ګټو څخه یې تاوان زیات برېښي؛ ځکه چې ډېر سریالونه، فلمونه او هنري برنامې یې بهرنۍ وې؛ هغه چې نه یوازې ډېر څه یې زموږ له فرهنګ او باورونو سره تضاد درلود، بلکې د فسادونو او جرمونو په ترویج کې یې لا نور خطرناک رول هم لوباوه، جرمي استعدادونه یې لا را پارول او د حرفوي جرمونو د ښوولو تاکتیکونه یې لرل. که په هغې موده کې زموږ ځینو رسنیو د خپل هېواد برنامې هم خپرولې او یا یې خپله تولیدولې، په ډېرو هغو کې هم د هېواد فرهنګ، دودونو، باورونو، غوښتنو او اړتیاوو ته لازمه پاملرنه نه کېدله. په دې اساس د ناسمو دودونو په له منځه وړلو کې د مصنوعي یا تکنولوژیکو رسنیو رول په یاده دوره کې کمزوری ارزول کېدای شي.

د اسلامي امارت له واکمنېدلو سره که دا څېر ستونزې تر ډېره حل شوې او یو لړ زهرجن پروګرامونه او د ناسمو دودونو ترویجوونکي پیغامونه بند کړل شول، خو په بدل کې یې د ګټورو پروګرامونو، سریالونو، فلمونو د تولید لپاره هنري، فرهنګي فرصتونه او امکانات محدود شوي دي، چې دغه تشه د متوسط یا ډېر وخت په تېرېدلو سره په خپله ببرته هماغه انحرافي خپرونو ته لاره هوارولی شي، خو که چېرې همدغه تشه ژر تر ژره د مسؤولینو له لوري درک کړل شي او د داسې موادو په تولید ډکه کړل شي چې د اسلامي شریعت او افغاني فرهنګ په رڼا کې د علمي-فرهنګي بډاینې سبب شي، نو په دې توګه به رسنۍ په پوره اغېزناکۍ د ناسمو دودونو په له منځه وړلو او د سمو دودونو په ترویجولو کې خپل رول جوت وساتي. رسنیو ته هم په کار ده

چې په دې اړه د مسلکي، هنري، رواني، اجتماعي او ديني پوهانو په پوره مرسته مناسبې برنامې جوړې او خپرې کړي، ترڅو د ټولنې په دوديز حالت ښه اغېز خپور کړي چې: د ټولو رسنيو په لومړي قدم کې منبر د دښمنيو، ناوړه دودونو او جرمونو په راکمولو او له منځه وړلو کې اغېزناک رول لري.(١٦:ص.۴٦)

**پنځم- د سمو او ناسمو تر منځ متوسط دودونه او په اړه يې د رسنيو رول**

په دې کټه ګورۍ کې مې هغه دودونه راوستلي دي چې په افغاني ټولنه کې خلک پرې اختلاف لري ځينې يې سم او ځينې يې ناسم ګڼې، يا هغه دودونه چې انجام او نه انجام يې کومه ستونزه او نيوکه نه رامنځ ته کوي. دا رنګه ځينې نور دودونه دي چې ځينې يې له دين سره مطابق او ځينې يې متضاد ګڼي، لکه د مړي په سر د اسقاط وېشل، يا د نوي کال مبارکي ويل او د يو طبيعي جشن په څېر يې لمانځل. ځينې نور داسې دودونه هم پکې ګڼلای شو چې هغه خلکو ته په لومړيتوبونو کې نه، بلکې په متوسط يا ادنی حد کې برېښي، خو د بدو دودونو يا حرامو کارونو حد ته هم نه وي رسېدلي، لکه په ځينو سيمو کې ښکار کول، يا ځينو ځايونو کې انډيوالانو سره په سيل او چکر وتل او هلته ځينې هغه لوبې کول چې د سيمې خلکو ته ښې نه برېښي.

د دې کټه ګورۍ د دودونو په اړه هم رسنۍ دا رول لوبولای شي چې د ګټورو او مضرو په اړه يې دقيق تفکيک ولري، ګټور هغه يې تقويه او د سمو دودونو په کتار کې ترويج کړي او د ناسمو هغو يې په تدريج سره مخنيوی وکړي او هغه چې د دواړو ترمنځ حالت کې برېښي په خپل حال يې د خلکو عُرف ته پرېږدي.

**شپږم- د رسنيو له لارې د ناسمو دودونو په وړاندې مبارزه**

د ناسمو دودونو په وړاندې مبارزه کې به رسنۍ په دوو برخو ووېشو او بيا به يې د مبارزو امکانات، فرصتونه او لارې چارې معرفي کړو ترڅو په دې اړه ټولنې

ته د واقعي چوپړ جوګه شو. چې رسنۍ يې د پلي کېدو په وخت کې له ستونزو او ابهام سره مخامخ نه شي.

**۱- د طبيعي رسنۍ (منبر) له لارې د ناسمو دودونو په وړاندې مبارزه**

په افغاني ټولنه کې ډېر داسې ناسم دودونه، عادتونه، کړه وړه او موضوعات شته چې ټولنيز فرهنګ او ژوندانه ته زيان رسوي او ذهنيتونه ناسم لوري ته سوقوي، چې د له منځه وړلو په لاره کې يې رسنۍ ايماني، اخلاقي او قانوني مسؤوليت لري، ترڅو د خپلو خپرونو او پيغامونو له لارې ټولنه د ناسمو دودونو له زيانونو څخه وژغوري.

په افغاني ټولنه کې د ټولو رسنيو په سر کې منبر د عامه رسنيو يوه اغېزناکه وسيله ده چې په ډېر قوي باور او احترام يې پيغام د مخاطبينو زړونو ته لاره مومي، نو د ټولو رسنيو په لومړي قدم کې منبر د ناسمو دودونو په راکمولو او له منځه وړلو کې اغېزناک رول لري، ځکه له يوې خوا په منبري خپرونو کې د نورو رسنيو په خلاف د ناسمو دودونو، دښمنيو، ګناهونو او جرمونو د خپرولو او ترغيب لپاره ځای نه شته او له بلې خوا يې د پيغامونو سرچينه دالله تعالی کلام او د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث دي، هغه چې زموږ په اسلامي ټولنه کې خلک په عقيدوي لحاظ هم ورباندې ايمان لري، همدارنګه په علماوو او منبري پيغامونو باندې د خلکو د اعتماد کچه نسبت نورو رسنيو ته لوړه ده. د يوې ډګريزې څېړنې په ترڅ کې، چې په کابل او جلال آباد کې مې په ۱۳۹٦هـ ل کال کې تر سره کړې ده، څرګندېږي چې په منبري خپرونو باندې د ټولنې ۸۴٪ وګړي اعتماد لري، خو په اوسنيو رسنيو باندې ۵۹٪ وګړي اعتماد کوي.(۱۷:ص.۱۹۴-۱۹۵) چې په دې اساس د ناسمو دودونو، فسادونواو جرمونو په وړاندې د منبر له لارې مبارزه ډېره اغېزناکه برېښي. نو منبري شخصيتونه، د کورنيو او ټولنې مشران او ځينې ادارې او حتی عصري رسنۍ له همدې ادرس يا د منبر له وسيلې څخه په ګټنه د ناسمو دودونو په وړاندې په آسانه اغېزناکه مبارزه کولای شي.

ښه زېرى زموږ اسلامي ټولنې ته دا دى چې ناسم دودونه او کږه وږه د اسلام له نظره مردود او حرام دي، هغه يې بد ګڼلي او ځينو ته يې په دنيا او آخرت کې کوټلي مجازات هم ټاکلي دي، نو د اعتقادي او ايماني باورونو له لارې د ناسمودودونو په وړاندې په اسانه او ارزانه مبارزه کېدلای شي.

د بېلګې په توګه به په افغاني ټولنه کې د بديو(دښمنيو)، نفاق او د اړيکو پرېکولو ناسم او خطرناک دود تر څېړنې لاندې راولو چې څرنګه په قوت سره د اسلام له خوا مردود دود ګڼل شوی او له دې څخه په ګټنه د منبر له لارې څومره غوره مبارزه ورسره کېدای شي.

په صحيحو رواياتو کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت شوی دی چې د اړيکو د ساتلو کوټلی امر يې کړی، هغه يې د الله تعالی د بنده ګانو صفت او د ورورګلوۍ او محبت راز ګڼلی: «**لا تَقَاطَعُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا، وَلاَ تَبَاغَضُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا**»(۱۱:ص.۱۷۷)- اړيکې مه پرېکوئ، او يو بل ته شا مه اړوئ، او يو بل سره بغض او حسد مه کوئ، او يو بل سره د ورورګلوۍ په فضا کې د الله پاک مخلص بنده ګان شئ!

په پورتني مبارک حديث کې اړيکې پالل او بغض نه کول د الله تعالی د ښې بنده ګۍ، محبت او ورورګلوۍ تومنه ګڼل شوې ده، چې په نه پاللو کې يې عکس حالت يعنې دښمنيو تومنه ثابتېږي، چې د ښو اړيکو پالل دهمدې اهميت په اساس حتی له لمانځه او روژې څخه هم غوره ګڼل شوي دي، لکه څنګه چې دا مبارک حديث په دې صراحت لري، چې له علي بن ابی طالب رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي: په تحقيق سره ما اورېدلي دي له ابوالقاسم صلی الله عليه وسلم څخه چې فرمايلي يې دي: «إِنَّ صَلاحَ ذَاتِ الْبَيْنِ أَعْظَمُ مِنْ عَامَّةِ الصَّلاةِ وَالصِّيَامِ وَانْظُرُوا إِلَى ذَوِي أَرْحَامِكُمْ فَصِلوهُمْ يُهَوِّنُ اللَّهُ عَلَيْكُمُ الْحِسَابَ»(۱۲:ص.۹۷)

ژباړه: په تحقیق سره صلح او آشتي په ټولنه کې له کلونو لمانځه او روژې څخه با ارزښته ده، او توجه وکړئ خپلو اقاربو ته او اړیکې ورسره ټینګې وساتئ! الله پاک به تاسو سره په آسانۍ سره حساب وکړي.

جوتیږي چې د انسانانو تر منځ د اړیکو پالل او سمول په ټولنه کې د ښو دودونو او خصلتونو د منځ ته راتګ او بنسټیز کېدو سبب کېږي چې د دواړو نړیو ویاړ او نېکمرغي یې پکې نغښتې وي، مګر عکس حالت یې نه یوازې د دنیا ستونزې، کړاوونه او دښمنۍ لري بلکې د آخرت ستر مجازات هم ورته اعلان شوي دی او هغه څوک چې اړیکې شلوي دا مبارک حدیث یې په اړه داسې حکم کوي، چې هغه جنت ته نه داخلیږي:«**لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ**»(۱۹:ص.۸) په داسې حال کې چې زموږ په ټولنه کې له کوچني والي څخه د جوړ او آشتي تر کلمو لاندې دود شته چې په لږ غوندې خبرې سره جوړ یا خفه شي او بیا بېرته آشتي کول یې ډېر کار او ځینې وخت مرکې او لګښتونه لري.

په دې اړه مولوي محمد شعیب په خپله خطابه کې مفصلې ویناوې او لارښوونې درلودې، چې په یوه برخه کې یې وویل: «اړیکې ساتل یا صله رحمي په اسلام کې ستر ارزښت لري او ډېر تأکید پرې شوی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې له درې ورځو څخه زیات له یو مسلمان سره و نه غږیږي نو اعمال یې د الله ج په وړاندې نه قبلیږي، او څوک چې یو کال ورسره و نه غږیږي نو دومره ګناه لري لکه د یو مسلمان وینه یې چې تویې کړې وي...»(۱۳:د جمعې د ورځې خطابه) دا ځکه دومره بد ګڼل شوي، چې دې حالت کې نېک اعمال خپل ارزښت اومعنویت له لاسه ورکوي او همدا اړیکې پرېکول د ډېرو بدو اعمالو د دود کېدلو، د زړونو د ماتېدلو، دښمنیو او د وینو توېدلو سبب کېږي.

کوم زړه کې چې دښمني، کینه او داسې نور ناسم دودونه او خصلتونه وي هلته محبت نه وي، هلته عبادت یا له عبادت څخه لذت نه احساسیږي، هلته

امېدونه ماتېږي، شخصيتونه ماتېږي، ذهنيتونه توربېږي، کورونه ورانېږي، قومونه جنگېږي، ملتونه جدا کېږي، هېوادونه وېشل کېږي د ټولې نړۍ ښکرونه يو بل ته اړم کېږي او ټول سره په غمونو، جنگونو او آفتونو کې کړېږي او تبا کېږي.

هغه زړه چې له انسانانو سره په دښمنۍ، کينې او داسې نورو ناسمو دودنو او خصلتونو کې وروزل شي له خپل رب سره هم د محبت لاره او د عبادت خواږه نه شي موندلای او هغه زړه چې په مينې، دوستۍ، مرستې، مېلمه پالنې، احترام، شفقت او داسې نورو ښو دودونو او خصلتونو وروزل شي هغه خپل رب سره هم د محبت او دوستۍ د لارې راز او نياز په آسانه موندلای او خپلې سترگې د الله تعالی د محبت په خوږو اوښکو لمبولای شي، چې دا مبارک حديث يې غوره دليل گڼلای شو: «إِنَّ الرَّحِمَ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُولُ: مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللَّهُ، وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللَّهُ»(۵:ص.۲۲)- په تحقيق سره رحم يا اړيکې پالل په عرش پورې تړلي دي او وايي: څوک چې ما وتړي نو الله يې (له خپل رحمت او مهربانۍ سره) تړي، او څوک چې ما پرې کړي، نو الله تعالی له هغه سره خپلې اړيکې پرېکوي.

د انسانانو تر منځ د اړيکو خرابېدل د دښمنيو لومړنۍ نښه او پيل دی چې بشري ټولنه سترو ناورينونو سره مخامخ کوي، «انسان د انعزال او زوال په داسې پنجرې کې بندي ساتي کومه چې مېلې يې د حسد، کينې، بغض، قهر، ډار او بالآخره د جنون له داسې شپږ اړخيزو چړو څخه جوړې شوې دي، چې نه بل زړه ورنږدې کولای شي او نه هم خپله ترې وتلای شي، بلکې همالته په دې بده پنجره کې له يوې خوا د خپل زړه او رگونو وينې څښي او له بلې خوا د وجود او اعصابو حجرات خوري، له دريم لوري څخه د پنجرې د باندې انسانانو زړونه او لاسونه هم په وينو لړي او له څلورم مهم او خطرناک لوري څخه د دې اعمالو په واسطه له خپل خالق سره خپله رابطه شلوي.»(۱۷:ص.٦۴)

په دې کې حکمت دا دی، چې د اړیکو پرېکولو، کینو، دښمنیو، ناسمو خصلتونو، کړو وړو او دودونو کې انسان د محبت، ښو اړیکو او کړو وړو راز او لارې په خپل معنوي او مادي ژوند کې پخپله له لاسه ورکوي، او د پیدا کولو لپاره یې کوم آدرس، تمرین او ریاضت هم نه لري، چې له همدې کبله د ښو اړیکو، ښېګڼو او محبت باریکه لیکه نه د انسانانو، علم او کایناتو په لور او نه د انسانانو او مخلوقاتو د خالق په لور پیدا کولای شي، نو دا لاره پخپله پرې قطع کېږي او د دنیا او آخرت د دښمنیو او سختیو په ناورین کې به کړېږي.

د یادولو وړ ده چې انسان یو داسې بد او سرسخت دښمن لري، چې د دښمنۍ له ټولو معیارونو څخه سرغړونه هم کوي، هغه دښمن شیطان دی. پاک رب دا اعلان کړی او موږ هر یو په خپل وجود کې هم دا حقیقت موندلای شو چې: «**إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلإِنْسَانِ عَدُوٌّ مُبِينٌ**»(یوسف:۵) بېشکه شیطان د انسان ښکاره دښمن دی.

که چېرې الله تعالی انسان ته د دښمنۍ، کینې او مبارزې خصلتونه د هغه په فطرت کې نه وو خلق کړي، نو بناء پر کوم توان او ځواک به انسان د شیطان په څېر سرسخت دښمن په دښمنۍ کې مبارزه کړې وای!؟ نو هغو انسانانو، چې د خپلې واقعي دښمنۍ دغه آدرس او ماهیت موندلی او خپل د دښمنۍ، کینې او مبارزې خصلتونه د هغو په وړاندې مصرفوي، دغه خصلتونه یې په دې ډګر کې د اشباع یا له خونده ډکې سترړیا حد ته رسېږي، د ټولو انسانانو د ټوپک ماشه د همدې ګډ دښمن(شیطان) په لور ور اوړي او په دې مبارزه کې انسانان په مینه او اخلاص سره یو کېږي، د ورورولۍ او محبت اړخ یې پخپله په خپلو منځونو کې په یو عمومي دود، عادت او فرهنګ بدلېږي، ځکه د دښمنۍ اړخ یې د شیطان په دښمنۍ کې اشباع او په سم هدف مصرف کړل شو، نو د دوستۍ او ښو خصلتونو او دودونو اړخ یې پخپل منځ کې سره په مینه پاتې کېږي، چې د«**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ**»(الحجرات:۱۰) آیت فلسفه له همدې حکمت څخه د مسلمانانو په منځ کې صدق کوي.

په اسلام کې د ژوند ټول اړخونه همداسې عيار شوي، چې ټول سره يو بل ته د واقعي انسانيت او سمو دودونو لارې هواروي، کوم چې د بشري ټولنې د عزت، عظمت، امنيت، سوکالۍ، پرمختګ او بري سبب کېږي. د منبر له لارې د ناسمو دودونو، خصلتونو او کړو وړو پر وړاندې په ډېره پراخه کچه، بډايه مطالبو، ايماني باورونو، اغېزناکو دليلونو، وړ او لوړ منطق، د الله تعالی د رضا په نيت زيارونو او پرېمانه مخاطبينو په لرلو سره هر اړخيزه مبارزه پلې کېدای شي.

له دې څخه انکار نه شي کېدای چې د هرې مفکورې خپرول په حقيقت کې له مخالفو مفکورو سره مبارزه کول دي، هغو ته مناسب ځواب ويل، د ظلم په وړاندې دفاع او په ظالمانو حمله کول دي. نو محراب د منبر په څنګ کې واقعاً د شيطان په وړاندې د مبارزې ګرم او نرم سنګر دی، خو هغه انسانان چې ځان د شيطان په شان په همغو بدو، ناسمو کړو وړو او ناوړو دودونو روان کړي پخپله د منبر او محراب په وړاندې ځان په ډګر دروي، بيا نو په دې مبارزه کې فيصله پاک رب داسې فرمايلې ده:«**وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ، إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا**»(**الإسراء:۸۱**)- ووايه(اې محمده)! راغی حق او باطل ورک شو، بېشکه باطل ورکېدونکی دی. له دې څخه څرګندېږي چې د ناسمو پر وړاندې مبارزه او استقامت کول د سمو د غلبې او د ناسمو د مغلوبيت زېری دی. دغه مبارزه د منبر له لارې لا اغېزناکه، ګټوره او بختوره وي.

د دښمنۍ، نفاق او د اړيکو پرېکولو په اړه پورتني «مشت نمونهٔ خروار» معلومات د بېلګې په توګه وړاندې شول چې په تفصيل سره کتابونه پرې ليکل کېدای شي، چې په سلګونو زره منبري مراکز او شخصيتونه يې د سلګونو ژبو او فرهنګونو په پوښښ کې ټولنوالو ته په شکلي او ماهوي پياوړتيا خپرولای شي.

لکه څنګه چې منبر د يوه ناسم دود په اړه داسې پرېمانه امکانات، فرصتونه، لارښوونې، دلايل او مسايل لري چې زړونو ته په آسانه لار کوي او

خلک په ظاهري او باطني ښه ترې ژغورلای او د سمو په لور قناعت ورکولای شي په همدې ډول د هر ناسم دود پر وړاندې مبارزه کې اغېزناک رول لوبولای شي چې باید په دې برخه کې ښه ګټه ترې واخیستل شي.

**۲- د ناسمو دودونو پر وړاندې مبارزه کې د مصنوعي یا تکنولوجیکو رسنیو رول**

په افغاني ټولنې کې په وروستیو دوو لسیزو کې تر بل هر وخته د معلوماتي تکنولوژۍ او رسنیو طوفان جوړ شوی، چې په هر لور وغواړي کولای شي چې عامه ذهنیت سوق او مدیریت کړي. که چېرې تکنولوژیکې رسنۍ له ناوړه دودونو او ټولنیزو خرافاتو سره مبارزه د رسنیزو پیغامونو د خپراوي لپاره یو له ارزښتونو څخه ومني، نو بې له شکه چې په دې برخه کې به ډېر اغېزناک فعالیتونه ترسره شي؛ خو په دې شرط چې نورې موخې او بداړخی(منفیګرایی) په کې ور ګډې نه کړي، لکه د وګړو، ملت او ټول فرهنګ توهین، د دیني مناسکو او اعتقاداتو سپکاوی، د نورو فرهنګونو یرغل ته لاره پرانیستل، د بهرنیو استخباراتي او سیاسي کړیو په غوښتنو د خپل فرهنګي او تاریخي ویاړونه او ارزښتونه په نښه کول، نفاق خپرول او داسې نور هغه څه چې بداړخی، ناهیلی او له ځانه پردیتوب د خطرناکو عواقبو په لور ذهنیتونه بیایي باید خپل رسنیز فعالیتونه او فکري مسیرونه ترې وساتي. په دې توګه به د رسنیو له لارې د ناوړه دودونو په وړاندې ارزښتناکه مبارزه صورت ومومي. دا ځکه چې د رسنیزو ارزښتونو او د مخاطبینو د ذهنیتونو، افکارو او کړو وړو تر منځ متناسبه اړیکه وجود لري، چې څومره رسنیز ارزښتونه او نیتونه یا موخې په عین موضوع ور متمرکزې کېږي په هماغه اندازه د مخاطبینو د ذهنیت، خصلت او د هغوی د کړو وړو زاویه په مطلوب لور ورګرځوي. له همدې کبله ده چې نیت او هدف ته په اسلام کې ستر ارزښت ورکړل شوی دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې مبارک حدیث په مصداق چې ټول عملونه په نیت پورې اړه لري شافعي رحمه الله یې

د ارزښت او وسعت په اړه فرمايي:«**يدخل في حديث الأعمال بالنيات ثلث العلم**»(٦:ص.٣٠) په دې حديث کې درېيمه برخه د علم نغښتې دی او دا ځکه چې د انسان ټول کړه وړه درې برخو څخه جوړښت مومي: په زړه يې نيت او اراده، په ژبه يې بيان او په لاس يا وجود يې انجام. نو يواځې ښه نيت هم عبادت دی، مګر قول او عمل له ښه نيت څخه پرته هېڅ ارزښت نه لري او کېدای شي چې په فساد او رياء کې ولوېږي، له همدې کبله ويل کېږي چې د مؤمن نيت له عمل څخه يې ارزښتناک دی. له دې څخه هم جوتېږي چې رسنۍ بايد پر خپل نيت، هدف او ارزښتونو ځومره پاملرنه ولري چې د الله تعالی د رضا په نيت خپلې موخې او ارزښتونه د ټولنې د اصلاح او نېکمرغۍ لپاره وټاکي او په خپل قول اوعمل کې يې هم ثابت کړي.

د يادولو وړ ده چې، زموږ په ټولنه کې د ناوړه دودونو کچه له نورو جرمونو، ګناهونو او بې دينۍ سره مستقيمه رابطه او مناسبت لري، د هغو له زياتوالي سره ناوړه دودونه او دهغو شدت هم زياتېږي او په هره کچه چې د هغو مخنيوی کېږي په هماغه اندازه د ناوړه دودونو کچه او شدت هم را کمېږي يا په بل عبارت  په هره کچه چې جرمونه، ګناهونه او بې ديني په ټولنه کې راکمه شي په هماغه اندازه د ناوړه دودونو د کچې په راکمېدلو اغېز لري. له دې څخه رسنيو ته دا تګلاره جوتېږي چې که د ناوړه دودونو مخنيوی غواړي، نو په ټولنه کې دې د جرمونو، ګناهونو او دين(اسلام) ستېزې مخه ونيسي چې په دې توګه به د ناوړه دودونو پر وړاندې مبارزه په خپله ورته اسانه او ټولنه به په کمه مبارزه او لګښت هم خپلو اهدافو ته رسېدلای شي.

رسنۍ بايد خپلو خبرونو، تبصرو، مقالو، مرکو، او ټولو اطلاعاتي، تحليلي او ادبي- تبليغي ژانرونو او برنامو له لارې د ناوړه دودونو پر وړاندې مبارزه کې خپل پام ورواړوي او هر هغه څه چې ناوړه دودونه له منځه وړلای شي او نورو برخو د ژوند ته ستونزه نه جوړوي خپاره کړي.

همدارنګه باید خپلو سریالونو، فلمونو، تیاتر، ګردي مېزونو او داسې نورو پروګرامونو له لارې هم دې ته ښه پام واړوي، هره جمله، پیغام او د هغو منځپانګه ښه وپلټي چې کوم هغه یې د ناوړه دودونو په وړاندې مبارزه کې ګټور تماميږي خپاره کړي.

په دې اړه بیا هم د منبري خپرونو له لارې د دیني عالمانو او متنفذینو ویناوې د جرمونو او ناوړه دودونو پر وړاندې مبارزه کې ستر رول لرلای شي. په داسې حال کې چې نورې رسنۍ که د ناوړه دودونو او جرمونو پر وړاندې ځینې پیغامونه او پروګرامونه لري، خو په بل اړخ کې ګڼ شمېر له همدې رسنیو څخه په بېلابېلو زمانونو کې ډېر داسې پروګرامونه هم خپاره کړي، چې په مستقیمه توګه دانسانانو جرمي استعدادونه پرې لوړېږي او د ناوړه دودونو او جرمونو ارتکاب ته هڅېږي، د بېلګې په توګه په ټولنیزو رسنیو او ځینو نورو بهرنیو او ځینو پخوانیو رسنیو کې د ښځو د ځورولو، ډبولو، اختطاف او د هغوی له نازونو ډکو فریادونو صحنې په ټولنوالو کې دا عمل په یو جنسي لذت او فتیش باندې بدلوي، چې په داسې حالت یا حد کې بیا له دې ناوړه دود سره مبارزه ډېره ستونزمنه ده او په ټولنه کې د ناوړه دودونو د ترویج او د جرمونو د ارتکاب لامل جوړېدای شي؛ په ځانګړې توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه ډېره لوړوي او دا له مېړانې او غیرت نه لرې عمل په یوې رواني ناروغۍ او د کاذب غیرت او لذت په سمبول اړوي.

نو رسنۍ باید کوښښ وکړي، چې په دې اړه یواځې د خپلو اعلاني او تجارتي ګټو لپاره د ټولنې لوړ اهداف او ارزښتونه له منځه یو نه سي، خپل واقعي رسالت او اجتماعي مسؤولیتونه باید په ښه توګه اداء کړي. د هېواد رسنۍ باید د ناوړه دودونو د له منځه وړلو لپاره جدي مبارزه وکړي، په دې اړه ځانګړي پیغامونه او پروګرامونه خپاره کړي؛ همدارنګه باید په دقیقه توګه خپل سریالونه او نور ټول پروګرامونه او پیغامونه تر څېړنې او مطالعې لاندې ونیسي، چې کوم یې په غیر مستقیمه توګه د جرمونو او ناوړه دودونو ازغن تخم د

ټولنوالو په ذهنيتونو کې شيندلای شي، د هغو له خپرولو څخه جداً خپلې برنامې تصفيه کړي؛ که نه نو خدای مکړه دالله تعالی په عذاب او د ناوړه دودونو په گرداب کې به دوی او ټولنه سره اخته او دې اور کې لولپه شي، لکه څنگه چې الله تعالی په دې اړه فرمايي:«**إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ**»(النور:۱۹) بې له شکه هغوی چې د مسلمانانو په منځ کې د فحشاء خپرول خوښوي، هغوی لره په دنيا او آخرت کې دردناک عذاب دی، او الله تعالی په حقيقت د دې موضوع ښه پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

نو د رسنيو هغه مسؤولين او د ټولنيزو رسنيو کاروونکي چې واقعي درک، پوهه، حکمت او تحليل ولري، د النورسورت همدا يو آيت هم د هغوی د پروگرامونو او پيغامونو د تصحيح، تنقيح او تصفيې لپاره کافي دی. حقيقت دا دی چې د رسنيو د پروگرامونو له تصحيح سره هرو مرو په ټولنه کې د ناوړه دودونو، جرمونو او ناوړه افرادو کچه را کمېږي او ټولنوال به په آرامه د پرمختگ او برې په لور خپل ژوند ته دوام ورکوي.

**اووم- د سمو دودونو د پياوړتيا لپاره د رسنيو دنده**

دا څېړنه د يادې موضوع په اړه د رسنيو دنده او د هغوی فعاليتونو ته مناسبه تگلاره روښانوي. که موضوع د نه اوږدېدلو په موخه په لنډو ټکو کې راټوله کړو، نو ويلای شو چې په دې اړه منبر او تکنولوژيکې يا مصنوعي رسنۍ د خپلو مسؤوليتونو په ښې اداء سره اغېزناک رول لوبولی شي، ټولې هغه هڅې چې مخکې پرې بحث وشو چې د ناوړه دودونو د له منځه وړلو په لاره کې يې رسنۍ اداء کوي په حقيقت کې په يو ډول د سمو دودونو او ښېگڼو د پياوړتيا په لاره کې هم خدمت کوي او له ناسمو دودونو څخه د فکرونو او ژوندونو د ژغورلو په پايله کې سمو دودونو ته د فکر او عمل ميدان خالي پاتې کېږي چې دا د رسنيو له لارې اغېزناک او گټور چوپړ دی.

رسنۍ باید د ښو دودونو او اعمالو د ترویج په اړه د بېلابېلو ژانرونو او پروګرامونو له لارې پراخ او دوامدار فعالیتونه ولري. د یادولو وړ ده چې د دیني ادرس او ارشاداتو له لارې په دې برخه کې اغېزناک خدمت ټولنې ته وړاندې کېدلای شي چې باید خپله پاملرنه ورته واړوي. ځکه ټول ښه دودونه انساني ایماني اړخ لري او الله تعالی یې په اړه د بشریت د نېکمرغۍ لپاره ډېرې لارښوونې را لېږلې دي چې باید انسانانو ته د ژوندانه د بهبود او په آخرت کې د ثواب او جنت په هیله مندۍ قناعت ورکړل شي؛ دا د قناعت ورکولو تر ټولو پیاوړې لاره ده چې مؤمنان پرې قوي ایمان لري او همدا ایمان یې د قناعت، ډاډ او لوړو هیلو وړ مقام او حقیقت ته رسوي.

که رسنۍ خپل ارزښتونه د سمو دودونو د پیاوړتیا اوترویج په نیت وټاکي بې له شکه چې په دې برخه کې اغېزناکې تمامېږي. په رسنیو کې د ارزښتونو ټاکل په حقیقت کې د پیغامونو او د ټولنې د فکرونو لپاره هغه قالبونه جوړوي کوم چې رسنۍ غواړي په هغو قالبونو او شکلونو کې عامه ذهنیتونو ته پیغامونه او نظرونه وړاندې کړي او له هغو سره سم د وګړو او ټولنې فکرونه او ذهنیتونه په هماغسې قالبونو کې جوړ کړي. که رسنۍ خپل قالبونه له سمو دودونو سره سم جوړ کړي نو تولید او اغېز به یې هم سم وي، که رسنۍ خپل ټول اطلاعاتي، تحلیلي او ادبي-هنري ژانرونه د سمو دودونو د لا پیاوړتیا او ترویج په ارزښتونو تزئین کړي نو هرو مرو به ټولنه کې د غوره دودونو د عاملو او پلي کولو په برخه کې اغېزناک رول ثابت کړي.

**پایله**

۱ـ د افغاني ټولنې د دودونو په اړه رسنۍ متقابل، دوامدار تفاعلي رول لري، چې د هر لوري اصلاح په بل لوري خپلې اغېزې ښندي او یو له بل سره مشترک ارزښتونه او اهداف یې متقابل هر اړخیز رضایت او نېکمرغۍ ته رسوي.

۲ــ د ټولنې سم او ناسم دودونه په لوړو فرا بشري الهي ارشاداتو نبوي مرغلرو او بیا په منل شوي معقول عُرف پېژند کېدای شي او تر منځ يې پولې هم په همدې معیارونو ښې ټاکل کېدلی شي.
۳ــ د رسنیو ارزښتونه هغه فکري قالبونه دي چې ذهنیتونه، کړه وړه او دودونه هماغسې جوړوي.
۴ــ د افغاني دودونو په اړه رسنۍ خپله ایماني، ملي، اخلاقي او مسلکي دنده لري چې سم دودونه يې لا پیاوړي کولی او خپرولی شي، خو د ناوړه هغو په وړاندې يې په مسلکي مهارت او ایماني حکمت سره په روحاني او ظاهري ښو د اغېزناکې مبارزې ځواک لري چې په مسلکي او معیاري کارولو سره ناوړه دودونه په ښه توګه راکمولی او له منځه وړلی شي.

**وړاندیزونه**

۱ــ رسنیو ته اړینه ده چې له هر څه وړاندې د خپل رسنیز فعالیت د لا ښه دوام او ټولنیز مسؤولیت د حسن اداء لپاره د خپلو رسنیزو ارزښتونو په ټاکلو ځیرنه او څېړنه وکړي.
۲ــ رسنۍ باید د افغاني ټولنې د سمو دودونو د لا پیاوړتیا او د ناسمو دودونو د له منځه وړلو لپاره د دې مقالې په رڼا کې مشخصه طرحه او لوړې موخې ولري چې د هغې له مخې په ټولو خپرونو او ژانرونو کې هغه په پام کې وساتي.
۳ــ افراد او ټولنه باید د سم او ناسم د تفکیک او تحلیل کچه لوړه کړي او دغه ماهوي پېژندنه، وړتیا یا ځواک بې له شکه د بشریت او ټولو کائناتو د خالق د لارښوونو په نورانیت کې ترلاسه کړي.
۴ــ رسنۍ او چارواکي دې ښه متوجه اوسي چې د رسنیو او بیان آزادي د ټولنې د سمون، لوړتیا، وړتیا او پیاوړتیا لپاره ده؛ نه د زبېښنون، خوارتوب، فساد او کمزورتیا لپاره، نو هر نعمت دې په خپل ځای کې سم وکاروي که نه، نو د هغه نعمت د زوال په انتظار دې شي.

## مأخذونه


۱ـ القرآن الكريم

۲ـ الفت، گل پاچا. پر پښتني دودونه کتاب تقریظ، پښتو ټولنه: پرله پسې نمبر(۱۳۰)، کابل، ۱۳۳٦هـ ل.

۳ـ بختانی، عبدالله. پښتني خویونه، پښتو ټولنه: د نشریاتو د لوی مدیریت ۳۳ نمبر چاپ شوی کتاب، کابل، ۱۳۳۴هـ ل.

۴ـ بي بي سي راډیو، «په افغانستان کې د نشه يي توکو راکمېدلو په اړه گزارش» د سهار ۷ بجو خبري سرویس، سه شنبه، ۱۴۰۲/۸/۳۰هـ ل.

۵ـ البيهقي، أحمد بن الحسين أبو بكر. الأسماء والصفات، المحقق: عبد الله بن محمد الحاشدي، الجزء الثاني، الطبعة الأولى، مكتبة السوادي: جدة، المكتبة الشاملة- الاصدار الثالث.

٦ـ البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى أبو بكر. السنن الصغرى، قام بتنسيقه و فهرسته أسامة بن الزهراء، الجزء الأول، المكتبة الشاملة- الاصدار الثالث.

۷ـ توحیدی، محمد علی. نقد وبررسی خرافات اجتماعی در افغانستان، ترجمه: دکتر محمد موسی نوری، جامعة المصطفی العالمیة-نمایندگی افغانستان: کابل، ۱۳۹۵هـ ش.

۸ـ رسولي، محمد امان. «ناوړه دودونه د اسلام په رڼا کې او د ديني علماوو مسؤولیت»، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت: د مقالو ټولگه، ۲۴ گڼه، ۱۴۰۱هـ ل.

۹ـ ساپی، محمد حسن. پر پښتني دودونه کتاب مقدمه، پښتو ټولنه: پرله پسې نمبر(۱۳۰)، کابل، ۱۳۳٦هـ ل.

۱۰ـ سبحانی، محمد تقی. «موانع حضور اخلاق در صحنۀ مطبوعات»، مجموعۀ مقالات سیمینار رویکرد اخلاق در رسانه ها، مرکز مطالعات و تحقیقات رسانه ها: تهران، ۱۳۷۵هـ ش.

١١ــ الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم. الْمُعْجَمُ الصَّغِيْرُ لِلطَّبْرَانِيِّ، تحقيق:محمد شكور محمود الحاج أمرير، الجزء الأول، الطبعة الأولى، المكتب الإسلامي- دار عمار: بيروت، ١۴٠۵هـ ق=١٩٨۵م.

١٢ــ الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم. المعجم الكبير، تحقيق: حمدي بن عبدالمجيد السلفي، الجزء الأول، الطبعة الثانية، مكتبة العلوم والحكم: الموصل، ١۴٠۴-١٩٨٣.

١٣ــ محمد شعيب. د جمعې خطبه، د مدينې منورې جامع مسجد، خوشحال مېنه- د الف ساحه، ١١/ ٧/ ١٣٩٣هـ ل.

١۴ــ مشوانی، عبدالقيوم زاهد. زاهد پښتو- پښتو سيند، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړيوال مرکز: د چاپ چارې: دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ١٣٨۵ ل کال.

١۵ــ نادر، عبدالجبار. په لغمان کې د واده دودونه (يوره کلتوري څېړنه)، د علومو کاډمۍ د پښتو څېړنو بين المللي مرکز: پرله پسې نمبر(۴٣)، کابل، ١٣٧٠هـ ل.

١٦ــ ناظم، محمد داود. «دښمنۍ، د هغو لاملونه، حل لارې او په اړه يې د رسنيو ونډې»، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت: د مقالو ټولګه، ٢۴ ګڼه، ١۴٠١هـ ل.

١٧ــ ناظم، محمد داود. منبر د عامه رسنيو يوه اغېزناکه وسيله، د څېړندويي رتبې ته د لوړاوي لپاره، علمي-څېړنيزه پروژه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ١٣٩٦هـ ل.

١٨ــ ننګرهاري، محمد ګلاب؛ عبدالخالق واسعي؛ محمد ابراهيم ثابت...؛ پښتني دودونه، د ګل پاچا الفت په تقديم او مشرتابه، لومړی چاپ، پښتو ټولنه: پرله پسې نمبر(١٣٠)، کابل، ١٣٣٦هـ ل.

۱۹ـ النيسابوري، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري. الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، الجلد الثامن، دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة: بيروت.

۲۰ـ همدرد، حضرت آغا. «د ناوړه دودونو عوامل او د حل لارې چارې»، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت: د مقالو ټولگه، ۲۴ گڼه، ۱۴۰۱هـ ل.

څېړندوی شوکت الله عابد

# په نړۍ او افغانستان کې د بانکدارۍ تاریخي بهیر

# Historical path of banking in the world and in Afghanistan

***Researcher: Shawkatullah Abid***

**Abstract:**

Banking made progress and developed through its importance in societies and in countries and this process is going on till now.  Whenever, people had tribal living style in their societies, so, needs and wants were limited and there was no money and currencies to define the value, and besides that, there weren’t modern financial services to be offer. After this period, money has gradually invented and banking services have been developed, financial services like offering loans, acceptance of deposits have prevalent which there were different banking services developed which finally concept of banks has developed to offer and management of these services. Thus, in this article which have been wrote under the title of ((Historical path of banking in the world and Afghanistan)) tried to explain and research beginning of banking operation and services in the world. Considering the professional's views which express the banking history in the Babylonia and before Babylonia period has explained. After this, it will explain the banking adoption in the Rûm (Rome), china, and other

countries, this article will also declare that, when and how Afghanistan developed banking services and how this direction has complete till now?

**لنډیز**

بانکونو د خپل اقتصادي اهمیت له مخې په ټولنو او هېوادونو کې پرمختګ کړی دی او له پیدایښت څخه تر دې دمه یې د پرمختګ دغه لړۍ پر مخ روانه ده. د بشري ټولنې په لومړیو کې چې قبیلوي ژوند و، غوښتنې او اړتیاوې محدودې وې، په بازار کې د ارزښت دمعلومولو لپاره پیسې مروجې نه وې او همدارنګه هیڅ عصري مالي خدمتونه موجود نه و، نو بانکونو ته هم اړتیا نه لیدل کېده، وروسته په تدریجي توګه د ارزښت دمعلومولو لپاره توکي او بیا پیسې مروجې شوې، ورپسې په ابتدایي بڼه د بانکي خدمتونو وړاندې کول او بانکداري مروجه شوه، د مالي خدمتونو لکه د پور ورکولو او د امانتونو ساتنه رایج شوله، نو په همدې ترتیب سره په نړۍ کې د بانکدارۍ د خدمتونو عرضه کول هم مخ په ډېرېدو او پراخه شول. په دې مقاله کې چې "په نړۍ او افغانستان کې د بانکدارۍ تاریخي بهیر" تر عنوان لاندې لیکل شوې؛ هڅه شوې ده چې د همدې خدمتونو د عرضه کولو لپاره په نړۍ کې د بانکونو د ایجاد تاریخي بهیر د څېړنې لاندې ونیسي او په دې اړه د پوهانو نظریاتو ته په کتو د بابلیانو له دورې څخه د بانکدارۍ مخینه په روښانه توګه وړاندې کړي. ورپسې په یونان، روم، چین او نورو هېوادونو کې د بانکدارۍ پیدایښت ته لنډه کتنه وشي. همداشان په دې مقاله کې به روښانه شي چې په افغانستان کې کله او په څه شکل بانکداري مروجه شوه او تر دې دمه دا بهیر په کومو پړاونو کې تکامل ته رسیږي.

**سریزه**

د بانکونو د پیدایښت په اړه بیلابیل نظریات موجود دي، ځینې د نظر خاوندان او پوهان په دې باور دي چې د بانکونو او بانکدارۍ ایجاد د لرغونې

زمانې سره اړیکه لري او د دې اقتصادي او مالي چارو پیل له مذهبي ځایونو څخه ترسره کیږي. له لرغونې دورې څخه راپه دې خوا، چې مالي او اقتصادي فعالیتونه په کې په ابتدایي بڼه مروج و او داړتیاوو ځوابولو لپاره په کې په ساده او سنتي شکل اقتصادي خدمتونه وړاندې کېدل، خو د وخت په تېریدو سره د دې خدمتونو وړاندې کولو د اړتیاوو او غوښتنو د ډیروالي په سبب پراختیا موندده او لا هم تولنې په دې هڅه کې دي چې په دې برخو کې د لا نورو عصري او معیاري خدمتونو د وړاندې کولو لپاره موثر او غښتلي مکانیزمونه وړاندې کړي. د اسیایي هېوادونو له جملې څخه په چین، ایران، هند او نورو هېوادونو کې هم د بانکونو ایجاد اوږده مخینه لري او په دغو هېوادونو کې د بانکي خدمتونو وړاندې کولو پراختیا موندلې ده. له میلاد څخه د مخه په چین کې بانکداري ترسره کېده چې په دې برخه کې دا هېواد ډیره اوږده تاریخچه لري او ډیرې لاسته راوړنې یې درلودلي دي.

همداشان ایران هم د بانکدارۍ اوږده تجربه لري چې لومړي بانکونه په کې تر دوو پېړیو له مخه ایجاد شوې او تر دې دمه په دې برخه کې ډېر پرمختگونه لري. د دې تر څنگ په افغانستان کې هم دا مخینه د اوسنۍ بانکدارۍ په بڼه اوږده موده په بر کې نیسي چې دغه موده نږدې یوه پېړۍ مخینه لري او له هغه وخته راپدېخوا تر ننه پورې د بانکدارۍ مختلف پړاوونه رامنځ ته شول او په دې دورو کې مختلف بانکونه تأسیس شول. په دې څېړنیزه مقاله کې هڅه شوې ده چې د بانکونو منځ ته راتگ او په ځینو هېوادونو کې د بانکونو د ایجاد تاریخي بهیر ته لنډه کتنه وشي، او دې پوښتنو ته چې بانکونه کله او په کومو هېوادونو کې رامنځته شول؟ څرنگه یې پراختیا موندده؟ ځواب وموندل شي. د یادولو وړ ده چې له مخکې په پښتو ژبه یا هم په هېواد کې په مشخص ډول په نړۍ کې د بانکونو د ایجاد په اړه کوم مشخص اثر نه ترسترگو کېده، چې دا مقاله به تر یوه حده پورې دغه تشه ډکه کړي.

**مبرمیت**

دا چې په نړۍ کې د بانکونو د تاریخي بهیر په اړه تر دې دمه په پښتو ژبه کوم ځانګړی اثر نه دی لیکل شوی چې دا بهیر له پیدایښت څخه تر دې دمه تشریح او توضیح کړي، نو له همدې کبله دا مبرمه اړتیا ده چې د بانکدارۍ او بانکونو د تاریخي بهیر په اړه څېړنه وشي.

**موخه**

په نړۍ او افغانستان کې د بانکونو او بانکدارۍ د ایجاد او پراختیا تاریخي بهیر څېړنه د دې مقالې اصلي موخه ده.

**د څېړنې پوښتنه**

په نړۍ کې بانکونه څرنګه منځ ته راغلل او بانکي خدمتونه له کله څخه پیل شول؟

**میتود**

په دې مقاله کې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**په نړۍ کې د بانکونو د ایجاد تاریخي بهیر**

په نړۍ کې د بانک او بانکدارۍ پیدایښت او دودېدو په اړه د دې تاریخي بهیر په اړه د پوهانو نظریات موجود دي، مخکې له دې څخه چې په افغانستان کې د بانکدارۍ تاریخي بهیر وڅېړل شي، د موضوع د عنوان مطابق، په عمومي توګه په نړۍ کې د بانکونو د ایجاد او مخینې په اړه بېلابېل تاریخي معلومات وړاندې کېږي.

د بانکدارۍ د ایجاد په اړه بېلابېل نظریات وړاندې شوي دي، له همدې ټولو نظریاتو څخه دا ثابتېږي چې د بانکي خدمتونو او بانکدارۍ سنتي او ابتدایي بڼې مخینه له میلاد څخه مخکې څه د پاسه دوه زره کلونو ته رسیږي.

**بابِل**: له میلاد څخه شا او خوا دوه زره کاله وړاندې د بابِل د امپراطورۍ په دوره کې د بانکدارۍ لومړني محدود فعالیتونه رایج وو، (برادران مورا شواز نیپ پور) او (ای جی بي) لومړني بانکونه و چې د هخامنشیانو په امپراطورۍ

کې تأسیس شوي و. (۱۳. ۲۳۹مخ) همدارنگه ویل کېږي چې د بابل د هخامنشي د لومړي داریوش په وخت کې (ای جی بی) معتبر بانک و او په هغو قوانینو کې چې د بابل سلاطینو د سلسلې شپږم پاچا (حمورابي) له میلاد څخه د ۲۰٦۷ تر ۲۰۲۵ کلونو مخکې وضع کړي وو؛ پر هغو کې د پور د ورکړې او تجارتي امانتونو د قبلولو لپاره ځانګړي مقررات موجود وو،(۳: ۱۸مخ) چې له دې مقرراتو څخه د تجارتي معاملو په ترسره کولو کې کار اخیستل کېده. همدارنگه په یو بل ځای کې ویل شوي چې حموارېي قانون چې له میلاد څخه ۱۹۳۰ کاله دمخه وضع شوی و، د پورونو او امانتونو په اړه په کې مهم مقررات وړاندې شوي وو. (۱۳: ۲٤۰مخ)

لکه څنگه چې مخکې یادونه وشوه، بانکداري دیني او مذهبي ریښه لري او په دې تړاو ډېرو څېړونکو او د دې برخې پوهانو په مذهبي ځایونو کې د بانکدارۍ ابتدایي او لومړنیو خدمتونو وړاندې کېدو په اړه نظریات وړاندې کړي دي. په همدې اړه ویل کیږي چې د بابلیانو په دوره کې د معبدونو مسئولینو له خلکو سره زر، نقره او نور قیمتي زیورات او توکي د ساتنې لپاره قبلول. همدارنگه د غیر منقولو اموالو د وثیقو په مقابل کې به یې خلکو ته پورونه هم ورکول چې د دې پورونو د سود اندازه د وخت د مقرراتو مطابق شل فیصده وه، چې دا اندازه به د سرو زرو او نقرې په بڼه اخیستل کېده. (۱: ۱۸مخ)

**یونان**: په لرغوني یونان کې هم بانکداري له ډېرو پخوا زمانو څخه مروجه وه، څېړنو ښودلی چې له میلاد څخه ۷۰۰ کاله وړاندې په آتن کې یو ډول بانکداري مروجه وه چې په سلو کې به یې له ۱٦ څخه تر ۱۸ پورې سود اخیسته. (۲: انټرنیټ) د دې ترڅنگ فنقیان[۱] د پارس له امپراتورۍ سره د

[۱]. فنیقیان یا کنعنیان یا کنعانیان سامي ټبره و چې د مدیترانی په سیندیزه حوزه کې میشت و. دوی تجارت پیشه او ارام مزاجه خلک و. فنیقیانو تقریباً له میلاد څخه ۲۵۰۰ کاله د مخه له

سوداګریزو اړیکو په لړلو سره د بانکدارۍ له اصولو سره په تدریجي ډول اشنا شول چې د دوی د بانکدارۍ د پرمختګ لامل د سولون (solon) قوانین و، دا قوانین له میلاد څخه د مخه په اوومه پېړۍ کې تنظیم شول او همدې قوانینو هلته د ګټې او سود اخستنه مجوزه کړله.(۷: ابادیس دیکشنری) همدارنګه له میلاد څخه دمخه په شپږمه پېړۍ کې په سوداګریزو مرکزونو او د یونانیانو په معبدونو کې د سکې ضرب پیل شو چې دا چاره تر ډېره پر صرافانو لازمي وه. په لومړیو کې صرافانو د ټراپوزا (Trapeza) په نوم په بازار کې د یوه میز په دایرولو بسنه کوله او چلوونکو ته به یې ټراپوزیټس (Trapezites) ویل کېده. دوی مشتریانو ته ډول ډول خدمتونه؛ لکه د امانتونو راټولول، د قیمتي توکو ساتنه، د ضمانت ورکول، د حسابونو پرانېستل، د پیسو تبادله او د یو ځای/شخص څخه بل ځای/شخص ته د پیسو لېږدونه، بېمه او داسې نور خدمتونه عرضه کول.(۳: ۱۹مخ) د ټراپوزیت فعالیتونو معبدونو ته کوم مزاحمت نه درلود، د دوی مشتریان سره متفاوت ول، د معبدونو د کاهنانو مشتریان به دولتي مقامات او کلیوالي وګړي و او د ټراپوزیت مشتریان به ښاري وګړي او سوداګر وو.

**روم:** روم یا چې د اوسنۍ ایټالیا پایتخت دی؛ د سیاسي نظام د پراختیا او په شا او خوا مدیترانیي هېوادونو یې د تصرف له کبله ډېر پرمختګ وکړ چې بانکي سیستم او مالي مؤسسات او په ټوله کې په سوداګرۍ کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې. ویل کیږي چې رومیانو له یونانیانو بانکدارۍ زده کړې او د روم د امپراتورۍ په لومړیو کې بانکدارۍ رونق پیدا کړ چې په دغه وخت کې عموماً دوه عمده ډلې موجودې وې، چې مالي او بانکي خدمتونه یې عرضه کول. لومړۍ ډله نومیلاري (Numilari) او دویېمه ډله یې ارژانتاري (Argentari) نومېده. «نومیلاري» ډلې به د صرافۍ اړوند خدمتونه

منځنۍ اسیا څخه راپورته او بیا د مدیترانې په سیندې کرانو په لبنان کې میشت شول. (ابادیس ډیکشنري- ایران، abadis.ir)

وړاندې کول چې د پیسو تبادله په کې شامله وه او دویمې «ارژانتاري ډلې» به د هماغه وخت تقریباً ټول بانکي خدمتونه مشتریانو ته عرضه کول. (۱: ٦٤٩مخ)

ویل کیږي چې په دغه هېواد کې ملي بانک پر ۱۸٤۹م کال کې تأسیس شو،(۱۷:انترنیټ) له څېړنو جوتېږي چې د اوسنی بانکي سیستم او مدرنه بانکداري په همدې کلونو کې رامنځته شوله او د وخت په تېریدو یې پرمختګ وکړ چې په ۲۰۲۲م کال کې په دغه هېواد کې (٤۳۹) بانکونه موجود دي(۱۳: ۲٤۲مخ) او د مروجې بانکدارۍ ټول عصري او مدرن خدمتونه وړاندې کوي. البته دا ارقام په ۲۰۱۱ م کال کې (۷٤۰) و چې د بانکونو په شمېر کې کمښت په یاد هېواد کې د تېرو کلونو مالي بحرانونه ګڼل شوي دي.

**چین**: له میلاد څخه د مخه په شپږمه پیړۍ کې په چین کې بانکوالي موجوده وه، هلته ځینې مالي مسائل؛ لکه اعتبارات، د پیسو انتقال، بانکي سټېټمنټ Bank statement رامنځته شو. شا او خوا له میلاد څخه ۱۰۵ کاله د مخه کاغذ په بانکي عملیاتو کې ډېر اهمیت درلود،(هماغه ځای) چې په دویمه میلادي پیړۍ کې کاغذي بانکي اسناد او نور اسناد په ارزانه بیه کارونه رامنځته شوله چې همدې چارې کاغذي پیسې رایج کړلې.(هماغه ځای) همداشان د چین په تاریخ کې لومړنی ملي بانک د ټریژر بانک ( Treasure Bank) و چې په ۱۹۰۵م کال د اګیست په میاشت کې د بیجینګ په ښار کې تأسیس شو.(۲۳: انټرنیټ) په ۲۰۰۳م کال کې په دې هېواد کې د بانکدارۍ د مقرراتو د تنظیم کمیسیون تأسیس شو چې د دې کمیسیون اصلي موخه د دولتي بانک اصلاح او پر بانکي سیستم څارنه وه. (٤: انټرنیټ) په ۲۰۲۱م کال کې د چین په هېواد کې (٤٦۰۲) بانکونه موجود و،(١٦: انټرنیټ) البته دا ارقام په ۲۰۰۹م کال کې ۳۸۵۷ بانکونه و. د دغه هېواد ټول بانکي سیستم پر دوو برخو تقسیم شوی دی: یو یې د چین مرکزي بانک

او بل يې تجارتي بانکونه دي چې په دې دواړو برخو کې څلور ډوله تجارتي دولتي بانکونه شتون لري، سهامي شرکتونه، محلي بانکونه، ملي بانکونه او خارجي بانکونه د دې برخو اصلي ګډونوال دي.

**ځينې لومړني او تاريخي بانکونه او مالي مؤسسې**

په دې برخه کې د نړۍ په ځينو هېوادونو کې ځينې هغه بانکونه او مالي بنسټونه چې د اوسنۍ بانکدارۍ په څېر د مالي او پولي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه منځ ته راغلي؛ په لنډه توګه معرفي کيږي.

**وينيز بانک:** د وينيز بانک (Bank of Venice) لومړنۍ مالي خصوصي مؤسسه وه چې د بانک په نوم يې په ۱۱۷۱ ميلادي کال کې يې فعاليت پيل کړ".(۱۲: ۱۹٦مخ) همدارنګه په يو بل ځای کې ويل شوي دي چې د ۱۵۸۴-۱۵۸۷ ميلادي کلونو په منځ کې په "وينيز"[۲] کې يو دولتي بانک چې "بانکو دی ريالتو" (Banco di rialto) نومېده، د سنا د مجلس په تضمين تأسيس شو چې بيا په ۱٦۳۷م کال کې د "بانکو دل جيرو (Banco del Giro) سره مدغم شو او د "وينيز بانک" "Bank of Venice" يې تشکيل کړ.

د وينيز بانک د ايجاد په اړه په ډېرو منابعو کې يادونه شوې ده. په "عمليات بانکداری داخلي" اثر لومړي ټوک کې چې د مهدي رضوي او ابراهيم سهرابي له لوري ليکل شوی، د ياد بانک د ايجاد نېټه ۱۵۸۷ميلادي کال ښودل شوې ده.(۸: ۳۷مخ) همدارنګه ځينې هغه بانکونه چې د نړۍ په کچه اوږده مخينه لري په لاندې توګه يادوو.

**د دِل جيرو بانک:** د دې په اړه بايد ووايو چې دا بانک د وينيز حکومت له لوري په ۱٦۱۹ م کال کې د پيسو د انتقالولو په موخه ايجاد شوی و. د دې بانک دندې محدودې وې؛ لکه د امانتونو قبلول، د يو حساب څخه بل حساب

---

۲ The Republic of Venice or Venetian Republic يا LA Serenissima د اوسنې ايټاليا يوه برخه او هېواد و چې له ميلاد څخه وروسته له ٦۹۷ څخه تر ۱۷۹۷ کال پورې موجود و. اوسمهال ياده جغرافيا په ايټاليا هېواد پورې اړوند ده.

ته د همدې امانتونو انتقال او د مشتريانو د تجارتي چکونو ورکړه د همدې بانک د اساسامې له مخې د هر ډول پور ورکړه او د سود اخيستنه منع وه او د بانک مصارف به دولت ورکول.(۱۳: ۲٤۲مخ)

**امستردام بانک**: د امستردام بانک The bank of Amsterdam د اولسمې او اتلسمې پېړۍ مهمه مالي مؤسسه وه چې ۳۱/ ۱/ ۱٦۰۹م کال کې د هالند هېواد په امستردام ښار کې تأسيس شوی ده.(۲۲: انټرنيټ) امستردام بانک اصلاً د بهرنيو مسکوکاتو د واقعي ارزښت د معلومولو او په محلي ستندرد کرنسۍ (هلندي فلورن) د هغې د تبادلې لپاره ايجاد شوی و. دا بانک د مشتريانو د امانتونو د ساتلو په موخه مجبور و چې سل فيصده د مسکوکو او قيمتي فلزاتو ذخېره وساتي.

**د سويډ بانک**: د سويډ بانک Riksbank د يوه سهامي شرکت په توګه په ۱٦٥٦ ميلادي کال کې له نويو مقرراتو سره تأسيس شوی دی.(۱۲: ۱۹٦مخ) په ۱٦٦۱ ميلادي کال کې دا داروپا لومړنی بانک و چې د بانکنوټونو په خپرولو يې پيل وکړ او له دې سره د بانکنوټونه (کاغذي پيسې) نشرول د بانکونو له دندو وګرځېد. دا بانک که څه هم خصوصي و خو بيا هم د دولت مالي اړتياوې يې پوره کولې. د سويډ بانک خپل پورونه په سمه توګه مديريت نه شو کړای چې د همدې کبله په ۱٦٦۹ م کال کې ړنګ شو او بيا وروسته د يوه دولتي بانک په توګه بيا منځته راغی او د مرکزي بانک حيثيت يې خپل کړ.(۱۹: انټرنيټ)

**انګليس بانک**: د سويډ بانک څخه وروسته د انګلستان بانک دويم اروپايي بانک دی چې په ۱٦۹۴م کال کې د خصوصي سهامي شرکت په توګه په اروپا کې منځته راغلی دی. دا بانک چې يو خصوصي بانک و خو د دولت بانکدار و. د دې بانک لومړنۍ طرحه د (ويليام پاترسون) سکاټلنډي وه.(۱۲: ۱۹۸مخ)

د دې بانک اسهام په ۱۹۴۶ م کال کې د انګلستان د دولت له لورې واخیستل شول، چې په دې سره دا بانک په دولتي بانک بدل شو چې اوس مهال هم دا بانک د انګستان هېواد د مرکزي بانک په توګه خپل فعالیت کوي.

**د فرانسي عمومي بانک**: د فرانسې عمومي بانک Banque General د یو سکاټلنډي چې (جان لاو) له لوري په ۱۷۱٦ میلادي کال کې تأسیس شو.(۱۲: ۱۹۹مخ) دا بانک د ۲۰ کلونو لپاره د کاغذي پیسو د نشرولو د امتیاز په بدل کې په پاریس کې ایجاد شو. دا بانک د انګلستان بانک څخه په تقلید او د یاد بانک د مډل په کارولو سره منځته راغی. د فرانسې عمومي بانک ښه وځلید او د "جان لاو" د ښه مدیریت په پایله کې د ګټې (سود) اندازه له ٪۳۰ څخه تر ٪۴ پورې راښکته شوه چې دا چاره د اقتصادي او مالي پرمختګ د رونق سبب وګرځېده. همداشان دې بانک د فرانسي د دولت پورونه په ښه توګه مدیریت کړل او د دولت لپاره د یوه ښه مالي مشاور په توګه یې رول ولوباوه. په ۱۷۱۸م کال کې دا بانک د دولت په مرسته د (رویال بانک) په نوم ونومول شو او "جان لاو" یې سرپرست او مدیر وټاکل شو. دوه کلونه وروسته په ۱۷۲۰م کال کې د دې بانک د اسهامو ارزښت په بې ساري کچه راټیټ شو، چې له همدې امله "جان لاو" د بانک له رهبرۍ ګوښه شو.(۱۲: ۱۹۸-۱۹۹مخونه)

د پورته یادو شویو بانکونو او هېوادونو را وروسته په امریکا کې هم بانکداري اوږده مخینه لري او په دغه هېواد کې د بانکدارۍ بهیر هغه وخت پیل شو چې کانګرس په دغه هېواد کې لومړني بانک ته په ۱۷۹۱م کال کې اجازه ورکړه او دغه بانک هم دولت ته خدمات وړاندې کول او هم یې د تجارتي بانک حیثیت درلود.(۲۱: انټرنیټ) په ۲۰۲۲م کال کې په دغه هېواد کې ٤۱۳۵ تجارتي بانکونو د فدرالي زیرمو د بیمې بنسټ یا Federal Deposit Insurance Corporation له لوري بیمه و.(۲۰:انټرنیټ)

د دې ترڅنګ په استرالیا کې هم بانکداري له ډېرو کلونو راپه دېخوا مروج ده، د بانکدارۍ په سیستم کې یې تر ټولو زوړ بانک New South Wales دی چې له ۱۸۱۷م کال راپه دېخوا یې خدمات وړاندې کول او دغه بانک په ۱۹۸۲م کال کې د استرالیا تجارتي بانک یا Commercial Bank of Australia سره مدغم او دواړه په Westpac Banking Corporation باندې ونومول شول.(۲٤: انټرنیټ) اوسمهال په دغه هېواد کې تر ٥٠ ډېر استرالیایي بانکونه، تر ٥٠ ډېر بهرني بانکونه او د هغو څانګې موجودې دي.(۲٤: هماغه ځای) څلور لوی بانکونه یې هر یو: commonwealth bank of Australia چې په ۱۹۱۱م کال کې تأسیس شوې، د استرالیا ملي بانک یا National Australia bank په ۱۹۸۲ کال کې تأسیس شوې، Westpac Banking Corporation تاریخچه ۱۸۱۷ کال ته رسیږي او ANZ Banking Group په ۱۸۳٥م کال کې تأسیس شوې دی.(۲۲: هماغه ځای) که د اسیا وچې ته نظر وکړو نو جوته به شي چې په دې سیمو او هېوادونو کې هم بانکونه او بانکداري اوږده مخینه لري. ایران د سیمې هېوادونو او د افغانستان له ګاونډیو څخه دی چې دغه صنعت په کې اوږده مخینه لري چې د وخت په تېریدو په دې هېواد کې د بانکي سیستم د پراختیا لپاره ډېرې هڅې شوې دي. د ایران شاهي بانک (بانک شاهنشاهی ایران) په ایران کې لومړنی بانک و چې په ۱۸۸۹م کال کې د بریتانیا پر سلطنتي فرمان د ایران د دولت په امتیاز تاسیس شو.(۱٤: ۱مخ) په یو بل ځای کې ویل شوي چې په ایران کې په ۱۲٦٦هـ ش (۱۸۸۸م) کې (بانک جدید شرق) و،(۱۲: ۲۸۰مخ) د دې بانک مرکز به لندن و او په یاده نېټه یې یوه څانګه په تهران ښار کې پرانیستله او بانکي چارې یې پیل کړې، وروسته دا بانک په ۱۸۹۰م کال کې د ایران شاهنشاهي بانک سره هوکړې ته ورسیده او خپل ټول امکانات یې یاد بانک ته ورکړل او خپل فعالیتونه یې په ایران کې متوقف کړل. ویل کېږي چې په ایران هېواد کې ۳ دولتي تجارتي بانکونه، ٥ دولتي تخصصي بانکونه،

۱۹ خصوصي بانکونه او ۲ د قرض الحسنې بانکونه موجود دي(۱: انټرنيټ) چې ډيرې شعبې او څانګې لري. همداشان په هند کې هم بانکداري اوږده مخينه لري چې په دغه هېواد کې لومړنی بانک په ۱۷۷۰م کال کې د (هندوستان بانک) یا Bank of Hindustan په نوم د دغه هېواد په کلکتې ښار کې منځ ته راغلی و،(۱۵: انټرنيټ) همدارنګه ویل کیږي چې هندوستان له ازادۍ څخه د مخه په دغه هېواد کې تر ٦۰۰ بانکونو ثبت شوي و چې د وخت په تېریدو بانکونو او بانکي سیستم په دغه هېواد کې د پام وړ پراختیا موندلې ده. اوسمهال په دغه هېواد کې بانکي سیستم د مرکزي بانک چې RBI یا Reserve Bank of India له لوري رهبري کېږي او په دغه سیستم کې عامه بانکونه، خصوصي بانکونه او بهرني بانکونه فعالیت کوي.

**په افغانستان کې د بانکدارۍ تاریخي بهیر**

په افغانستان کې د مالي خدمتونه عرضه کول اوږده مخینه لري، خو په اوسنۍ بڼه مالي نظام او بانکداري په دې هېواد کې څه کم یوه پېړۍ په بر کې نیسې. تر ۱۳۱۲ل کال پورې په افغانستان کې کوم بانک او بانکي مؤسسه موجوده نه وه، بانکي خدمتونه به د صرافانو له لوري وړاندې کېدل او د دې خدمتونو د وړاندې کېدو دوه عمده بازارونه کابل او قندهار ولایتونه وو. په ۱۳۱۱ ل کال کې د مرحوم عبدالمجید زابلي، چې د افغانستان د بانکي نظام بنسټ ایښودونکی بلل کېږي؛ یو سهامي شرکت رامنځته کړ، دا شرکت (هاشمي سهامي شرکت یا شرکت سهامی هاشمی) نومېده او وروسته په (افغان ملي بانک) باندې ونومول شو. د دې بانک لومړنۍ پانګه ۹٫٦ میلونه افغانۍ وه چې ۷۲ سلنه یې خصوصي سکتور او ۲۸ سلنه یې د وخت دولت پورې اړوند وه.(٦: انټرنيټ)

په ۱۳۱۲ل کال کې لومړني بانک (افغان ملي بانک) په تأسیس سره په افغانستان کې د بانکدارۍ تاریخي بهیر پیلېږي. د یادولو وړ ده چې دا بانک په لومړیو کې خصوصي بیا وروسته یې د مرکزي بانک حیثیت خپل کړ. په

همدې ترتیب په ۱۳۱۸ل کال کې د افغانستان بانک منځته راغی او د بانکي سکتور مدیریت یې پر غاړه واخیست، چې ورپسې په ترتیب سره د بانکونو د ایجاد پروسه پرمختګ کوي او څو نور بانکونه لکه: پښتني تجارتي بانک، رهني او تعمیراتي بانک، زراعتي انکشافي بانک، صنعتي انکشافي بانک، د صادراتو د پراختیا بانک او د ګلاب الدین شېرزائي اسلامي بانک منځته راځي. په ټوله کې د افغانستان بانکداري په پنځو پړاونو تقسیم شوې ده:

**لومړی پړاو** (۱۹۳۲-۱۹۵۹): دا پړاو په افغانستان کې د بانکدارۍ د بنسټ اېښودلو پړاو بلل کېږي او دا بنسټ د عبدالمجید زابلي[۳] له لوري کېښودل شوی دی. په لومړی وار په ۱۳۱۱ ل کال کې د هاشمي سهامي شرکت ایجاد شو او ورپسې په افغان ملي بانک چې د افغانستان کې لومړنی بانک و، په ۱۳۱۲ ل کال کې په خصوصي بڼه د الماني بانکدارۍ په طرز رامنځته شو. دغه بانک وروسته د دولت د مرکزي بانک حیثیت خپل کړ او د نورو چارو د مخته وړلو ترڅنګ یې په هېواد کې د لومړي ځل لپاره بانک نوټ هم نشر کړ.(۹: ۱۳۳مخ) د افغانستان بانک په ایجاد سره د افغان ملي بانک ځینې صلاحیتونه یاد بانک ته انتقال شول، او دغه بانک افغان ملي بانک پرځای د مرکزي بانک واګې په لاس کې واخیستې چې تر ننه د افغانستان بانک د مرکزي بانک په توګه فعالیت کوي.

افغان ملي بانک د افغانستان د بانکي نظام بنسټ اېښودونکی بانک دی چې د لومړي ځل لپاره د ۱۳۱۲ ل کال د ثور په نهمه نېټه تأسیس شو. د دغه بانک لومړنی پانګه ۹٫٦ میلونه افغانۍ وه چې په دې پانګه کې ۷۲

[۳]عبدالمجید زابلی د عبدالحکیم خان تره کي زوی په ۱۲۷۱ ل کال کې په لرغونې او تاریخي هرات کې زېږدلی دی. د ده پلار اصلاً د زابل اوسېدونکی او د هېواد ملي سوداګر و. نوموړي په پښتو، دري، انګلیسي، الماني او روسي ژبو تسلط درلود. زابلي د غازي امان الله خان په وخت کې د مستوفیت او ګمرکاتو په برخو کې د دندو سربېره د اقتصاد وزیر پاتې شوی او د ډېرو تجارتي، اقتصادي او پراختیایي طرحو وړاندې کوونکی پاتې شوی دی. مرحوم زابلی د هېواد د نوي اقتصادي او بانکي سکتور بنسټګر دی چې دې برخه کې یې د پام وړ کارونه کړي دي.

فیصده د خصوصي سکتور او ۲۸ فیصده دولتي سکتور برخه وه. همداشان د نوموړي بانک په اړه ویل کیږي چې په لومړیو کې یې هاشمي سهامي شرکت په نوم فعالیت کاوه او دغه شرکت د دولت او انفرادي سوداګرو له لورې د ۵ میلیونو افغانیو پانګې په درلودو سره تأسیس شوې و.(۱۰: ۲٦۹مخ) افغان ملي بانک تر دې دمه څو مرحلې شاته پریښې دي چې لومړنۍ مرحله یې د تأسیس څخه تر ۱۹۷٦م کال پورې وه چې دا بانک لومړی خصوصي بیا ملي[٤] شو. دویمه مرحله یې د ۱۹۷٦ م کال څخه تر ۲۰۰۴م کال پورې وه چې په دې دوره کې افغان ملي بانک د یوه دولتي بانک په توګه د هېواد د بانکي نظام فعال غړی و. درېیمه مرحله یې په ۲۰۰۴ م کال کې پیل کېږی او تر ننه ادامه لري. په دې دوره کې یاد بانک د افغانستان بانک څخه خپل جواز ترلاسه او د ۱۳۸۲ هـ ش کال د افغانستان د بانکدارۍ د قانونی مطابق یې خپل فعالیت له سره پیل او تر دې دمه ادامه لري.

په همدې ترتیب سره د افغانستان بانک په ۱۳۱۸ل کال کې د یوسل شل میلیونو افغانیو لومړنۍ پانګې سره منځته راغلی دی، د دې بانک له تأسیس څخه د مخه افغان ملي بانک د مرکزي بانک یا د دولتي بانکدارۍ چارې مخته وړلې چې وروسته د دې بانک په تأسیس سره د دولتي بانکدارۍ چارې او د پیسو د چاپ او خپرولو مسئولیت د افغانستان بانک ته وسپارل شو.(۱٦: انټرنیټ)

**دویم پړاو** (۱۹۵۹ – ۱۹۷۸): د افغانستان د بانکدارۍ تاریخي سیر په درېیم پړاو کې د افغان ملي بانک او د دافغانستان بانک ترڅنګ درېیم بانک او ځینې نور بانکونه هم تأسیس شول. رهني او تعمیراتي بانک په ۱۹۴۸م کال، زراعتي بانک په ۱۹۵۴ م کال او پښتني سوداګریز بانک په ۱۹۵۹ م کال کې رامنځته شول. یادو بانکونو په اړوند اقتصادي سکتورونو او د هېواد په

---

[٤] افغان ملي بانک د ۱۳۵۴ ل کال پورې چې پانګه یې ۵۰۰ میلیونه افغانیو ته رسېده، شخصي یا غیر دولتي مالي مؤسسه وه چې بیا په همدې کال کې ملي شو او ټوله پانګه یې دولت پورې اړوند شوه.

ملي اقتصاد کې رغنده رول ولوباوه، چې وروسته په ۱۹۷۳م کال کې د صنایعو د پراختیا بانک او په ۱۹۷٦م کال کې د صادراتو د پراختیا بانک هم د دولت له لورې د ملي بانکونو په بڼه ایجاد شو او دې بانکونو د خپل اهمیت له کبله د هېواد په اقتصاد کې مهم رول درلود.

**دریېم پړاو** (۱۹۷۸- ۱۹۹۱م): په دې دوره کې په افغانستان کې د سیاسي کړکېچونو او کشمکشونو له کبله بانکونو پرمختګ ونه کړ او بانکي سیستم او نظام له ډېرو ستونزو سره مخامخ و چې له همدې امله د هېواد د اقتصادي پرمختګ پروسه هم له شدیدو ننګونو سره مخامخ وه.

**څلورم پړاو** (۱۹۹۱-۲۰۰۱م): د بانکدارۍ په دې پړاو کې د ګلاب الدین شېرزائي اسلامي بانک د خصوصي بانک په بڼه د ۱۳۷۲ ل کال کې د میزان په ۴مه نېټه د ګلاب الدین شېرزي له لوري د ۳ میلیارده افغانیو په پانګې سره رامنځته شو. د یوې لسیزې فعالیت وروسته دغه بانک په ۱۳۸۲ ل کال کې له دې کبله سقوط وکړ او له منځه ولاړ چې خپل بانکي جواز یې د افغانستان بانک څخه د مالي مشکلاتو له امله ترلاسه نه کړای شو.

**پنځم پړاو** (۲۰۰۱-۲۰۲۱ م): په دغه پړاو کې د افغانستان بانکي سیستم نوې مرحلې او بهیر ته داخلېږي او نوی بانکي سیستم منځته راځي چې په رأس کې یې د افغانستان بانک (مرکزي بانک) قرار لري او د افغانستان بانکي سیستم د همدې بانک له لوري رهبري کېږي. دا چې په دغه دوره کې د نړۍ د هېوادونو پام افغانستان ته راوګرځېد او د بیارغونې په نوم یوه نوې دوره پیل شوه، په دې دوره کې مالي او اقتصادي نظام هم د پرمختګ په لور چټک ګامونه واخېستل چې په پایله کې د همدې کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې د کورنیو او بهرنیو بانکونو شمېر هم ډېر شو او د دوی بانکي عملیاتو پراختیا ومونده. یو شمېر خصوصي بانکونو په ۲۰۰۳ او ۲۰۰٤ کلونو کې خپل جواز د افغانستان بانک څخه ترلاسه کړ او عملاً یې په فعالیت پیل وکړ د همدې بانکونو له جملې څخه په ۲۰۱۰ م کال کې کابل بانک چې یو

خصوصي سوداګريز بانک و؛ سقوط وکړ چې د اداري فساد پراخه عواملو د دې بانک له منځه تګ ته زمينه برابره کړه. دوباره د وخت دولت له لوري په ۲۰۱۱م کال د اپريل د مياشتې په ۱۳ نېټه د نوي کابل بانک په نوم رامنځ ته شو او د فعاليت جواز يې ترلاسه کړ. د يادونې وړ ده چې د کابل بانک له سقوط وروسته شپږ نورو بانکونو هم خپل فعاليتونه متوقف کړل چې دا موضوع د بانکدارۍ د پنځم پړاو او د افغانستان بانکي سکتور او سيستم لپاره په همدې پړاو کې تر ټولو لويه صدمه وه.

**شپږم پړاو** (اګست/۲۰۲۱- تر ننه) دا چې افغانستان اسلامي جمهوريت (۱۳۸۰-۱۴۰۰) د نړيوالې ټولنې او په ځانګړې توګه د امريکا او متحدينو په ملاتړ منځته راغلی و او د ۲۰۲۱ م کال د اګست پر ۱۵مه نېټه ړنګ شو او طالبان د اسلامي امارت تر چتر لاندې يو ځل بيا واک ته ورسېدل، نو د افغانستان بانکي سيستم هم يو نوي پړاو (شپږم پړاو) ته داخل شول. په دې پړاو کې بانکونه لومړی د يو لړ جدي ستونزو سره مخامخ شول او ډېرو سوداګرو او عامو خلکو هڅه وکړه چې خپل امانتونه او نقدې پيسې له بانکونو څخه وباسي، ورپسې د افغانستان په بانکي سيستم د نړيوالو او په ځانګړي ډول د امريکا له لورې يو لړ غير عادلانه بنديزونه ولګول شول، چې دې چارې د افغانستان بانکي سيستم له ننګونو سره مخامخ کړ. دې برخه کې يو لړ ګړندي قدمونه واخېستل شول او تر ډېره يې پايله هم ورکړه چې د هېواد بانکي سيستم څه نا څه دوباره ترميم او چارې په قرار قرار نورمال حال ته لاړې. همداشان د افغانستان د علومو اکاډمي ته د اسلامي امارت له لوري د ۱۴۴۳هـ ق کال د کابينې په ۱۵ او ١٦ ګڼو مصوبو کې دنده وسپارل شوه چې د افغانستان متعارفه او مروجه بانکداري په اسلامي بانکدارۍ بدله کړي. د همدې عمده موخې لپاره د افغانستان د علومو اکاډمي په چوکاټ کې د اسلامي بانکدارۍ او معاصرو مسائلو څېړنيز مرکز د ٢٦ مسلکي او علمي بستونو په تشکيل سره ايجاد شو. د دې مرکز له ايجاد څخه تر دې دمه د ياد

مرکز له لورې د پورته يادې موخې د ترلاسه کولو هڅې روانې دي. دا چې دا مرکز او حکومت به په دې ماموريت کې تر کومه بريالي وي، دا پريکړه به راتلوونکی وخت وکړي او د افغانستان د بانکدارۍ په شپږم پړاو کې به نور کوم بدلونونه رامنځته کېږي؛ دا به د همدې پړاو په ترڅ او وروستۍ برخه کې څرگند شي.

**پايله:**

په نړۍ کې د بانکدارۍ تاريخي بهير او د دې صنعت او خدمتونو وده د مختلفو پړاونو له طی کولو وروسته اوسني مدرن او پرمختللي حالت ته رارسيدلې ده. له ابتدايي وضعيت څخه چې په هغې کې د بانکدارۍ محدود خدمتونه په مختلفو ساحو کې وړاندې کېدل؛ دې حالت ته د بانکدارۍ د سيستم رارسېدو ډير وخت نيولی دی او دا هم له څېړنو جوتيږي چې په مختلفو هېوادونو کې لا هم د بانکدارۍ د خدمتونو په وړاندې کولو کې ډېرې ننگونې موجودې دي. د لومړنيو بانکي خدمتونو په اړه ويل کيږي چې له ميلاد څخه څه د پاسه دوه زره کاله وړاندې دا خدمتونه وړاندې کېدل چې د بانکدارۍ تاريخچه هم همدغه وخت پورې اړه لري. وروسته دغه سيستم په تدريجي شکل په اروپايي او بيا په اسيايي هېوادونو کې پرمختللی شو او همداشان د وخت په تېريدو سره يې د خپل ځانگړي ارزښت له کبله ټولې نړۍ کې مروج شو. د بانکي سيستم د خدمتونو او محصولاتو د تدريجي پرمختگ يو راز دا و چې د هېوادونو او ټولنو مالي سيستم او د دولتونو د مالي برخې په مديريت او پراختيا کې د بانکونو رول خورا ارزښتناکو دی. همدې اقتصادي اهميت ته په کتو او په مالي مارکيټ کې د مشتريانو (حکمي او حقيقي) اړتياوو او غوښتنو د پوره کولو په موخه د بانکي سيستم محصولاتو پراختيا موندلې ده. همدې اقتصادي مسائلو ته په کتو افغانستان هم يو له هغو هېوادونو څخه دی چې د بانکدارۍ تاريخچه په کې نږدې يوه پېړۍ په بر کې نيسي او دا تاريخي بهير له څو پړاونو څخه تيريږي او تر دې دمه دا بهير

رارسېږي او اوسمهال بانکونه مختلف محصولات او خدمتونه وړاندې کوي چې له خپل ځانګړي اقتصادي ارزښت څخه برخمن دي.

**مأخذونه**


۱ـ اقتصاد انلاین. ۱۳۹۳ . تعداد بانکها در کشور.
https://www.eghtesadonline.com/n/GY۷

۲ـ انجمن علمی اقتصاد شهری ایران.  شناخت و معرفي نظام های بانکداري. لاسرسی: https://iuea.ir/content/١٤٧٥/ ، د مراجعه نېټه: ١٤٠٢/١٠/٣.

۳ـ ابادي، علي زنگی و حسینی، رحمان علی. ((سیر تحول بانکداری از آغاز تا کنون))، فصلنامه اقتصاد و بانک، شماره ۱۱۰، ۱۳۸۹ل.

٤ـ چینستان. معرفي سیستم بانکي چین. ۲۰۱۸. نشر: chinestan.com/ . مراجعه: ۲۰۲۳/۵/۱۰م.

۵ـ د افغانستان بانک تاریخچه، لاسرسی: https://dab.gov.af/ps/ د مراجعه نېټه: ١٤٠١/٤/١٦ل.

٦ـ د افغانستان د اطلاع رسوني شبکه. شرح حال بانکهای افغانستان از گذشته تا به حال. لاس رس: http://www.afghanpaper.com/  د خبر کد: ۷۷۲۷۹، د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۳/۵/۲۱. مراجعه ١٤٠١/٢/٢٥ل.

۷ـ دیکشنري ابادیس- ایران، abadis.ir

۸ـ رضوی، مهدی او سهرابی، ابراهیم. عملیات بانکداری داخلی، جلد اول، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه ها (سمت): تهران، ١٤٠٠ل.

۹ـ سید مسعود. بانکداري، ژباړه: سید داود صمیم، چاپ، لومړی، کتاب خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۲ل.

۱۰- شبان، محمد انور او اسد، محمد نعیم. په افغانستان کې د پیسو او بانکدارۍ له نظریاتو او سیاست څخه د ګټې اخیستنې امکانات، ژباړه شېرخان حساس، دریم چاپ، حساس خپرندویه ټولنه: کابل، ١٣٩٦ل.
۱۱- شرقی، علی. ((پژوهشی در باره چاپ اولین اسکناس در ایران)). ایران نامه، یولسم کال، ۴مه شمېره ۱۳۷۲ل کال.
۱۲- فراهانی، مجتبی زمانی. پول، ارز و بانک، ۱۸ چپ، نرمه: تهران، ۱۳۹۳ل.
۱۳- هاشمي، عبدالرحیم دیزج. پول، ارز و بانکداري، چاپ دوم، شیران نگار: ایران، ١٣٨٦ل.
١٤- هاشمی، علیرضا. آموزش بانکداری الکترونیک، کوشیار لایبرري: ایران، ۱۳۹۲ل. لاسرسی:(www.kooshyarlibrary.com)

١٥_ Banking history in India. Available at: https://byjus.com/bank-exam/history-banking-india/. Access: ٥/٣/٢٠٢٣.

١٦- Daniel Slotta. ٢٠٢٢. Number of banking institutions in china... available at: statista.com/statistics/٢٥٩٩١٠/number-of-banks-in-china/. Access: ٥/٣/٢٠٢٣

١٧- J.D. Magee. The Italian banking system. Published by: Academy of Political Science. New York. P: ٤٣١. Available at: https://www.jstor.org/stable/pdf/١١٧١٦٨٤.pdf

١٨- Number of bank in Italy. (٢٠٢٢). Statissta.com

١٩- Riksbank, access: www.riksbank.se. Access: ١٣/ Jun/ ٢٠٢٢

٢٠- Statistic Research Department. ٢٠٢٣. Number of FDIC-insured commercial banks in the United States... statista.com. Access: ٢٠/٥/٢٠٢٣.

٢١- Study Smarter. History of Banking in the U.S. available at: studysmarter.co.uk/explanations/macroeconomics/financial-sector/banking-in-america/. Access: ٢٠/٥/٢٠٢٣

٢٢- The bank of Amsterdam, www.beursgeschiedenis.nl. Access: ١٣/٦/٢٠٢٢

٢٣- The republic of china and bank of china... history (١٩١٢), available at: https://www.boc.cn/en/aboutboc/. Access: ٥/٣/٢٠٢٣ .

٢٤- Theaufinance.com/banks. List of banks in Australia. ٢٠/٥/٢٠٢٣

٢٥- Westpac.com.au/about-westpac-group/company-overview/our-history/. Access: ٢٠/٥/٢٠٢٣

څېړندوی شېرحسن کمالزی

# د محمد موسی شفیق ژوند، اند او سیاسي تبحر

# Muhammad Musa Shafiq's life, thought and political skills

***Assistant Professor Shirhassan Kamalzai***

**Abstract**
Muhammad Musa Shafiq was a phenomenal personality who was a good politician in the field of politics, a famous culturalist in the field of culture and a good author and poet in the field of writing and poetry. He will always be remembered in history. He changed Afghanistan's foreign policy, which was mostly frozen, into a vibrant and dynamic one; he started relations with many countries and tried his best to solve issues with Afghanistan's neighbors. It can be clearly seen that all these aspects have been considered in this article to be able to present his academic and political life along with his personal life to the readers.

**لنډیز**

محمد موسی شفیق څو اړخیز شخصیت درلود چې د سیاست په ډګر کې ښه سیاستوال، د فرهنګ په ډګر کې نومیالی فرهنګیال او د لیکوالۍ او شاعرۍ په برخه ښه لیکوال او شاعر و، نوموړی کم ژوند وکړ خو ډېر څه یې په میراث پرېښودل، چې په تاریخ کې به تل په ښه نامه یاد شي. نوموړي د افغانستان

بهرني سياست چې تر ډېره کنګل حالت يې غور کړی په خوځنده او متحرک سياست بدل کړ، ډېرو هېوادونو سره يې اړيکې پيل او له ګاونډيو سره يې د مسايلو په حل کې پوره هڅه وکړه، چې د ده سياسي او علمي تبحر تر دې ښه ځرګندېدای شي، په دې مقاله کې دې ټولو برخو ته پام شوی تر څو وکولای شو چې د ده د شخصي ژوند ترڅنګ علمي او سياسي ژوند هم د درنو لوستونکو لپاره راوسپړو.

**سريزه**

محمد موسی شفيق د افغانستان د شاهي نظام وروستی صدراعظم و، نوموړی په داسې وخت کې د صدارت تر څوکۍ ورسېد چې د ملي شورا او د حکومت ترمنځ کشمکش تر دې کچې رسېدلي و، چې يو پر بل پسې څو لومړي وزيران راغلل او لاړل او له بلې خوا څخه د وچکالۍ توري څپې هم پر هېواد توري وزرې غوړولې وې. له ګاونډيو سره د افغانستان اړيکې هم تر ډېره کمرنګه وې. تر ټولو لويه بلا د سرې يږې مخه وه، چې د افغانستان په ګډون ټول ګاونډي هېوادونه په وېره کې وو.

په داسې حالاتو کې د ځوان او ځيرک لومړي وزير محمد موسی شفيق د لومړي وزير په توګه ټاکل کېدل او دې څوکۍ ته د ده زړه نيول ډېره ستونزمنه خبره ده. نوموړي وکولای شول په ډېر لنډ وخت کې د ملي شورا اعتماد ترلاسه کړي. ده د کارونو د لا ښه‌والي لپاره خپل دفتر ملي شورا ته انتقال کړ؛ د اونۍ يوه ورځ به هلته و، چې په دې توګه د حکومت او ملي شورا ترمنځ کشمکش راکم کړ. ده ته تر ټولو لويه ننګوونکې مسئله د وچکالي وه، ده وکولای شول چې په ډېر مهارت سره دا ستونزه حل کړي. له ايران سره د اوبو مسئله هم د افغانستان لپاره يوه حياتی مسئله وه، چې بايد د اړيکو د ښه‌والي لپاره حل شوې وای، چې هماغسې وشول. که څه هم په دې مسئله مخالفونو خنډونه جوړ کړل، خو ځوان لومړی‌وزير ترې بريالی ووت. نوموړي غوښتل چې د افغانستان د نظام بنسټونه په اسلامي روحيه سمبال کړي، په راډيو کې

اذان، په ملي بسونو کې د ښځو لپاره د ځای ځانګړي کېدل، په کابل کې د کلیسا ړنګول هغه لومړني ګامونه بللی شو چې دیني ارزښتونو ته د ښاغلي موسی شفیق ژمنتیا په ګوته کوي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د څېړنې اهمیت په دې کې دی چې ارواښاد موسی شفیق په علمي او سیاسي برخو کې خپل ګران وطن ته ډېر خدمت کړی، د ده په ژوند او اند باندې به هرومرو کار شوی وي، خو دلته یې د ژوند په چارو باندې لنډ غړېدلي یو، زموږ د ځوان نسل لپاره د موسی شفیق ژوند، اند، علمي او سیاسي تبحر ډېر اړین دی او باید نوی کهول پرې پوه شي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې موخه دا ده چې د ارواښاد شفیق ادبي، فرهنګي او سیاسي ژوند او پېښو باندې رڼا واچول شي او په اساس یې موږ د نوموړي رسا لاره وپالو.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. د موسی شفیق ژوند او اند څه ډول ارزولی شو؟

۲. د موسی شفیق لوړې زده کړې سیاسي او فرهنګي ژوند یې له څومره صلاحیت برخمن و؟

۳. د موسی شفیق په اړه سیاستوال او لیکوال څه نظر لري؟

**د څېړنې میتود**

د دې څېړنې میتود تشریحي ـ تحلیلي دی او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

**د محمد موسی شفیق پېژندنه او زده کړې.**

محمد موسی شفیق د ۱۳۰۸ لمریز کال د غبرګولي پر پنځمه نېټه په کابل کې په یوه منوره او فرهنګي کورنۍ کې دې دنیا ته سترګې وغړولې. پلار یې مولوي محمد ابراهیم کاموي د ننګرهار د کامې ولسوالۍ له مخورو

شخصيتونو او علماوو څخه و چې په قضايي ادارو کې يې کار کاوه، کاموي په خپله برخه کې د محکمې تر رياسته کارونه کړي دي.

محمد موسی شفيق خپلې لومړنۍ زده کړې د کامې په ولسوالۍ کې پيل کړې، بيا ورپسې يې په جلال اباد کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او بالاخره په کابل کې يې خپلې لومړنۍ زده کړې پای ته ورسولې.

ثانوي زده کړې يې د کابل په دارالعلوم مدرسه کې پای ته ورسولې. له هغې وروسته د مصر هېواد د الازهر پوهنتون څخه يې د اسلامي حقوقو په برخه کې د ليسانس تر کچې خپلې زده کړې پای ته ورسولې.

د هغې مينې او ذوق له امله چې له حقوقو او اسلامي علومو سره درلوده، د مصر له ياد پوهنتون څخه د اسلامي حقوقو په برخه کې په ۱۳۴۴لمريز کال کې خپله ماستري هم ترلاسه کړه.

د نورو عصري زده کړو د ترلاسه کولو لپاره امريکې ته لاړه، هلته يې د نړيوالو حقوقو په برخه کې د نيويارک ښار د کولمبيا له پوهنتون څخه خپله دويمه ماستري ترلاسه کړه او په ورته وخت کې يې د امريکا له هاروارډ پوهنتون څخه د نړيوالو اړيکو په برخه کې د بري سند ترلاسه کړ.

د افغانستان د علومو اکاډمي د تاريخ انستيتوت آمر او تاريخ ليکونکی څېړنپوه دوکتور محمد شريف ځدراڼ د اروابناد موسی شفيق د ژوند او اند په اړه ليکلي دي: ((اروابناد محمد موسی شفيق په ۱۳۰۸ لمريز کال د جوزا پر پنځمه نېټه د کابل په ښار کې د مولوي محمد ابراهيم کاموي په روشن فکره او عالمه کورنۍ کې دنيا ته سترگې وغړولې. د خپل عالم پلار په لارښوونه يې د هېواد په مدارسو او له هېواد څخه بهر په مصر او امريکا کې ديني او عصري زده‌کړې د ماسترۍ تر کچې سرته ورسولې. ښاغلي شفيق د لوړو زده‌کړو ترڅنگ د لوړ استعداد، پوهې او لياقت څښتن او يو وتلی اديب، ليکوال او سياستدان و)). (۱، سريزه: ج)

محمد موسی شفیق د لوړو زده کړو له پای ته رسولو وروسته افغانستان ته راغی او دلته په کابل پوهنتون کې د حقوقو او نړیوالو حقوقو په برخه کې په تدریس ورکولو پیل وکړ، خو لکه څنگه چې یې علمي او سیاسي تبحر له دې لوړ و، نو دلته یې هم ارام ونه موند، په څېړنو او مقالو لیکلو یې پیل وکړ او له دې سره یې له ځینو مقالو او ورځپاڼو سره همکاري پیل کړه چې په دې سره د (ورمې) مجلې د رئیسه پلاوي غړی، د حقوقو مجلې رئیسه پلاوي غړی، د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز اړوند د (پښتو) مجلې همکار، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو اړوند د (زېري) جریدې همکار او د عدلیې وزارت د (حی علی الفلاح) خپرونې د مسئول مدیر په توگه کار کړی دی.

په خپله محمد موسی شفیق د خپلو زده کړو په اړه لیکلي دي: ((زما په روزنه کې تر ټولو مهم اغېز د پلار و، د هغه مثبتو نظریو پر ما خورا ژور اغیز کړی و او ځینې وخت به یې خپل نظریات پر ما تحمیلول. د هغه یو شمېر نظریات هغه مهال گټور برېښېدل، خو وروسته یې منفي رنگ خپل کړ.)) (۲: ۲۶مخ)

د محمد موسی شفیق پلار مولوي محمد ابراهیم کاموي د هېواد له نوموتو څېرو گڼل کېده، مولوي صاحب کاموي د افغان ـ انگلیس د درېیمې جگړې پر مهال، د ننگرهار په سراج العمارت کې د انگریزانو پر ضد د جهاد فتوا ورکړه چې له ده وروسته د کابل په عیدگاه کې غازي امان الله خان هم جهاد اعلان کړ، ده په خپله د ملي لښکرو په ترتیب کې ښکاره رول درلود او په جهاد کې یې فعاله ونډه ونډه لرله.

شهید موسی شفیق د خپل پلار په اړه وایی: زما پلار د هغه اوږده او حساس ماموریت له کبله چې د افغانستان په اوسني او پخواني دور کې یې سرته رسولي، د افغانستان په تاریخ کې د یوه معین دور نمایندگي کوي، زه په خپل ځان کې د هغوی د مثبتو او گټورو نظریاتو تاثیر گورم.

سره له دې چې مولوي صاحب کاموي د هېواد په مختلفو برخو کې د قضا ستره او ستونزمنه دنده ترسره کړې وه، خو ژوند يې ساده وه.

ژورنالیست او لیکوال عبدالباري شهرت ننګیال د شفیق په باب په خپله څېړنه کې د ارواښاد مولوي کاموي په اړه لیکلي دي: کله چې خدای بخښلي د مزار شریف مرافعه محکمې له ریاست نه تبدیل شو، سیمه ییزو چارواکو يې د لوښو او سامان الاتو لېږدونې لپاره يو موټر ورلېږلی و، خو دی چې له خپل استوګنځي راووت، يوه زړه بړستنه، يو تور چای جوش او څو ګیلاسونه ورسره وو، چارواکو داسې ګڼلې وه چې کېدای شي په دغه موټر کې به يې هم قالینې او نور سامانونه ځای نه شي، خو چې وې لیدل د هغه ټول سامان د یوې غوټې په کچه دی، هک پک حیران شول.

په هغه وخت کې چې په ښارونو کې لا د ښځینه‌وو زده‌کړې ناشونې برېښېدې خو د محمد موسی شفیق مور او خور هم په هغه وخت کې تعلیم کړی و، چې د افغانستان کلیوالو سیمو کې خلکو د ښځو تعلیم ته جدي پاملرنه نه کوله. شفیق په خپل کور کې قران کریم زده کړ او وروسته يې د خپلو ملي او رسمي ژبو پښتو او دري په اړه ابتدايي پوهه هم ترلاسه کړې وه. د نورو دیني زده کړو لپاره نجم المدارس ته لاړ.په همدې مدرسه کې شفیق د اسلامي فقهې اساسي پوهه ترلاسه کړه، نوموړی په دې مدرسه کې ډېر پاتې نه شو، ځکه د ده پوهې او ځیرکتیا او په کور کې ترلاسه شوې روزنې ورسره مرسته وکړه چې خپلې دینې زده کړې په لنډ وخت کې بشپړې کړي.

محمد موسی شفیق له هغه نه وروسته د نورو لوړو زده کړو لپاره د کابل شرعي دارالعلوم ته لاړ. په دې مدرسې کې تر دې مهاله د کلاسیک تدریس میتود څخه ګټه اخیسته او ډېری ښوونکي يې محلي علماء وو. وروسته بیا دې دارالعلوم ته مصري ښوونکي را ورسېدل چې د تدریس میتود يې له الازهر پوهنتون سره سم عیار کړل. (۲: ۲۶مخ)

په دارالعلوم کې محمد موسی شفيق د مولانا غلام نبي کاموي له نفوذه اغېزمن شوی و. شفيق له همدې مدرسې فارغ شو او د شاهي دارالعلوم د تحريراتو په برخه کې پر دنده وگومارل شو.

تر دې ځايه د ده د زده‌کړو هغه برخه ده چې په هېواد کې دننه يې کړې وې، خو نوموړی په دې باندې بسنه نه کوي، له هېواد نه بهر د زده کړو لپاره ځي. مولانا ابراهيم کاموي غوښتل چې زوی يې د تعليم په برخه کې نور پرمختگ وکړي، نو ځکه يې له لومړي وزير شاه محمود غازي وغوښتل چې موسی شفيق ته په الازهر کې د نورو زده کړو زمينه برابره کړي. الازهر هغه مهال د ديني زده کړو په ډگر کې د نړۍ په کچه لرغونی او نامتو پوهنتون و او هر زده کونکي غوښتل چې زده کړې په کې وکړي.

د محمد موسی شفيق د ديني زده کړو پوخ بنسټ له نوموړي سره مرسته وکړه چې په مصر کې د نورو لوړو زده کړو په موخه تحصيلي بورس ترلاسه کړي. د نوموړي يو خوب په رښتيا بدل شو او په ۱۹۵۳م کال مصر ته لاړ. محمد موسی شفيق په مصر کې د افغانستان سفير او پياوړي سياستوال عبدالهادي داوي له ملاتړ او مرستې برخمن شو. په خپله موسی شفيق ويلي دي: ما په مصر کې د ښاغلي داوي له پوهې ډېره گټه پورته کړه. په افغان سفارت کې د داوي ځايناستي علامه صلاح الدين سلجوقي د هغه مهال مفکر او فيلسوف، د عربي او دري ژبې تکړه شاعر هم و. نوموړي هم د شفيق له تعليم او زده کړې سره لېوالتيا څرگنده کړه. سلجوقي د شفيق په کرکټر کې د زده کړې لپاره ژوره تنده ليدلې وه او د نوموړي له علمي سويې او اخلاقو خورا اغېزمن شوی و.

په ديني زده کړو کې د شفيق بنسټ پوخ و، نوموړي د شرعياتو پوهنځي له ازموينې بريالی راووت، خپلې زده کړې يې په اسانۍ بشپړې کړې. له دې وروسته شفيق د قانون په برخه کې د ماسترۍ دوه کلنې زده کړې پيل کړې چې په ۱۹۵۵م کې يې بشپړې شوې دي. په همدې ورځو کې په الازهر کې

نامتو علماء لکه شيخ محمود شلتوت چې وروسته د الازهر پوهنتون شيخ شو او شيخ محمود الباهي د پوهنتون راتلونکی مرستيال او د اوقافو وزير شتون درلود. شفيق د همدې کسانو له ژورې پوهې ستره ګټه پورته کړه.

شفيق په مصر کې ځان يواځې تر خپلو زده کړو محدود نه کړ، نوموړي په نورو فعاليتونو کې هم پراخه ونډه اخيسته. د پياوړي او جذابه شخصيت په لرلو سره نوموړي د افغان محصلينو سربېره په الازهر کې د نورو محصلينو باور هم ترلاسه کړ. په ټولنيزو محفلونو کې به يې د بهرنيو زده کوونکو استازيتوب کاوه او د شام نسيم په پسرلنۍ مېله کې د محصلينو په استازيتوب د مصر د ولسمشر جنرال نجيب په شتون کې خبرې وکړې.

شفيق داسې مهال په مصر کې پر درس بوخت و چې مصر له سترو بدلونونو سره مخامخ و، مصر تازه د پوځي جنرالانو لاس ته پرېوتی و. پاچا فاروق له واکه ګوښه شوی و او جمهوريت اعلان شوی و.

ټول سياسي ګوندونه د واک تر لاسه کولو لپاره پر سياليو او کشمکش بوخت وو. اخوان المسلمين هغه مهال د خلکو له پراخه ملاتړ برخمن ګوند و او هيله يې درلوده چې په نوي حکومت کې به د واک ستره برخه ترلاسه کړي، خو د کودتا او د ولسمشر جمال عبدالناصر پر ترور تورن شول.

د اخوان المسلمين د مشرتابه يو شمېر غړي ونيول شول او څلور تنه يې د محمکې له لورې اعدام شول. له دې وروسته په مصر کې د اخوان المسلمين پر فعاليتونو بنديز ولګېد چې په نتيجه کې يې پټ فعاليت ته مخه کړه. موږ داسې شواهد نه لرو چې له اخوان المسلمين سره د شفيق تړاو ثابت کړي، خو دا ستونزمنه ده چې باور وکړو چې شفيق دې د دوی له نفوذه لرې پاتې شوی وي.

که څه هم افغانستان ته لا راستنېدو وروسته محمد موسی شفيق له هغو اسلامي ګوندونو سره يوځای نه شو چې د نورو افغان ازهريانو له لوري رامنځته شوي وو، خو د خپل سياسي ماموريت په وروستيو کې نوموړي په افغانستان

کې سیاسي او ټولنیزو اصلاحاتو ته مخه کړه چې په دې برخه کې د مخالفینو د تعبیر له مخې نوموړی د اخوان له فکره اغېزمن شوی و.

محمد موسی شفیق د الازهر د بورسونو په ازموینه کې ګډون وکړ او کولمبیا پوهنتون ته د قانون په برخه کې د لوړو زده کړو لپاره انتخاب شو. د بورسیې له ګټلو وروسته نوموړي د علامه صلاح‌الدین سلجوقي په مرسته د خپلو زده کړو پرمخ وړلو لپاره د انګلیسي ژبې زده کړې ته مخه کړه.

د محمد موسی شفیق د ژوند نوی فصل به نیویارک کې پرانېستل شو، که څه هم مصر د شفیق له پخواني چاپېریال (کابل او هډې) نه توپیر درلود، خو اسلامي دود او د کلتور ورته والي په کې شفیق له ستونزو سره مخامخ نه کړ. له بل لوري نیویارک او امریکا د ده لپاره په بشپړه توګه نوی چاپېریال و. (۲: ۲۸- ۲۰مخونه)

دې هر څه د محمد موسی شفیق په ټولنیز او سیاسي ژوند خپل اغېز درلود چې د ده په څو اړخیز شخصیت کې موږ ښه درکولای شو. د نوموړ ي په اړه ډېرو پوهانو خپل نظرونه وړاندې کړي چې دلته به په لنډیز د ده په اړه ځینې نظرونه او خاطرې وړاندې کړو.

ډاکټر صمد حامد وایي: یو کس دا انګېرلی شي چې شفیق د ظاهري بڼې له مخې د ویښتو او جامو بڼه بدله شوې وه، خو اسلامي عقیده د شفیق د سیاسي ایډیالوژۍ بنسټ و، د هغه کلک باور دا و چې د اسلام په رڼا کې د راتلونکي لپاره لار ویستل شوني دي. (۲: ۳۰مخ)

څېړنپوه نصر الله ناصر د موسی شفیق په اړه لیکلي دي: تر ډاکټر ظاهر وروسته موسی شفیق د افغانستان صدارعظم شو او په خپل وخت کې یې خورا ګټور هر اړخیز کارونه ترسره کړل. ده د وچکالۍ د ختمولو لپاره د اوبو لګولو وزیر ډاکټر عبدالوکیل چې د ښو تجربو خاوند و، د وزارت په څوکۍ وګوماره او هغه هم په پوره ځیرکتیا سره د وچکالۍ ستونزه ختمه کړه او افغانستان ته یې لا پسې سپما هم وکړه. د ډاکټر شفیق په وخت کې د

بزګرانو توليدات بهر ته لېږدول کېدل چې له دې سره بزګرانو او په ټوله کې هېواد ته ډېره ټولنيزه ګټه وه.

د محمد موسی شفيق په وخت کې د فساد او بې لاريو دروازې بندې شوې. د علم او ادب په ډګر کې بېساری پرمختګ وشو او له طبيعي زېرمو څخه په ګټې اخيستنې کې ښه والی راغی. د موسی شفيق په وخت کې د اوبو پر سر د ايران او افغانستان لويه ستونزه هم په نړيواله کچه حل شوه. (۳: ۹۴مخ)

يو له هغو کسانو چې له شفيق سره يې ليدلي او د هغه د وطن پالنې احساس يې درک کړی، ارواښاد محمد حسن ولسمل دی، نوموړی نه يوازې د ارواښاد د کلي او کور سړی و، بلکې د هغه شاګرد هم پاتې شوی دی، ښاغلی ولسمل د شهيد موسی شفيق د صدارت پر مهال د (افغان) جريدې مسئول مدير و، نوموړي له ارواښاد شفيق سره د خپلې پېژندګلوۍ په اړه داسي وايي: ارواښاد موسی شفيق د افغانستان د يو ډېر لوی او محترم شخصيت مولوي ابراهيم کاموي زوی و او دا ډېر خدمتګار شخص تېر شوی، په افغانستان کې دوی په لنډه‌بوچ کې اوسېدل او موږ په ګېيک کې، موږ او دوی پلوان شريکان وو سره، کله چې بيا زما د پوهنتون دوره وه، نو په دې وخت کې شفيق صيب خارج نه راغلی و، د مصر او امريکې نه يې دوه ماستری اخيستې وې، بيا زموږ استاد و، په پوهنتون کې، دا پېژندګلوي وه، کله چې بيا صدراعظم شو، نو دې وخت کې ما اخبار لره، يو ازاد او ملي اخبار و، که درته رښتيا ووايمه چې دی هماغه زما اخبار صدراعظم کړ، يو ځل په ملي شورا کې د پښتو او فارسي مسئله پورته شوه، زما اخبار د پښتنو خوا ونيوله، يوه شپه په مطبعه کې چې رفيع صيب هم ماسره همکاري کوله، اخبار زموږ چاپېده چې د شپې احوال راغی چې سبا سهار ستاسو اخبار په مطبعه کې نيول کېږي، ما له وکيلانو سره تماس ونيو، په دې کې وکيلانو ماته وويل چې يوه بېلګه را وباسه، نو بيا ما او رفيع صيب ډېر کوښښ وکړ او يو څه اخبارونه مو له مطبعې نه پټ

وویستل، سبا چې مونږه پیسې تحویل کړې او د فابریکې خولې ته راغلو، نو څارنوالان همه‌ته راغلل او اخبار یې ونیوه، کله چې سبا شو، نو وکیلانو وویل چې بېلګه چېرې؟ ما وویل در لېږلې مې ده او شورا ته ځان ورسوئ، هلته چې اخبار وکیلانو ته رسېدلی و او اعلان په راډیو کې تېر شو چې اخبار مصادره شو، دا وکیلان د احتجاج په ډول صدارت ته لاړل، زما د اخبار د مصادرې په باره کې، هلته چې ډاکټر عبدالظاهر صدراعظم و، هغه یې سلب اعتماد اعلان کړ، په دې وخت کې شفیق صیب خارجه وزیر و، دا ټول جریان هغه وخت د بي بي سي نه نشر شو، د ډاکټر ظاهر د سلب اعتماد او بیا د هغه استعفاء دوه هفتې بعد پاچا ومنله او محمد موسی شفیق صیب صدراعظم شو، نو زما او د ده دغسې شروع وه چې هم د شاګردۍ او استادۍ او هم په سیاسي ډګر کې دا جریان و، کله چې شفیق صدراعظم شو، نو زما او د ده ترمنځ پهلواني وه، ما به د اخبار له لارې پرې انتقادونه کول، دیموکراسي وه، خوند یې کاوه، زما اخبار ته ډېرو مهمو کسانو لیکنې کولې، لکه پخواني صدراعظم شهید میوندوال، ارواښاد حبیبي، ارواښاد بېنوا، ارواښاد ګل پاچا الفت، ارواښاد صدیق الله رښتین، ارواښاد قیام الدین خادم او نور مهم اشخاص چې زما اخبار ته به یې مقالې لیکلې او دا زما اخبار حکومت سره مخالفت کې واقع وه.

د شهید موسی شفیق په اړه ارواښاد ولسمل صیب ډېرې خبرې لري او ټولې یې جالبې دي او له دغه ځایه ښکاري چې موسی شفیق څومره دقیق انسان و او په دې خاوره او اسلام څومره مین شخص و.

لیکوال او تاریخ پوه ظاهر جلالي د ارواښاد شفیق په اړه خپله یوه لیکنه کې ویلي دي: د محمد موسی شفیق له راتګ سره به پاچا ظاهر شاه ویل چې ده څلوېښت کاله وروسته د خپلې خوښې لومړی وزیر موندلی دی، له همدې امله د پخوانیو صدراعظمانو په پرتله، پاچا شفیق ته ډېر واک ورکړی و. ارواښاد موسی شفیق د شورا په ودانۍ کې ځانته دفتر پرانیست او د اونۍ یوه

ورځ به هلته ناست و، د شفيق فعاليتونه له شورا سره د ده د حکومت اړيکې ډېرې ښې کړې وې.

دغه راز د شفيق د فعال حکومت په باب تاريخ پوه سيد قاسم رشتيا هم په خپلو خاطراتو کې يوځای ليکي: شفيق يو شمېر ځوان او تحصيل يافته عناصر خپل شاوخوا ټول کړي وو، چې د هغو ډېرو سابقه نه لرله، دوی يو ډېناميک؛ خو نوښتگر حکومت منځته راوړ او يو لړ مغلق او پېچلي مسايل يې په ډېر جرأت له شورا سره د جوړ جاړي له لارې حل و فصل کړل.

دغه راز د اروابناد موسی شفيق د سياسي مفکورې او ځيرکتيا په اړه تاريخپوه او ليکوال حبيب الله رفيع وايي چې نوموړی پر ديني او ملي ارزښتونو پوه او ځوان سياستوال و، د رفيع صيب پر وينا کله چې شفيق صدراعظم شو، نو د يوه اسلامي حکومت د بنسټونو ټينگولو هڅې يې پيل کړې. ښاغلی رفيع زياتوي ((موسی شفيق د افغانستان يو با استعداده ځوان و چې د هېواد نه بهر يې لوړې زده کړې، کړې وې، دی د ملي سياست په ارزښتونو پوه و، د اسلامي سياست په ارزښتونو پوه و، کله دی د ډاکټر عبدالظاهر په کابينه کې د باندنيو چارو وزير شو، نو گڼو بهرنيو هېوادونو ته يې سفرونه وکړل او د افغانستان د پېژندنې او اړيکو خصوصاً اسلامي هېوادونو سره د اړيکو ټينگېدو په برخه کې هڅې وکړې، کله چې صدراعظم شو د خپلې کړنلارې له مخې يې په هېواد کې د يوه اسلامي حکومت د اساساتو د ټينگولو هڅې وکړې، په راډيو کې اذان کول شروع کړل، په عين حال کې د ښځو لپاره په سرويسونو کې ځانگړي ځايونه وټاکل، په همدې ترتيب يو شمېر اسلامي احکام يې عملي کول غوښتل او کوښښ يې کاوه چې د کمونيزم مخه ونيسي، د هغه سور توپان چې پر افغانستان را روان وه، د هغو مخې ته ودرېږي، دې برخه کې يې ډېرې هلې ځلې وکړې او ډېرو هېوادونو ته يې سفرونه وکړل، خو بدبختانه چې خلقيانو خپل پروگرامونه جوړ کړي وو او ده ونه کړای شوه چې خپل هدف ته د رسېدو لپاره چټک گامونه واخلي، چې بيا

د سردار داود خان کودتا د دې باعث شوه چې د ده حکومت ړنګ کړي او بلاخره د کمونیستانو په راتلو سره دی بندي شو چې بیا د خپل هېواد د ازادۍ په لاره کې شهید شو. که څه هم ارواښاد شفیق د داود خان له کودتا وروسته بندي شو، خو مؤرخین د هغه بندي کېدنه د سیاسي ملحوظاتو له امله ګڼي، ښاغلي موسی شفیق له بنده تر خلاصېدو وروسته کومه رسمي دنده نه لرله.

استاد حبیب الله رفیع وایي چې د ښاغلي شفیق بندي کېدنه یواځې او یواځې سیاسي انګېزه لرله، خو دی د نورو بندیانو په څېر تر شدت او سختیو لاندې نه وه، حتی د وخت ولسمشر داود خان د بند په موده کې هم ترې سلا مشورې غوښتلې، استاد رفیع وایي ((د داود خان په وخت کې دی ځکه بندي شوی وه چې هغه نوی حکومت او نوی رژیم و او دی د نسکور شوي حکومت صدراعظم و، نو په دې اساس شفیق صیب د سیاست له مخې په زندان کې وه، لیکن کوم شدت او سختي ورسره نه وه شوې، حتی یو وخت سردار محمد داود خان ور غوښتی و او مشوره یې ورنه غوښتې وه، د داود خان په ټوله دوره کې دی بندي پاتې شو، لیکن شدت ورسره ونه شو او د یوه معزز او محترم بندي په حیث ساتل کېده، خو کله چې کمونستان راغلل، نو د ده زندان یې سخت کړ او بالاخره په زندان کې شهید کړای شو)) (۴: ۱۳۶ مخونه.)

محمد موسی شفیق د افغانستان د هغو چارواکو له ډلې څخه دی چې د قانون تر سیوري لاندې یې د حکومتدارۍ غوښتنه کوله، هغه د افغانستان د ترقۍ او ابادۍ یواځینۍ لاره، عدالت او قانونیت ګڼل او د دغه ستر بشري هدف لپاره یې د ۱۳۴۳ لمریز کال د نوي اساسي قانون د طرحې او تصویب په کار کې ستره ونډه واخیسته او د اساسي قانون په لسیزه کې یې د استاد، قانون جوړونکې، وزیر او صدارعظم په توګه خپلې ملي او تاریخي رسالت تر ډېرې کچې سرته ورساوه. (۱: ج، مخ.)

محمد موسی شفیق که په مصر کې زده‌کړې کړې دي او که په امریکا کې له خپلو استادانو او مشهورو پوهانو سره یې نږدې اړیکې لرلې او د ژوند تر ورستیو یی ورسره پاللې، له دې ډلې څخه یو کس قاضي القضات او په کولمبیا پوهنتون کې د قانون پروفیسور او د امریکا د سترې محکمې قاضي ویلیم ډګلس و.

همدارنګه کله چې سردار محمد داود خان په ۱۹۷۳م کې محمد موسی شفیق زنداني کړ، د نوموړي یوه ښوونکي په همغو ورځو کې د په یوه محفل کې د افغانستان سفیر سره لیدلي و او ورته ویلي یې وو چې داود زما زوی (شاګرد) زندانی کړی او دا کار ستاسي د هېواد په زیان دی. (۱: ۳۰مخونه.)

موسی شفیق د افغانستان یو لوی کادر وو، خپل وطن ته یې خورا ډېر خدمتونه کړي دي، تر دې ور هاخوا په سیاست کې یې لویه ونډه درلوده، کومې سیاسي پرېکړې یې چې کړي دي د افغانستان په خیر تمامې شوي.

کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایي د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه کې داسې لیکي: موسی شفیق چې د ډاکټر ظاهر په کابینه کې د بهرنیو چارو وزیر و، د ډاکټر ظاهر تر استعفاء وروسته په ۱۹۷۲ زېږدیز د ډسمبر پر ۲۴ مه او د ۱۳۵۱ کال د لیندۍ پر ۱٦مه نېټه د محمد ظاهر شاه له خوا د کابینې په جوړولو مامور شو. (۶: ۲۵۲مخ)

شفیق یو ځوان او زړور صدارعظم و، نوموړي عالي تحصیلات په قاهره کې سرته رسولي وو او د اخوانیت تعهدات یې هم درلودل. محمد موسی شفیق تر هر صدراعظم له ملي شورا سره ښې اړیکې درلودلې او حتی د شورا په ماڼۍ کې یې یو دفتر ځانته جوړ کړی و او د پارلماني روابطو وزیر یې هم مقرر کړی و.

د ده په دوره کې ډېرې اقتصادي پروژې تر کار لاندې راغلې، خو متاسفانه چې د سردار محمد داود خان د جمهوریت کودتا پر هغو ټولو خپل شوم

سیوری راخپور کړ. همدارنګه د شاهي کورنۍ غړي حتی شاه ولي خان او سردار ولي خان هم د شفیق سره جوړ نه و.

**د هلمند له سیند څخه د افغانستان او ایران د ګټې مسئله**

محمد موسی شفیق په ۱۳۵۰ ـ ۱۳۵۱ کلونو کې د محمد ظاهر شاه له خوا د ده د ایمانداری او کارپوهنې له مخې د لومړي وزیر (صدراعظم) په توګه وټاکل شو او د هېواد په جوړولو کې یې غوره کارونه پیل کړل.

دی د شاهي نظام وروستی صدراعظم و. ښاغلی محمد موسی شفیق په داسې مهال کې د لومړي وزارت څوکۍ ته ورسېده چې هېواد له یوه سخت کړکېچن او دردونکي حالت سره مخ کېدونکې و، د افغانستان په داخلي چارو کې د وخت زبر ځواک (شوروي اتحاد) مستقیمه او نامستقیمه لاسوهنه زیاتېدله، له بلې خوا د سیمې او ګاونډې هېوادونه هم له دې تاړاکه د ځان ژغورنې لپاره په یو نه یو ډول افغان دولت تر فشار لاندې راوستل، خو ارواښاد شفیق د خپلې ځیرکتیا او پوهې پر مټ د ناخوالو د مخنیوي خورا ګټورې لارې چارې موندلې، له افغان ملت او وطن سره بې کچې مینې له کبله به یې شپه او ورځ کار کاوه، ستړیا ته نه تسلمېده او تل د با احساسه افغانانو ملتیا پسې ګرځېده.

محمد موسی شفیق د لویو پروژو د هوارولو اقدام وکړ او په دې کار کې تر ډېره بریالی هم و، ده له ایران سره د هلمند د اوبو مساله فیصلې ته ورسوله او غوښتل یې له پاکستان سره د پښتونستان پر مساله هم یوه توافق ته ورسېږي، خو د محمد داود خان د جمهوریت کودتا په اثر هغه همدغسې معطل پاتې شوه. (۶: ۲۷۴مخ.)

د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند د اوبو پر سر له **۱۸۷۲**م څخه را په دې خوا لوی جنجال را روان و چې وخت پر وخت یې دولتونه مصروف ساتل، کله چې موسی شفیق د صدارت په څوکۍ کې کښېناست، نو د دغې مسئلې د حل لپاره یې اقدامات وکړل.

د شفیق تر ټولو ښه ماموریت د ایران او افغانستان سره د هلمند د اوبو په سر د لانجې پای ته رسول دي، په دې مسله کې دواړه هېوادونه تر ډېره په ناندریو مصروف وو، چې دا کار د موسی شفیق د صدارت په پیل کې حل شو، په دې مسله کې((د ۱۹۷۳ څخه د ۱۹۷۳م تر مارچ پورې بېل بېل هیاتونه راغلل او ولاړل او د اوبو عادلانه تقسیم په باب یې توافقات سرته ورسول، څو د ۱۹۷۳ د مارچ له ۱۲ څخه تر ۱۴ پورې یو هیات د ایران د صداراعظم امیر عباس هویدا په مشرۍ د شفیق په دعوت کابل ته راغی او دواړو صدراعظمانو پر هغو تړونو لاسلیک وکړ، چې د دواړو هېوادونو په توافق یې متونونه جوړ شوي وو، د خبرو په پای کې یوه ګډه اعلامیه صادره شوه، چې د دې مسألې حل یې د دواړو هېوادو د درایت او هوښیارۍ ښنه وبلله او هغه هیأتونه چې دا موضوع یې فیصلې ته رسولې وه، د دواړو خواو څخه معرفي شوي وو)) (۶: ۲۷۵مخ

سره له دې چې دا تړون د هېواد په ګټه و او د یو ګاونډي هېواد سره یې لویه شخړه ختمه کړه، خو په افغانستان کې یې په عام ډول ښه اغېز ونه کړو او د دې کار لویه وجه داوه چې د شوروي اتحاد د لاسپوسو منفي تبلیغات و، چې د شفیق پر ضد یې کول.

میر محمد صدیق فرهنګ په خپل کتاب «افغانستان در پنج قرن اخیر» کې په دې اړه لیکلي دي چې غټ ټکي به یې دلته ذکر کړو: ((کله چې شفیق بیرته دغه کار له سره را واخیست، د سردار (سردار محمد داود خان) او د حاکمې طبقې د یوې ډلې له مخالفت سره مخامخ شو، چې ځینې د سردار اخلاص‌مندان وو، چې د هغه پیروي یې کوله ځینو د ژبنیو او فرهنګي دلایلو له مخې غوښتل چې د ټولو هغو اقداماتو چې د افغانستان او ایران د اړیکو په ښه کولو کې مرسته کوي مخنیوی وکړي، د مسکو د لیکې مارکسستي ډلو هم دې ته ورته موخې لپاره ورسره یو ځای شوي ول. کله چې میوندوال هم له

دوی سره شو، یو لوی طرف یې جوړ کړ، چې په دې سره د هلمند د اوبو د حل په مسئله کې د حکومت پر ضد متحده جبهه جوړه شوه.

له هغه ځایه چې په نوي قرارداد کې د اوبو د کچې او هم له دې چې د اضافي اوبو په بدل کې بیه ورکول کېده د نورو قراردادونو په نسبت د هېواد په ګټه و، مخالفانو د خپل مخالفت تمرکز د قرارداد په یوې مادې چې هغه د افغانستان په خاوره کې د ایراني مامورانو له خوا د اوبو د کچې ځارل و، راټول کړی و. هغه یې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا په زیان باله، سره له دې چې هغوی یوازې د نظارت او راپور ورکولو دنده لرله، نه د مداخلې. په عوامو کې بیا د اوبو خرڅلاو د وطن د خرڅلاو په معنا تبلیغ شوی و. (۷: ۸۳۳-۸۳۴مخونه)

له پورته څرګندونو څخه په ډاګه‌کېږي چې په دې اړه مخالفانو یوازې د خپلو هغو رخو له مخې مخالفت کول چې د شاهي نظام په اړه یې لرلې، نه د هېواد او ملي ګټو لپاره.

د پاچایي کورنۍ منسوبینو او په خاصه توګه د داودخان ګروپ ډېر بد تبلیغات کول، خو کله چې نوبت د جمهوریت په دوران کې داودخان ته ورسېد، هغه پخپله دا تړونونه تائید کړل، چې وروسته د ملګرو ملتو په رسمي اسنادو کې قید شول. (۶: ۲۷۵مخ)

دغه تړونونه په لاندې خصوصیاتو لاسلیک شوي دي.

اول: د هلمند/ هېرمند د اوبو په باره کې د افغانستان او ایران ترمنځ تړون ۱۲ مادې دی.

دویم: لومړی ګڼه پروتوکول د کمیسارانو د واک او وظایفو په باب د هلمند د سیند د اوبو په باره کې د افغانستان او ایران ترمنځ د تړون ضمیمه ۱۳ مادې.

دویمه ګڼه پروتوکول د حاکمیت په باره کې د هلمند د سیند د اوبو په باره کې د افغانستان او ایران ترمنځ د تړون ضمیمه ۹ مادې.

دا ټول اسناد د افغانستان صدراعظم موسی شفیق او د ایران صدراعظم عباس هویدا لاسلیک کړي وو.

دغه تړون یوه تاریخي شخړه پای ته ورسوله، خو په افغانستان کې موسی شفیق دا کار په تمامه کچه ښه استقبال نه شو او د دې علت هم د شوروي د پټو جاسوسانو او چپي قوتونو منفي تبلیغات وو.

پاچا څو ځایه ویلي وو چې د هلمند د اوبو د وېش مسئله داسې وه لکه زما په اوږو چې بار وي، خو اوس چې حل شوه ډېر راضي یم.(۶: ۲۷۵مخ.)

د مرحوم شفیق بله لاسته راوړنه په ۱۹٦۹ـ ۱۹۷۲م کال کې په هېواد کې د وچکالۍ د لوی مصیبت په پېښېدو کې د یوې مناسبې پرېکړې او پروګرام تطبیق و، نوموړي د خپلې کابینې د کرهنې وزیر((ډاکټر وکیل چې د پخو تجربو خاوند و، موظف کړ او هغه د یو منظم پلان له مخې کار پیل کړ، دغه کار په لنډه موده کې نتیجه ورکړه او د نور اقتصادي فعالیت لپاره یې نړیوال بانک په دې قانع کړ، چې د افغانستان په شمال او شمال لویدیځ کې منظم څړ ځایونه او د څارویو مسلخونه جوړ کړي او په دې کې شک نه و، چې له دې درکه د کال یو سل میلیونه ډالر د افغانستان جیب ته لوېدل، همدارنګه ډاکټر وکیل یوه بله پروژه نتیجې ته ورسوله چې د افغانستان سبزیجات خارجي هېوادونو ته صادر کړي، له دې اړخه ډېرې اقتصادي پروژې تر کار لاندې راغلې.)) (۶: ۲۷۴مخ)

د موسی شفیق د صدراعظمۍ په دوره کې په افغانستان کې د ۲۰۰ میلیونو افغانیو په لګښت لس فابریکې جوړې شوې او په ځینو بهرنیو مرستو بانکونه افتتاح شول، د ده په وخت کې د عسکرۍ ۴۰۰ بستره روغتون جوړ شو، د کابل او بګرام هوایي ډګرونه جوړ شول.

اروانباد شفیق په داسې حال کې د حکومت واګې په لاس کې ونیوې چې د دیموکراسۍ د لسیزې حکومتونه یو پر بل پسې له ماتې سره مخامخ شوي وو.

اروانښاد د یوه وتلي او بریالي دیپلومات په توګه د افغانستان په سیاسي افق کې وځلېد، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د ۲۷مې غونډې مشري یې هم په غاړه وه، په قاهره، بیروت او خرطوم کې د افغانستان د سفیر په توګه دندې ترسره کړې.

شفیق له پاچا سره له خپلو نږدې اړیکو نه د هېواد د روانو سیاسي او اقتصادي حالاتو سمون په موخه اعظمي استفاده وکړه. دغه راز ویل کېږي چې دی په حکومتونو کې د سلطنتي کورنۍ د غړو د مداخلې سخت مخالف و. شفیق د یوه زړور صدراعظم په توګه د ملي ګټو پر وړاندې له هیچا نه ډارېده.

سیاست پوهان وايي چې شهید موسی شفیق د یوه اکاډمیک او سیاست پوه لومړي وزیر په توګه، په سیمه کې د افغانستان موقعیت او مجبوریتونه ښه درک کړي وو. هغه پوهېده چې افغانستان یو وچې پورې تړلی هېواد دی، له همدې امله اړ یو چې سمندر ته د لاس رسي په موخه له ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې ولرو او دغه دوستانه اړیکې تر هر چا زیات د افغانستان په ګټه دي.

د هلمند د اوبو د لاسلیک پر مهال صدراعظم شفیق ویلي وو: هیله من یم وکولای شم له پاکستان سره د پښتونستان مساله هم حل کړم، البته ښایي دا په پام کې ولرو چې موږ د هر مشکل په حل کې د پښتونستان په ګډون، باید د خپلو افغاني ګټو په باب فکر وکړو.

**لیکوال او شاعر موسی شفیق**

د هېواد نومیالی او ویاړلې څېرې موسی شفیق څو اړخیز شخصیت درلود، اروانښاد د یوه ژمن شاعر او لیکوال، د یوه ځیرک دیپلومات او د یوه مدبر رهبر ځانګړنې لرلې، د ده همعصرو شاعرانو او سیاستوالو په یوه خوله د شفیق پر پوهې او بصیرت اعتراف کړی، له لیکنو او شعرونو یې جوتېږي چې له خپل

افغان او افغانستان سره يې ځومره بې کچې مينه لرله او تر مرگه يې د دې مينې پالنه وکړه.

ځوان ليکوال او ژورناليست يحيې يعقوبي په خپل کتاب (لس افغان نوميالي) کې د (هېوادپال، ځوان صداراعظم محمد موسی شفيق) په اړه ليکلي دي. اوس د يو داسې چا کارنامې را سپړو چې د افغان ولس لپاره يې هم په سياست او هم په ادب کې د قدر وړ هڅې کړې، د خپل علمي ځواک په برکت لوړ سياسي مقام ته ورسېد، خو له خپل دردېدلي ولسه جلا نه شو، تر هغې چې سر يې هم د وطنپالنې په پار نذرانه کړ.(۴: ۱۳۳مخ)

شهيد محمد موسی شفيق د خپل هېواد سياسي پاليسيو او د مليتونو يوالي ته وفادار شخصيت و، په دين، هېواد او هېوادوالو مين و، ځکه خو همدا عهد په خپل يو شعر کې داسې انځوروي.

((پاکې جذبې د زړه انگړ کې د وحدت لرم
مخکې څـراغونه بل د دين او د ملت لرم))(۱، سريزه: ب مخ)

شفيق د خپل دې لوی عهد او موخې د ترلاسه کولو لپاره شپه او ورځ زيار گاللی او تر ډېره بريده د سياسي مطالعاتو او افکارو سره سم خپل نيمگړي ارمان ته رسېدلی دی، د خپل عالي درک په پايله کې يې د خپلې خاورې او ټولنې د پرمختگ خوبونه رښتيا کول او تر ډېره يې ځان د دغه ساحل څنډو ته رسېدلی و.

شفيق په سيمه کې د برتانوي استعمار ناوړو او ظالمانه کړو او د افغانستان د لرغوني او تاريخي بدن ټوټې کولو کړاوه او د خپلو افغانانو ورونو پر حال داسې فرياد کوي:

کاشکې مړ وی چې مې هېڅ نه وی ليدلی
دا دې ستا په مـرگ حساب ژوندون افغانه!
نه شرمېږي تـــــول قومونه سره يوه شول
ته شکېدلې تنۍ پروت يـــــــې پرېشانه )) (۱: ج مخ)

د وطن په درد دردمن او ځيرک سياستدان ښاغلی شفيق په سيمه کې د برتانوي استعماري دولت لاسپوڅي ته داسې خطاب کوي:

دبستان د ایشیا کې چې استاد وم
تا ویله هغه وخـــت کې سیـــــپاره
مخ دې تور شه اوس له ماسره سيالي کړې
ته او خــدای نو په همـدغه قواره (۱: چ مخ)

دا چې محمد موسى شفيق يو عالم او ځيرک انسان و، نو د افغانانو او په ځانگړې ډول د پښتنو په اړه يې ښېلا ښېلې ليکنې کړې دي، دلته به يې د پښتو ژبې په اړه يوه مقاله ليکلې چې دلته به يې يوه برخه سره ولولو:

**د پښتو ژبې په علمي کولو کې د پښتنو وظيفه**

د ژوند کولو دپاره د علم رڼا د ټولو نه ضروري شی دی. علم سړی هله زده کولای شي او په مطلب يې سړی هله پوهېدلای شي چې په اسانو عبارتونو، په روانه لهجه او په خپله ژبه څه واوري او څه ولولي.

پښتانه او د دنيا هر قوم چې د هغوی خپله ژبه د علم، فن او ادب د ميدان نه ويستل شوی او د پوهنې او معلوماتو د پانگو او زېرمو نه مفلسه وي، هغوي هميشه د نورو نه وروسته او دا علمي افلاس يې په يقيني صورت د مادي او حياتي فقر او محروميت سبب وي، د داسې ولسونو ټولنيز ژوندون گډوډ او د مدني او عصري حيات د وسايلو او ښېگڼو نه بې برخې وي، د دوی نارينه او ښځې بې علمه او بې سواده، کور، ښار او محکمه يې وران او بدن، جامې، پت او عزت يې له خاورو سره برابر وي.

نن چې پښتانه د دنيا قومونو کې د علم او اقتصاد په لحاظ د ټولو نه وروسته دي، د دې خبرې غټ سبب هم دا دی چې د دوی په خپله ژبه کې کافي ذخاير نشته او لکه د نورو ملتونو غوندې د پښتنو د کتابونو او د پښتون نر او ښځې، غټ او واړه نه شي کولای کورنی ژوند، د ښاري اوسيدو اصول،

صنعت، تخنیک، عمومي او ټولنیز معلومات د پښتو د صحنو او د پښتو فلمونو نه زده کړي.

...که پښتانه د علم او پوهې خاوندان کېږي، دا به یواځې پښتو ټولنه او اداره اشاعت سرحد په عمر سرحد په عمرونو کې هم ونه کړای شي، دا به پښتانه علماء او پښتانه دولتمند وکولای شي او دا افتخار به بالاخره همدوی ته راجع وي. ما یو وخت د یو پښتون طالب العلم سره د میراث پښتو ظابطه ولیده چې په ډېر شوق یې یادوله او ډېره ښه یې زده کړې وه، ما وې که څوک دې ته ملتفت شي، نو دغسې په زرگونو موضوعات او کتابونه هم شته چې باید چاپ شي.دا مطالب چې پښتانه د علم خاوندان او پښتو ژبه لوړه شي دا به په هماغه صورت لاس ته راځي، په کوم صورت چې دا زرگونه فارسي، عربي، اردو او انگرېزي کتابونه میدان ته راوتلي دي یعنې دا کار د ملي سرمایې په کار اچولو ته ضرورت لري، نو ای د پښتنو علماوو اورئ! د پښتنو مالدارانو راشئ! دا قوم او دا ژبه د دې بدبختۍ او د دې ټیټوالي نه خلاص کړئ چې تاریخ ستاسې نومونه د سرو زرو په اوبو ولیکي. (۱: ۸۷مخ.)

دلته به د ارواښاد محمد موسی شفیق شعر یوه برخه سره ولولو:

نن دې چــپه راته کــتل د نا اشنا غوندې
بیا مې په زړه کې را پیدا شوله سودا غوندې
چې نیمه شپه شوه ته رانغلې کبرجنه یاره!
راته معلوم شوې په وعده کې بې وفا غوندې
نه به د ستا غوندې شفیقه معشوقه شي پیدا
نه به شیدا شي هسې شفیق لکه زما غوندې
(۱: ۸۴مخ.)

**پایله**

محمد موسی شفیق هغه نومیالی افغان کادر دی چې په همدې خاوره کې پیدا شوی دی، دلته یې لومړنۍ زده کړې پیل کړ ي دي، د نورو زده کړو لپاره

لومړی مصر او بیا امریکې ته تللی دی، تر لوړو زده کړو وروسته بېرته خپل گران هېواد ته راغلی دی، دلته یې لومړی د کابل په پوهنتون کې د استادۍ مقدسه دنده پیل کړه او بیا همداسې پسې د افغانستان د سیاست ډگر ته یې مخه وکړه، په سیاست کې یې لویه مخه پیداکړه او لکه لمر داسې وځلېده او مخ پر وړاندې لاړه. تر دې ور هاخوا د پښتو ژبې یو خوږ ژبې شاعر او نثر لیکونکی تېر شوی دی. په اروابښاد محمد موسی شفیق باندې خورا ډېر کار کېدای شي او کتابونه پرې ډکېدای شي، دلته مو د یوې مقالې په کچه ور باندې کار وکړ، څېړنه وروستی کار نه دی، نور ځوانان به تر دې ور هاخوا ډېرې ښې لیکنې پرې وکړي او اروابښاد شفیق د ژوند نوروې خواوې به را وڅېړل شي.

**مأخذونه**


۱ـ محمد موسی شفیق د خپلو افکارو او آثارو په هندازه کې. د دکتور محمد شریف ځدراڼ و حسین رحیمی په زیار، د بهرینو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز: کابل، مطابع آزادي، ۱۳۹۵ل کال.

۲ـ احمد گیلاني، فاطمه. له مدرسې تر صدارته، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۱۳۹۹ل کال.

۳ـ ناصر، نصرالله. د شلمې پېړۍ په فرهنگي ـ ادبي بهیر کې د علامه حبیبي دریځ، د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۹۲ل کال.

۴ـ یعقوبي، یحیې. لس افغان نومیالي، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد: ۱۳۹۳لمریز.

۵ـ نیازی، مست علي خان. د افغانستان معاصر تاریخ، ختیځ خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۴۰۰ل کال.

٦ـ د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ابراهیم عطایي، میوند خپرندویه ټولنه، پېښور ۱۳۸۹ل ـ ۲۰۱۱م کال، ۲۷۵مخ.

۷ـ فرهنگ، میرمحمد صدیق. افغانستان در پنج قرن اخیر، ۱۹چاپ (د ناشر دربیم چاپ)، ناشر محمد ابراهیم شریعتی: تهران ۱۳۸۵هـ.ش.

څېړندوی وجیه الله ظهیر

# له غزنوي شاهانو سره د ابوریحان البیروني اړیکې

# Relations of Abu Raihan Al-Biruni with Ghaznawai Kings

***Researcher Wajihullah Zaheer***

Abstract

The time when Sultan Mahmood Ghaznavi took over the authority and affairs of the Ghaznavi Kingdom Courts after the death of his father, this court became one of those courts where scholars, intellectuals and academicians had a special stance and position. This means there was a huge respect for them and they were treated with high dignity. Abu Raihan Al-Biruni, who was a great scholar and historian of the Islamic world at that time, especially of Afghanistan, was one of the those who was requested and called from Khwarazam to Ghazni by Sultan Mahmood Ghaznavi during his reign. After bringing him, he accompanied the king on his travels to India and the king always had a huge respect for him. When Sultan Mahmood passed away, his elder son Sultan Masoud succeeded his father and treated Al-Biruni with respect as his father used to. After Masoud, his son Amir Mawdud got the throne of power and he continued to value and respect Al-Beruni as his father as well.

The fact that Abu Raihan Al-Biruni spent the last years of his life in the court of Ghazni with Sultan Mahmood, Sultan Masoud and Amir Mawdood, this is what shows his relationship with the Ghaznavi Kings, and all these subjects are part of this research which are included in the preface, context, conclusions and valid references of the research.

**لنډیز**

په ځانګړي ډول کله چې سلطان محمود غزنوي د غزنوي شاهانو د دربار چارې او واک د پلار له مرګ څخه وروسته په غاړه واخیست، نو نوموړی دربار یو له هغو دربارونو څخه و، کوم کې چې عالمانو، روحانیونو او پوهانو ځانګړی ځای او مقام درلود. په دې مانا چې نوموړي دربار کې عالمانو، روحانیونو او نومیالیو پوهانو ځای درلود او دقدر په سترګه ورته کتل کېدل. ابو ریحان البیروني چې د همغه وخت په ځانګړي ډول د افغانستان او په ټوله کې د اسلامي نړۍ یو نوموتی، لوی عالم او مؤرخ و، یو له هغو افرادو څخه و چې سلطان محمود غزنوي د خپل واک په دوره کې له خوارزم څخه له خپل ځان سره د غزني دربار ته راوست. له راوستو وروسته یې ځان سره د هند په سفرونو کې ملګری کړ او تل یې ورته د قدر په سترګه کتل. کله چې سلطان محمود له دې نړۍ سترګې پټې کړې، مشر زوی(سلطان مسعود) یې د پلار ځای ناستی شو، هغه هم ابو ریحان البیروني درونډ وګڼه او د پلار په څېر یې ورته لا ډېر عزت او درناوی کاوه. وروسته له مسعود څخه یې زوی امیر مودود د واک پر ګدۍ کېناست، هغه هم ابوریحان خپل مشر باله او د خپل پلار په څېر یې د سر په سترګو ګرځاوه.

دا چې ابوریحان البیروني د خپل ژوند وروستي کلونه د غزني په دربار کې له سلطان محمود، مسعود او مودود سره تېر کړي، همدغه هغه څه دي چې د نوموړي اړیکې له غزنوي شاهانو سره څرګندوي او یادې څېړنه کې همدغو

سرليکونو ته ځای ورکړل شوی، کومه چې په سريزې، متن، پايلې او په معتبرو مأخذونو مشتمله ده.

**سريزه**

ابوريحان البيروني چې اصلي نوم يې محمد بن احمدالبيروني دی، د افغانستان د نوميالیو مؤرخينو او پوهانو په هغه ليکه کې دی چې په معنوي لحاظ به کله هم ونه مري، ځکه چې ده له ځانه وروسته داسې تأليفات او آثار او په ټوله کې داسې علمونه په ميراث پرېښی چې کله به هم نسلونه دې ته پرېنږدي چې دی هېر کړي او يا يې له ياده وباسي.

د ابوريحان البيروني علم و چې ده يې له مخې د غزنوي شاهانو دربار ته لار پيدا کړه. هنر او کمالات يې ول چې ده ته يې قدر ورکړ او د سلطان محمود غزنوي پاملرنه يې ځانته جلب کړه او دی يې له خوارزم څخه خپل دربار ته راوست.

که څه هم ابوريحان په خپله طبع د غزني دربار ته نه و راغلی، په اصطلاح راوستل شوی و، خو دې کې شک نشته چې په يو وړ، پوه او فرهنګي شخص سيمه او ځای ښکلی وي. دا چې د غزنويانو دربار د فرهنګيانو يو ستر مرکز محسوبېده، نو همدغه سبب و چې البيروني د (حقيقت) رښتينی ملګری و. په نړۍ کې يې هېڅ شي ته په رښتيا ويلو فوقيت او برتري نه ورکوله. رښتيا ويل يې د هېڅ سبب او غرض لپاره نه پرېښودل او د خرافاتو د باطلولو او رېښې غوڅولو څخه يې کله هم ډډه نه کوله او په دې برخه کې يې يوه دقيقه ځنډ هم نه شو زغملی.

د غزنوي شاهانو سره يې اړيکې هم د پورته اصل له مخې وې، مستغني و او د علم د خدمت په لاره کې يې هېڅ هم له چا پټ نه و. نو په همدې اساس په غزنوي شاهانو لکه، سلطان محمود، مسعود او مودود باندې ډېر ګران و، ورته منلی او ګڼلی و او د قدر په سترګه يې ورته کتل.

د غزنویانو په دوره کې بیا په ځانګړي ډول کله چې سلطان محمود واک ترلاسه کړ، نه یواځې دا چې ادب او فرهنګ د کمیت له لحاظه بلکې د کیفیت له اړخه هم خپل وروستي اوج کې و، عالمانو، شاعرانو او پوهانو ته په کې درناوی کېده او دغې کړنې ته په یاد دربار کې د یو بنسټیز اصل په سترګه کتل کېدل.

دا چې ابوریحان البیروني په خپل ذات کې یو ستر شاعر، عالم، مؤرخ، نجومي، فزیک پوه، ریاضي پوه او په ټوله کې یو علامه و، د همدغه فرهنګي دربار یوه برخه و. دا چې په غزنوي دربار کې یې څنګه ژوند تېر کړی او څه یې کړي؟ همدغه موضوعات په نوموړې څېړنه کې څېړل شوي او په اړه یې وضاحتونه شوي او په اصل کې دغه لنډه علمي – څېړنیزه مقاله د یو لړ سرلیکونو درلودونکې ده چې غزنوي شاهانو سره د ابوریحان البیروني اړیکې روښانه کوي. هغه سرلیکونه چې په تشریح او روښانتیا کې یې له معتبرو، علمي منابعو او مراجعو څخه ګټه اخیستل شوې او په څېړنه کې یې زیار وېستل شوی.

**د موضوع مبرمیت:**

د یادې څېړنې د موضوع مبرمیت په دې کې دی چې له غزنوي شاهانو سره د افغانستان د نوموتي مؤرخ او فیلسوف اړیکې روښانه کوي. دا په اثبات رسوي چې نوموړي عالم په یاد دربار کې له ځانه وروسته پراخ علم او شاهکارونه په میراث پرېښي او نوموړې امپراطورۍ ته یې زینت بخښلی.

**د موضوع هدف:**

د دې څېړنې هدف دا دی چې علامه ابوریحان البیروني د افغانستان د یوه نومیالي مؤرخ، عالم او فیلسوف په توګه وپېژنو او هم یې له غزنوي شاهانو سره له اړیکو خبر شو.

**د څېړنې پوښتنه:**

ابو ریحان البیروني له غزنوي شاهانو سره کوم ډول اړیکې درلودې؟

**د څېړنې مېتود:**

په نوموړې څېړنه کې له علمي، تاریخي، تحلیلي او توصیفي مېتودونو څخه ګټه پورته شوې او د څېړنې ټول علمي او اکاډمیک اصول په کې مراعات شوي.

**۱ – شخصیت پېژندنه**

ابو ریحان محمد بن احمد بیروني خوارزمي د ریاضي د علم یو له سترو پوهانو څخه و. نوموړی په(۳٦۲ ل = ۹۷۲ز) کال په بېرون کې چې د خوارزم سیمې پورې اړه لري، زېږېدلی او خپلې لوړې زده کړې یې د خوارزم په سیمې کې ترسره کړي. وروسته د شمس المعالي قابوس بن وشمګیر دربار ته تللی او هلته یې د هغه پاملرنه ځان ته را وګرځوله او په (۳۹۱ ل = ۱۰۰۰ ز) کال یې د (آثار الباقیه) په نامه کتاب د هغه په نوم ولیکه.(۱۱: ۱۷٦مخ)

ابو ریحان یو ستر پوه، څېړونکی، ژباړونکی، لیکوال، منجم، ژبپوه، تاریخ او جغرافیه پوه او دخپل وخت پر ټولو علومو او فنونو واکمن شخص و او له شخصي پلوه نوموړی یو حلیم، مهربان، نرم، قانع او په دین مین انسان و. (۱٦: ۳ مخ)

البیروني د (حقیقت) رښتینی ملګری و. په نړۍ کې یې هېڅ شي ته په رښتیا ویلو فوقیت نه ورکوه. رښتیا ویل یې د هېڅ سبب او غرض لپاره نه پټول او د خرافاتو د باطلولو او رېښې غوڅولو څخه یې کله هم ډډه نه کوله او په دې برخه کې یې یوه دقیقه ځنډ هم نه شو زغملی.(۷: ۲۱۴مخ)

د ابوریحان د ځوانۍ دوره د درېیم ساماني (امیر نوح) له حکمرانۍ سره سمون خوري، کوم کې چې نوموړي عالم مروجه او عرفي علوم په کم وخت کې زده کړل. ترڅنګ یې خوارزمي، عربي، سغدي، سریاني، یوناني او دیهودو پخوانۍ ژبې هم زده کړې او سلطان محمود غزنوي سره هندوستان ته په سفرونو کې یې د سانسیکرت ژبه هم زده کړه.

البیروني یو تکړه منجم، جیولوجست، جغرافیه پوه، وتلی مؤرخ او یو نوموتی ویناوال و. هغه د خپل وخت یو غښتلی او مشهور نابغه و. هغه وکولی شول چې په هند کې خپل یو مشهور اثر ماللهند(کوم چې د هندیانو فلسفه، دیني او ټولنیز آداب بیانوي) ولیکي، عربي آثار فارسي ته وژباړي او د علم او فرهنګ په لاره کې بې شمېره ستونزې او تکالیف وزغمي.(٦: ١٩٠مخ)

البیروني د خپل ژوند لومړي کلونه په خوارزم کې د مامونیانو چې هماغه پخواني خوارزمشاهان وو، تېر کړل او بیا له هغې وروسته یې په جرجان سیمه کې د قابوس او وشمګیر دربار ته لاره پیدا کړه. وروسته خوارزم ته را وګرځېد، تر څو پورې چې بیا په (۴۰۸ ل = ۱۰۱۸ز) کال د ابو العباس د دربار د علماو او فضلاو یو ټولې سره غزني ته دسلطان محمود دربار ته ولاړ.(۳: ۱۹۲مخ)

کله چې سلطان محمود خوارزم تر لاسه کړ، نو البیروني یې له هغه ځای څخه د غزني دربار ته له ځان سره راوست. البیروني د خپل وخت له غښتلو علماوو، څېړونکو او له پوهو اشخاصو څیني و. سلطان محمود او د هغه زوی مسعود پر البیروني زیاد مشفق ول او د قدر په سترګه یې ورته کتل. تل یې نازوه او د هغوی له اکرام او انعام څخه برخمن و.(٦: ۳۴۵مخ)

کله چې البیروني د خوارزمشاهانو د آل مامون په دربار کې و، هلته یې قدر او احترام کېده، خو کله چې سلطان محمود غزنوي د «ګرګانج» سیمې ته لاسرسی پیدا کړ، ابو ریحان یې له ځان سره خپل دربار(غزني) ته ویوړ. ابوریحان له سلطان محمود غزنوي سره د هند په سفرونو کې ملګری و او هلته یې هندي علماوو او پوهانو سره ناسته ولاړه وکړه او د هغوی له علمونو او له عقیدو څخه یې ستره ګټه پورته کړه، تر دې چې د سانسیکرت ژبه یې په ډېر کم وخت کې هلته زده کړه.

کله چې سلطان محمود غزنوي له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې، البیروني د هغه له ځای ناستي(سلطان مسعود) سره یو ځای و او د هغه په

نامه يې کتابونه تاليف کړل، ځکه البيروني د نورو ژبو تر څنګ په عربي او دري ژبو کامل تسلط درلود او د خپل عصر له مشهورو او پوهو اشخاصو له جملې څخه يادېده.

البيروني د خپلو کتابونو شمېر تر (۴۲۷ ل = ۱۰۳۵ز) کال پورې، يوسلو ديارلس(۱۱۳) ټوکونو پورې ښودلی. د نوموړي آثار د ستورو، تاريخ او جغرافيې، فزيک، احاديثو او ارواپوهنې علومو پورې اړه لري.(۱۱: ۱۷۷ مخ)

اکبر دانا سرشت د البيروني په ماللهند کتاب کې د نوموړي د تاليفاتو په اړه ليکي، زه چې د ځوانۍ له دوره د ابوريحان د تاليفاتو او آثارو په لټې پسې وم، نو د هغه د ډېرو کتابونو له جملې څخه مې لاندې دغه آثار موندل:

۱ – آثار الباقيه. ۲ – قانون مسعودي. ۳ – استخراج الاوتار. ۴ – افراد المقال فی امر الاظلال. ۵ – تمهيد المستقر لمعنی الممر. ٦ – راشيکات. ۷ – تحديد نهابات الاماکن. ۸ – مقاليد علم الهيه. ۹ – الاستيعاب في وجوه الممکنة فی صنعة الاصطراب. ۱۰ – في صنعة الاصطراب. ۱۱- تسطيح الصور. ۱۲ – تصحيح المبادي. ۱۳ – تصوير الکواکب والبلدان. ۱۴ – الجماهر في معرفة الجواهر. ۱۵ – کتاب التفهيم. ۱٦ – کتاب ماللهند. ۱۷ – کتاب پاتنجلي.(۲: ۲ – ۴ مخ)

د البيروني له آثارو څخه چې کوم کتابونه ورک شوي او يا کوم چې په تيت او پرک ډول سره د نړۍ په کتابتونونو کې شتون لري، دګټې اخيستنې وړ وی، يا هغه رساله يې چې د نور او شعاع په اړه يې ليکلې، د نور او شعاع د مسئلې تاريخ به لا روښانه او واضح شوی و. همدارنګه که يوه بله رساله( د اعدادو د شمار په اړه د اعرابو درأيې فضيلت د هنديانو پر رأيې) يې موجوده وی، نو ډېر يو تازه مطلب او نوې مسئله به وی، دا په دې چې نړۍ د اعدادو په برخه کې د هنديانو پوروړې ده.(۱: ۲۲ مخ)

په ټوله کې ويلی شو چې البيروني په اکثريت علومو کې استاد و. کوم آثار چې له هغه نه په ميراث پاتې دي، د دې ښودنه کوي چې هغه يو وتلی عالم

او په بېلا بېلو علومو کې يو حاکم شخص و. خلاصه ويلی شو چې هغه يو فيلسوف، رياضي دان او هم مؤرخ و، داسې مؤرخ چې هم يې د يونان په فلسفې سر خلاص و او هم د هند.(۱۱: ۱۷۷مخ)

## ۲ - په غزنوي دربار کې د ابو ريحان البيروني مقام

غزنوي مشران په ټوله کې علم دوست او د ادب خوښوونکي وو. د سلطان محمود غزنوي د سلطنت او واکمنۍ په پيل کې اديبانو، شاعرانو، فضلاو او روحانيونو ته ځانگړي پاملرنه کېدله. په دې برخه کې يې بيا زوی(سلطان مسعود) د پلار په نقش قدم روان و او آن تر دې که ووايو چې څو قدمه ترې مخکې و، هم مبالغه به نه وي.

شاعران او اديبان په غزنوي دربار کې لوړو مقامونو ته رسېدلي و، دا ځکه چې سبب يې څېړونکي د ياد دربار د مشرانو اوسلاطينو تشويق او ترغيب پورې تړي. يادو مشرانو عادت درلود او دا يې معمول و چې د نړۍ له گوټ – گوټ څخه علماء، صنعتگران، د پوهې خاوندان او روحانيون را ټول کړي، دربار کې ورته ځای ورکړي او د هغوی له علمونو او فنونو څخه گټه پورته کړي.دا چې د دغو پوهانو او علماوو تعداد سلگونو تنو ته رسېده، نو د غزنوي د دربار رنگ او رخ په يادو فضلاو ښکلی و او ياد دربار ته يې زينت بخښلی و.(۳: ۹۲مخ)

د غزنويانو د حکومت په اول دور کې علماء، شاعران او پوهان په غزنوي دربار کې له ځانگړي ارزښت او امتياز څخه برخمن وو، دا ځکه چې نوموړی دور د هغو کسانو او افرادو له شتون څخه ډک و، کومو ته چې د ساماني دور په پای کې تربيت ورکړل شوی و او د پنځمې پېړۍ په پيل کې يې شهرت ترلاسه کړی و. د ادبي علومو له نظره بيا په ځانگړي ډول د شعر او نثر په برخه کې د غزنويانو دوره بيا بې مثاله وه.

په دغه دوره کې نه يواځې دا چې ادب او فرهنگ د کميت له لحاظه بلکې د کيفيت له اړخه هم خپل وروستي اوج کې و، همدغه سبب و چې د

ترکستان سبک چې اساس یې سامانیانو ایښی و، د تکامل لوړو پوړیو ته ورسېد او د دې خبرې دلیل هماغه مدون دیوان و کوم چې استاد فرخي لیکلی و.(۴: ۱۶۱ – ۱۶۲مخونه)

دغه راز څېړونکې ساهره شریف بیا د غزنویانو د دور په اړه نسبتاً متفاوت نظر لري، وایي: سره له دې چې د غزنویانو دوره د افغانستان په تاریخ کې خورا ځلانده فرهنګي دوره بلل کېږي، خو د ټولنیز ترکیب له مخې د دې دورې وګړي یو شان د فرهنګ او علم له نعمت څخه برخمن نه وو.

د غزنویانو په سلګونو مدرسو، ښوونځیو او جوماتونو کې د نجونو او ښځو د ښوونې او روزنې په باب حالات هم ډېر تیاره وو. هېڅ داسې تاریخي شواهد او مدارک نه شته چې په نوموړو مدرسو، ښوونځیو او جوماتونو کې له هلکانو او نارینه وو سره یو ځای او یا په جلا توګه د نجونو او ښځو د زده کړو ثبوت وړاندې کړي. خو بیا هم په تاریخ کې د دې عصر د باسواده او شاعرو ښځو نومونه ثبت دي چې دا کار په خپله د دې ثبوت وړاندې کوي چې د غزنویانو په دوره کې نجونو او ښځو پر عنعنوي ښوونې او روزنې سربېره خصوصي دیني او ادبي زده کړې په خپلو کورونو کې له والدینو او ځانګړو ښوونکو څخه کولې.(۸: ٦٦ – ٦٧مخ)

همدارنګه د غزنویانو د دور د ټولنیز ترکیب او فرهنګ په اړه غبار هم لیکلي:« در دوره غزنویان مردم از نگاه ترکیب اجتماعی به سه طبقه تقسیم شده بودند: طبقه اول یا طبقه ممتاز که در آن اشراف، اعیان، روحانی و مامورین عالی رتبه قرار داشتند. طبقه دوم یا طبقه بورژوا که در آن اهل علم، صاحبان هنر، صنعت کاران پیشه وران و گروپ تاجران شامل بودند. طبقه سوم را زراعین و د هاقین تشکیل میدادند و در صورت لزوم در خدمت زیر سلاح نیز میرفتند. در حالیکه استفاده از فرهنگ و تمدن کشور حق طبقات اول و دوم بود. زیرا که اکثریت مردم در دهات زندگی میکردند و فاقد وسایل فرهنگی و مدنی بودند.»(۱۰: ۲۴مخ)

د باسورث له قوله، د غزنویانو د لومړنۍ دورې ادبیات اصولاً په غزني او زابلستان کې د توجیه وړ نه و، ځکه د نومړو ادبیاتو پر اساس کوم بنسټ نه جوړېده، نو همدغه سبب و چې وتلي شاعران او ادیبان د غزني په دربار کې له نورو سیمو و او له نورو ځایونو څخه راغلي وو.

د غزنویانو د واکمنۍ پر مهال ادب او فرهنګ وروسته د(محمود – مسعود) له لومړي دور څخه مخ په رکود او نزول وو او سبب یې هم د سلطان مسعود هغه بد شکست او ماته وه کومه چې یې د (دندانقان) په جنګ کې وخوړه. خو دغه حالت بېرته ژر تغییر وخوړ او وروسته له شلو کلونو څخه د سلطان ابراهیم په دور کې یو ځل بیا شاعرانو ته یو ښه فرصت برابر شو، کوم کې چې شعر او ادبیاتو ښه وده وکړه.(۱۴: ۱٦۳ مخ)

له پورته نظریاتو څخه پوهېږو چې ابو ریحان البیروني د غزنویانو په دربار کې له ځانګړي مقام څخه برخمن و، ځکه نوموړی د خپل وخت یو وتلی عالم، شاعر، ادیب، جغرافیه پوه، مؤرخ، د هنر او ستري پوهې خاوند و. په غزنوي دربار کې پرې حساب کېده او تل به سلطان محمود غزنوي سره په سفر او حضر کې ملګری و. همدارنګه د سلطان محمود له مرګ څخه وروسته د هغه د زوي(سلطان مسعود) په دربار کې هم له ځانګړي مقام او جایګاه څخه برخمن و. هغه څوک و چې ورته منلی و او ځانګړی ځای او قدر یې ورته پر وړاندې لره.

نو؛ دلته لازمه بولم چې د نوموړي فیلسوف، شاعر، ادیب او مؤرخ مقام د غزنوي شاهانو(سلطان محمود، سلطان مسعود او سلطان مودود) په دورونو کې تر څېړنې لاندې ونیسم، دا ځکه چې له یوې خوا به څېړنه پوره شوي وي او له بلې خوا به زموږ د مقالې سرلیک(له غزنوي شاهانو سره د ابو ریحان البیروني اړیکې) په ښه ډول روښانه شي.

**الف: سلطان محمود او البيروني**

د امیر سبګتګین له مړینې وروسته د ده د شپږو زامنو له ډلې څخه اسمعیل غزني ته راغی، او د ده پر ځای کېناست، خو د بې کفایتۍ له امله یې پر وړاندې خلک را پورته شول. د ده مشر ورور امیر محمود چې په نیشاپور کې د خراسان حکمران و، پر همدغه کال(۳۸۷ ل.) له خراسانه لښکر را ووېست او د غزني په دروازه کې یې له خپل ورور(اسمعیل) سره جګړه وکړه، نو دا چې د محمود مور زابلۍ وه، نو د زابلیانو په مرسته یې اسمعیل او د هغه لښکر مات کړ او اسمعیل تر اوو میاشتو وروسته په زندان کې مړ شو او محمود د پلار ځایناستی شو.(۵: ۱۵۸مخ)

غبار لیکي، محمود په تنه ښه پیاوړی او د جذابې تنې څښتن و. د بېلا بېلو وسلو په کارولو، آس ځغلولو او د جګړې یو تکړه جنګیالی او ماهر و. سره له دې چې په عربي ژبې نه پوهېده، خو دیني علم او معلومات یې پوره وو. اسلامي ادب او تاریخ کې یې پوهه درلوده. سطرنج لوبه یې زده وه. لښکر او استخباراتو ته یې ډېر ارزښت ورکاوه، درباري پرتم او جلال یې ډېر خوښېده. هغه د افغانستان دننه اوبهر د اسلام د دین او د دري ژبې خپروونکی و. په مذهب کې ډېر متعصب و، نو ځکه یې پرته له اسلام څخه بل هر مذهب او فلسفې سره دښمني وه. له همدې امله د ده په دور کې په افغانستان کې ټول عقلي علوم په ټپه ودرېدل او دساماني دورې پراخه نظریې له منځه ولاړې. ابو علي سینا هم له دې امله غزني ته رانغی او قرمطیان هم په همدې سبب د غزنویانو د قلمرو دننه تعقیب او په بې رحمۍ سره له منځه یوړل شول.

په هر حال افغانستان کې د محمود غزنوي دوره د مذهب، ژبې او سیاست له پلوه د یووالي د ټینګېدو او په ټول هېواد کې د اسلام د خپرېدو دوره وه او دري ژبې په کې د ټولو کورنیو او بهرنیو ژبو ځای ونیوه.(۹: ۱۲۰ مخ)

(غزني د تاریخ په پاڼو کې) اثر لیکوال بیا نسبتاً متفاوت نظر وړاندې کوي، زیاتوي: سلطان محمود په خپل دور کې په غزني کې یو لوی دارالفنون جوړ کړ، ډېر قیمتي کتابونه یې هم ورته را ټول کړل چې ګڼه به ترې اخیستل کېده. په دې ترتیب غزني لوی اسلامي فرهنګي مرکز شو. داسې مرکز چې د لویو نومیالیو پوهانو، عالمانو او شاعرانو(لکه د البیروني) ځای وګرځېد. لیکي، د بغداد مشابه شو، تر دې چې بغداد یې په سیالۍ کې خپل رونق له لاسه ورکړ. غزني نه یواځې د سیاست بلکې د دیانت، علم، معارف او عرفان مرکز او کانون شو.(۱۳: ۱٦٦مخ)

څنګه چې مخکې ذکر شول چې د غزني ښار د علم مرکز وګرځېد، سلطان محمود په کې دارالفنون جوړ کړ، کتابونه یې ورته راټول کړل، همدغه شان یې له نورو سیمو پوهان، عالمان، شاعران او ادیبان هم راټول کړل چې یو له هغو ابوریحان البیروني و. څېړونکی پرفیض په دې اړه لیکلي، البیروني په (۴۰۸ ل = ۱۰۱۸ ز.) کال یو تعداد نورو علماوو سره یو ځای د ابو العباس له دربار(خوارزم) څخه غزني ته د سلطان محمود غزنوي دربار ته لاره پیداکړه.

نوموړي عالم، شاعر او فیلسوف به په ډېرو سفرونو کې سلطان محمود غزنوي سره ملګری و. البیروني د د غو سفرونو په لړ کې په ډېر کم وخت کې د سانسیکرېت ژبه هم زده کړه او له مخې یې وکولای شول چې د نوموړې ژبې پر مټ عربي ژبې ته ډېر کتابونه هم وژباړي.(۳: ۱۹۲مخ)

کله چې مامون دخپل فوځ د لوړ رتبه افرادو له لوري ووژل شو، سلطان محمود یو کال وروسته (ګرګانج) ونیوه. کله چې بیا له هغې سیمې را ګرځېده، ځان سره یې البیروني هم غزني ته راوسته. دغه مهال د البیروني لاس تنګ و، یعنې ژوند یې ښه نه و روان. خو وروسته له څه وخته یې بیا د سلطان محمود ملاتړ ترلاسه کړ او ژوند یې نسبتاً ښه شو. د دواړو ترمنځ څنګه چې لازمه وه هغسې اړیکې بیا هم جوړې نه وې.

د اسلامي دايرة المعارف په قول، البيروني دغه مهال د (تحديد نهايات الاماکن) د کتاب پر ليکلو مشغول و. نوموړي د (۱۰۱۸ز)کال په اوايلو او يا لږ مخکې د ياد کتاب په سريزه کې په تفصيل سره د خپل بد روزگار په اړه گيلې کړي. نوموړي د (۴۰۹ل) کال کې د کابل په شاوخوا نږدې سيمه کې ژوند کاوه او له خپل ژونده داسې خفه و چې خپل ځان يې د دوو پيغمبرانو(نوح – لوط عليهم السلام) سره د سختيو له مخې مقايسه کاوه.

همدارنگه د نوموړي اثر د سريزې په پای کې البيروني د سلطان محمود له لوري خپل بنديتوب(اسارت) ته هم اشاره کړې، د کنايې په ډول يې ويلي چې په جبر د غزني په دربار کې اوسېدل د بشري تقدير يو ډول دی. دا چې البيروني د سلطان محمود سره په مختلفو سفرونو کې ملگرتيا کړې، په اړه يې ياد اثر هم ذکر کړی، چې البيروني په سفرونو کې له سلطان محمود سره ملگرتيا کړې خو د ژوند له سختيو په ۵۰ کلنۍ کې تنگ و.

البيروني که څه هم د ژوند له ستونزو نا آرامه و، خو سلطان محمود سره يې د سفرونو پر مهال د سانسيکرېت مشهوره ژبه هم زده کړه، هغه ژبه چې د هندوانو د علم او معارف د خزانې کلي يادېدله. د همدغې ژبې له زده کولو وروسته يې وکولی شول چې په هند کې د وخت له دينې علماوو او پوهانو سره اړيکې وساتي او له هغه ځايه ډېر گټور او قيمتي اطلاعات او معلومات لاس ته راوړي.

همدا ډول په (۴۱۵ل.) کال د غزني په دربار کې البيروني د ترکي حکمرانانو(ولگا) له استازو سره وليدل، په دغې ليدنه کې يې وکولی شول چې ځينې جغرافيوي اطلاعات چې د توجيه وړ و، ترلاسه کړي. د استازو له جملې يوه يې سلطان محمود ته وويل چې د شمال په څنډو(د قطبي دايرې په دننه کې) کې کله ناکله څو ورځې لمر په مسلسل ډول نه پرېوځي(غروب نه کوي)، دې خبرې محمود خفه او په قهر کړ او داسې خبرې يې کفري

وګڼلې، خو ابوريحان البيروني آرامه کړ او قناعت يې ورکړ چې د استازي خبره سمه ده.(۱۵: ۳۹۰مخ)

دا چې دلته بحث البيروني سره د سلطان محمود پر اړيکو څرخېږي، غواړم په اړه يې يوه کيسه که څه هم د ځينو مؤرخينو له لوري نه ده تائيد شوې او ځينو بيا د تائيد وړ ګڼلې، دلته د بحث د جالبوالي په خاطر وړاندې کړم:

وايي يوه ورځ سلطان محمود د غزني د ښار د زرو ونو د باغ(باغ هزار درخت) په پورتنۍ برخه کې په يوې خونه کې له ابو ريحان البيروني سره ناست و. سلطان د ابوريحان البيروني خواته مخ واړوه، ويې ويل: اورېدلي مې دي چې د ستورو د علم په برخه کې معلومات لرې، ووايه چې زه به په کومې دروازې بهر ته وزم؟ دغه خبره په يو کاغذ کې وليکه او وروسته له ليکلو يې زما د توشکې لاندې کېږده.

دغه مهال ابو ريحان اسطرلاب(هغه آله او وسيله چې د ستورو د لوړوالي او ارتفاع اندازه پرې معلومېږي) وغوښت او د ستورو د اندازو له حاله يې ځان خبر کړ او د لمر موقعيت يې تعين کړ. وروسته له لږ فکر څخه يې د سلطان ځواب د کاغذ په يوې برخې وليکه او د سلطان د توشکې لاندې يې کېښود. سلطان وويل: آيا امر دې وکړ؟ البيروني د هو ځواب ورکړ.

سلطان محمود امر وکړ چې بېل او تېشه راوړئ، د شرق لوري ته د څلورمې دروازې په خوا کې يوه بله دروازه جوړه کړئ، کله چې نوې دروازه يادې سيمې کې ورغول شوه، نو له هماغې بهر ته ووت. وروسته يې امر وکړ چې هغه دکاغذ ټوټه راته راوړئ. کله چې کاغذ ورته راوړل شو، نو په ليدلو يې حيران شو، ويې ليدل چې په نوموړي کاغذ کې ابوريحان ليکلي:سلطان په دغو څلورو دروازو کې په يوې هم بهر ته نه وځي، بلکې د څلورمې شرقي دروازې څنګ ته بله دروازه کيندي او په هغې وځي.

کله چې سلطان محمود یاد عبارت ولوست، نو ډېر عصبي شو، امر یې وکړ چې البیروني د قصر له پورتنۍ طبقې څخه لاندې ځمکې ته وغورځوئ. مسؤولین مجبور شول چې د سلطان امر عملي کړ، خو کله چې یې البیروني ځمکې ته راغورځوه، له نېکبخته ځمکې ته په څو مترۍ کې جال و، البیروني په جال وغورځېد او کومه صدمه یې ونه لیده.

سلطان چې کله ولیدل، هغه ته صدمه نه ده رسېدلې، امر یې وکړ چې را یې ولئ. کله چې البیروني حاضر شو، ورته یې وویل، آیا له دې پېښې خبر وې؟ البیروني د هو ځواب ورکړ او ویې ویل چې زه پوهېدم داسې پېښه را منځته کېږي او ماته کوم زیان نه رسېږي. سلطان محمود ورته وویل چې آیا خپلې خبرې لپاره کوم دلیل لرې؟ ابو ریحان البیروني خپل غلام ته غږ کړ او ورنه یې وغوښتل چې هغه کالنۍ(تقویم) راوړي چې البیروني د ځان په اړه په هغې کې لیکل کړي وو. په هغې کالنۍ کې یې پیدا کړل چې په کې لیکل شوي وو: ما به له لوړ ځای څخه لاندې را اچوي، خو زه به روغ جوړ ځمکې ته رسېږم او کوم ضرر به نه وینم. سلطان د دې خبرو په اورېدلو سره لا عصباني شو او امر یې وکړ چې البیروني کلا ته بوځئ او بندي یې کړئ.(۱۷: نټ)

کله چې البیروني د غزني کلا ته د بند لپاره وېوړل شو، نو هلته د شپږو میاشتو لپاره پرته له کومې ګناه بندي و او په دغې موده کې یې چا هم پوښتنه ونه کړه او نه یې له بد حالته چا سلطان خبر کړ. په دغې موده کې یواځې یو غلام و چې هغه به کلا ته ورته او کارونه به یې ورته سرته رسول.

داسې روایت شوی چې (خواجه احمد حسن میمندی) یواځینی شخص و چې په دې شپږو میاشتو کې یې انتظار وېست او د داسې یوه فرصت انتظار کې و چې د ابو ریحان البیروني وساطت وکړي او عذر یې سلطان ته وړاندې کړي. بلاخره داسې یو فرصت د ښکار پر مهال چې د سلطان محمود غزنوي طبیعت برابر و او خوښ برېښېده، رامنځته شو. هغه داسې چې نوموړي(خواجه) خبرې د نجومو یا د ستورو پېژندنې د علم په اړه کش کړې،

په جريان کې يې وويل: بېوزله البيروني دوه وړاندوينې وکړې، په ځای د دې چې له تاسو انعام ترلاسه کړي، بندي شو.

سلطان محمود وويل: « خواجه په دې پوه شه چې زه هم شخصاً په يادې پېښې خفه او ناراحته يم. ويل کېږي چې البيروني د نړۍ په سطحه يو بېنظيره شخص دی او د ابو علي سينا نه وروسته يې سيال نشته، ولې څه وکړم چې دواړه نظره(حکمتونه) يې زما د رأيې مخالف وختل او پاچاهان د ماشومانو انداز لري، کله چې يې خبره يا نظر د رأيې مخالف وي، د هغوی د قهر او غصې سبب گرځي. هغه بايد په دې پوه شوی وی چې زما د طبيعت برابره خبره يې کړې وی، تر څو زما څخه يې انعام ترلاسه کړی وی. هغه ورځ چې ابوريحان دوه وړاندوينې وکړې که يوه يې هم خطا شوې وه، نو گټه يې کوله».

وروسته له دې سلطان محمود امر وکړ چې البيروني له زندان څخه آزاد کړئ، يو آس سره له يو غلام او يوې کنيزې او ورسره زر(۱۰۰۰) ديناره طلا او نورې ډالۍ ورکړئ. له بند څخه په آزادېدو له البيروني څخه سلطان محمود بخښنه وغوښته او ويې ويل:« ای ابو ريحان، تو يو لوی او ستر عالم يې او ستا احترام او قدر په موږ واجب دی، خو که غواړې له ما څخه گټه ترلاسه کړې، زما د ميل مطابق خبرې کوه، داسې څه وايه چې زه په هغې خوشحاله کېږم».

ابو ريحان البيروني به له هغې وروسته کوښښ کاوه چې د سلطان محمود د ميل مطابق خبرې وکړي او داسې څه ونه وايي چې د سلطان د مخالفت يا د قهر سبب وگرځي.(۱۸:نټ)

نو؛ ويلی شو چې البيروني هغه شخص و چې سلطان محمود غزنوي، ځان سره له خوارزم له سيمې راوست، په خپل دربار کې يې ورته ځای ورکړ. سفرونو کې يې له ځان سره ملگری کړ، د ده له علم او هنرونو څخه يې گټه پورته کوله او يو منلی او گڼلی شخص د غزني په دربار کې حسابېده.

د علامه حبیبي په قول، سلطان محمود غزنوي د ۳٦۱ ل. کال د عاشورا پر ٦ مه زېږېدلی و، د آسیا په زړه کې یې د یوه لوی دولت تر جوړولو وروسته د سل په ناروغۍ اخته شو، له ٦۱ کالو او د ۳۳ کلونو پاچاهۍ وروسته یې د (۴۲۱ ل – ۱۰۳۰ ز) کال د ربیع الاخر پر ۲۳ مه د پنجشنبې پر ورځ له دې نړۍ سترګې پټې کړې او د غزني په فیروز ماڼۍ کې ښخ شو.

تر محمود وروسته یې زوی محمد له ګوزګانان څخه راغی او په غزني کې د پلار پر ځای کېناست ، وروسته له اوو میاشتو یې بل زوی(سلطان مسعود) هغه له ړندولو وروسته له واکه لرې کړ او په ۴۲۱ل.کال د پلار پر تخت کېناست.(۵: ۱٦۱ – ۱٦۲مخونه)

## ب: سلطان مسعود او البیروني

کله چې سلطان محمود غزنوي له دې نړۍ وکوچېد، زوي یې محمد د پلار ځای ناستی شو. دا چې مسعود د پلار مشر زوی و، له کمې مودې(اوو میاشتو) وروسته یې په خپل ورور بری ترلاسه کړ او د هغه پر ځای د پلار پر تخت کېناست. کله چې مسعود واک ترلاسه کړ، همدغه مهال ابوریحان البیروني خپل یو ډېر مهم او مشهور کتاب(ماللهند) لیکل سرته ورسول.

سلطان مسعود چې کله د واک پر ګدۍ کېناست له خپل پلار څخه یې ډېر د ابوریحان البیروني درناوی کاوه او هغه هم د دغه درناوي او قدر په بدل کې د یوې نښې په توګه د (کتاب القانون المسعودي) چې د ستورو پېژندنې علم پورې مربوط و، د سلطان مسعود په نامه تألیف کړ.(۱۵: ۳۹۰مخ)

البیروني د سلطان مسعود د واکمنۍ پر مهال څو ځلې د هندوستان شمال چې هغه وخت د غزنویانو د امپراطورۍ پورې یې اړه درلوده سفرونه وکړل. د سفرونو په جریان کې یې د هغه ځای(د هندوانو) د ټولنو ټولنیز، مذهبي او علمي جوړښتونه ولیدل او په خپل مشهور کتاب(ماللهند) کې یې یادو مواردو ته ځای ورکړ.(۱۲: ۴۵مخ)

دا چې سلطان مسعود ته د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې ستونزې پيدا شوې او د هېواد اوضاع يې ګډه وډه وليده، نو خپل زوی(مودود) يې په غزني کې د ځان ځای ناستی کړ او په خپله له محمودي خزانو، لښکر او ړانده ورور(محمد) سره د هندوستان په لورې وخوځېد، خو په مارګيله(د اوسني حسن ابدال شرقي برخه) کې د ده لښکريانو پرده بلوا جوړه کړه. ړوند امير(محمد) يې خپل پاچا وټاکه او سلطان مسعود يې د ګيري(ګهری) په کلا کې بندي کړ او بيا يې د طاهر بن محمد په لاسونو وواژه. په دې وخت کې امير مودود په غزني کې د پلار پر تخت کېناست.(۵: ۱٦۳ مخ)

**ج :سلطان مودود او البيروني**

سلطان مودود چې د سلطان مسعود زوی دی او د هغو غزنوي شاهانو له ډلې څخه دی چې ابوريحان البيروني يې د واکمنۍ پر مهال په غزني کې و، د پلار له مرګ څخه وروسته په غزني کې د سلطان مسعود ځای ناستی شو. کله چې واک ته ورسېد، نو له خپل لښکر سره يې د هندوستان په لوري مخه کړه، تر څو د خپل پلار(سلطان مسعود) قاتلين په سزا ورسوي. هماغه و چې د ننګرهار په دنپور(اوسني جلال آباد ته نږدې – د بابر په آدينه پور) کې د خپل تره (محمد) له لښکر سره ونښت او د خپل پلار ترک او تاجيک وژونکي يې ټول په قتل ورسول. محمد او د هغه زوي طاهر يې هم ژوندي پرېنښودل.(۵: ۱٦۳ مخ)

ابوريحان البيروني د امير مودود د پلار او نيکه(سلطان محمود – سلطان مسعود) د وخت په څېر سلطان مودود سره هم د هندوستان په لوري سفرونه کړي، ځکه دغه مهال هم ابوريحان البيروني د غزنويانو په دربار کې اوسېده او په ياد دربار کې له يو ځانګړي امتياز او معنوي قدر څخه برخمن و. ابوريحان البيروني په يوې داسې مرحله او دوره کې ژوند کاوه چې رايج ټولنيز، سياسي او په ځانګړي ډول علمي جوړښتونه او بنسټونه وروسته له دې چې خراسان سيمې ته اسلام راغلی و، د تغيير په حالت کې ول. نو همدغه سبب و چې ابو

ريحان البيروني د نورو شاهانو په څېر د سلطان مودود په دور کې هم هند لوري ته سفرونه درلودل او هلته يې د هندي مسلمانانو او نورو هندوانو ترمنځ مذهبي او فرهنګي پردې او اختلافات پاى ته رسول او هڅه يې دا کوله چې د متقابل احترام او د درک يوه غښتلې زمينه سازي وکړي او په دې وتوانيږي د غزنويانوڅو مليته امپراطورۍ په جوړښت کې هندوان هم جذب کړي، تر څو په راتلونکو کې د هغوى له علومو، فنونو او هنرونو څخه ګټه پورته شي.(۱۲: ۴۵ مخ)

ابوريحان البيروني د سلطان مسعود په څېر د هغه زوى(سلطان مودود) سره هم ښې، مناسبې او غښتلې اړيکې درلودې. د امير مودود د واکمنۍ پر مهال ابوريحان د پخوا په څېر له ځانګړي قدر او مرحمت څخه برخمن و، همدغه سبب و چې ابوريحان البيروني خپل يو بل کتاب د (الدستور والجماهر في معرفت الجواهر) تر نامه لاندې د سلطان مودود په نوم تأليف کړ.(۳: ۱۹۲مخ)

**د: د ابو ريحان البيروني مړينه**

ابو ريحان البيروني د ژوند وروستى برخه د غزنويانو په دربار کې تېره کړه. په دغه دوران کې يې له سلطان محمود سره کله اړيکې ښې او کله ترينګلې وې، خو برعکس يې بيا اړيکې له سلطان مسعود او سلطان مودود سره نسبتاً د پخوا په پرتله ښې او ملايمې وې.

ابوريحان البيروني د غزني په دربار کې اوسېده، تر څو چې همملته وفات شو. د مرګ سبب يې د څېړونکو په قول په تاريخ کې نه دى مشخص شوى، خو د عمر ډېروالى او زوړوالى يې د مرګ سبب ګڼلى شو، ځکه د عمر لوړوالى يې د دې سبب ګرځېدلى و چې د ژوند په وروستيو شيبو کې يې سترګې ديد پرېښودې او بيا له دې نړۍ رحلت وکړي.(۱۹: نټ)

دائرة المعارف بزرګ اسلامي د ابوريحان البيروني د مرګ نېټه د ابو الفضل سرخي له خولې چې د ابوريحان البيروني له مريدانو څخه و، د ۴۴۰ ق.کال

د رجب المرجب د مياشتې په ۳ مه نېټه چې د ۱۰۴۸ز.کال د دسمبر د مياشتې ۱۲ مې نېټې سره سمون خوري ياده کړې او عمر يې ۷۷ کاله او اوه مياشتې ګڼي.(۱۵: ۳۹۰مخ)

**پايله**

د څېړنې په پای کې څرګنده شوه چې ابوريحان البيروني د (۹۷۳ – ۱۰۴۸) ز.کلونو ترمنځ زېږدلی او د (۷۷ )کلونو او اوو مياشتو په تېرېدلو سره دې نړۍ سره خدای ج په اماني کړې.

ابوريحان البيروني د افغانستان يو نوميالی مؤرخ، فيلسوف او وتلی عالم و. هغه عالم چې د ستورو پېژندنې، فزيک، رياضي او جغرافيې علومو په برخه کې يې کافي تجربه او پراخه مطالعه درلوده.

ابوريحان البيروني د غزنوي شاهانو له جملې څخه سلطان محمود غزنوي، د هغه زوي(سلطان مسعود) او بيا سلطان مودود سره نېکې، پراخه او ملايمې اړيکې درلودې. داسې اړيکې چې دوی ټولو شاهانو ورته د قدر په سترګه کتل او د ده درناوی يې په ځان واجب ګڼه.

ابوريحان البيروني د غزنويانو له درېيو شاهانو(سلطان محمود، مسعود او مودود) سره  په ډېرو سفرونو کې ملګری و، په ځانګړې ډول هغه سفرونه کوم چې نوموړو شاهانو د هند په لوري تر سره کول. يادو شاهانو سره په ځانګړې ډول سلطان مسعود او مودود سره د البيروني اړيکې دومره حسنه، ښې او ملايمې وې چې خپل دوه کتابه او آثار يې د دوي په نومونو نومولي.

البيروني نوموړو شاهانو سره دسفرونو په جريان کې په هند کې مذهبي او علمي اختلافات له منځه وړي او د متقابل احترام، د درک زمينه سازي او د غزنويانو د څو مليته امپراطورۍ لپاره يې ګڼ شمېر پوه هندوان جذب کړي.

**وړانديز**

۱ – دا چې ابوريحان البيروني ګڼ شمېر کتابونه د نړۍ په سطحه په عربي ژبې ليکلي او يواځې يو کتاب(التفهيم) يې په دري ژبه ليکلي دی، نو بناءً پر

دې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژباړې مرکز او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته وړاندیز کوم چې د البیروني نور کتابونه پښتو او دري ژبو ته وژباړي او بیا یې د چاپ په ګاڼه سمبال کړي، تر څو د ټولنې لپاره د ګټې وړ وګرځي.

**مأخذونه**

١ – بیروني، ابوریحان. آثارالباقیه. اکبر دانا سرشت، مؤسسه انتشارات امیر کبیر:تهران، ١٣٦٣هـ .

٢ – بیرونی، ابوریحان. ماللهند. بقلم، اکبر دانا سرش، انتشارات ابن سینا: تهران، ١٣٥٢هـ.

٣ – پرفیض، اسدالله. بررسي اوضاع افغانستان در عصر جانشینان سلطان محمود غزنوي(٤٢١ – ٥٨٢ هـ = ١٠٣٠ – ١١٨٧ م). اکادمی علوم:کابل، ١٣٩٥ هـ.

٤ – پرفیض، اسدالله. افغانستان در عصر سلطان محمود غزنوی. محل چاپ:مطبعه ازادي، وزارت اطلاعات و فرهنګ:کابل، ١٣٩٠ هـ.

٥ – حبیبي، عبدالحی. د افغانستان لنډ تاریخ. ژباړن: عبدالرؤف بېنوا، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ١٣٧٨ هـ.

٦ – خلیل الله، خلیلی. سلطنت غزنویان.محل چاپ، مطبعه عمومی کابل، تاریخ انجمن تاریخ افغانستان: کابل، ١٣٣٣هـ.

٧ – دهخدا، علی اکبر. شرح نابغه شهر ایران ابوریحان محمد بن احمد خوارزمی بیرونی، وزارت فرهنګ:تهران، چاپخانه مجلس، ١٣٢٤هـ.

٨ – شریف، ساهره. په افغانستان کې د ښځو د ښوونې او روزنې تاریخي بهیر، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه: پېښور، ١٣٧٨هـ.

٩ – غبار، میر غلام محمد. افغانستان د تاریخ په تګلوري کې. ژباړن: محمد بشیر دودیال، میوند خپرندویه ټولنه: پېښور، ١٣٩٣هـ.

١٠ – غبار، میر غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ. محل چاپ، مطبعه دولتي: کابل، ١٣٤٦هـ.

۱۱ – محمود، شاه محمود. تاریخ نویسی در افغانستان. اهتمام، څارنوال عبدالحفیظ و غلام سعید زلمی، کابل، ۱۳۷۷ هـ.
۱۲ – شریف، محمد عمر. «ابو ریحان بیرونی وتولید دانش در دوره امپراطوری غزنوی» ، مجموعه مقالات سیمنار بین المللی ابوریحان بیرونی، کابل، ۱۳۹۷هـ.
۱۳ – کټوازی، محمد شاه. غزني د تاریخ په پاڼو کې(لومړی ټوک)، بیهقي کتاب خپرولو ریاست: کابل، ۱۳۹۴ هـ.
۱۴ – مولف گمنام. حدود العالم من المشرق الی المغرب. مترجم: منوچهر ستوده و میر حسین شاه، تهران وکابل: ناشر شهر داری کابل، ۱۳۹۰هـ.
۱۵ – دائرة المعارف بزرگ اسلامی. جلد سیزدهم، بوسنه سرای – پوریای ولی، زیر نظر: کاظم موسوی بجنوردی، مرکز دایرة المعارف بزرگ اسلامي: تهران، ۱۳۸۳هـ.
۱٦ – ساپی، عبدالغیاث.«البیروني او پر اقلیم باندې اغیزمن لاملونه»، مجموعه مقالات سیمینار بین المللی ابوریحان بیرونی، کابل، ۱۳۹۷هـ.
۱۷ – منو. (۱۳۹۹) ابوریحان بیرونی و داستان از او.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=۸۹۹۷۸٤٤۹&url=http://www.yad
۱۸ – دانش چی.(۱۳۹۳) داستان از ابوریحان بیرونی.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=۸۹۹۷۸٤٤۹&url=https://www.de
۱۹ – کجارو.(۱۳۹۸) ابوریحان بیرونی؛ دانشمندی برای تمام اعصار.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=۸۹۹۷۸٤٤۹&url=https://www.koj

معاون محقق خدانظر اعتمادی

# بررسی عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان

# Investigating the Factors Affecting Social Trust in Afghanistan

***Junior Assistant Prof. Khuda Nazar Etemadi***

## Abstract

Considering the current social and political situation in Afghanistan, social trust is very important as one of the most important factors affecting the social, economic and cultural development and progress of this country. Social trust is one of the important aspects of human relations that provides the basis for participation and cooperation among society members. Social trust accelerates participation in political, economic, social and cultural fields and increases people's willingness to cooperate with different groups of society. The transformation of human societies from primitive and primitive to modern depends on the complexity, density of social relations and mutual communication, which social trust helps to

expand them. In this article, the influencing factors on social trust in Afghanistan are examined. These factors include corruption, unfair distribution of wealth, political instability, educational inadequacies, lack of government support and many other things including social and cultural behaviors of Afghan people. By understanding these factors, programs can be designed to increase social trust in Afghanistan, which can improve the quality of Afghan people life.

**خلاصه**

با توجه به وضعیت فعلی اجتماعی و سیاسی در افغانستان، اعتماد اجتماعی به عنوان یکی از مهمترین عوامل مؤثر بر توسعه و پیشرفت اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی این کشور بسیار حائز اهمیت می‌باشد. اعتماد اجتماعی یکی از جنبه‌های مهم روابط انسانی است که زمینه مشارکت و همکاری میان اعضای جامعه را فراهم می‌کند. اعتماد اجتماعی، مشارکت را در زمینه‌های سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی سرعت بخشیده و تمایل افراد را برای همکاری با گروه‌های مختلف جامعه افزایش می‌دهد. تحول جوامع انسانی از حالت اولیه و بدوی به مدرن در گرو پیچیدگی، تراکم روابط اجتماعی و ارتباط متقابل بوده است که اعتماد اجتماعی به گسترش آن‌ها، کمک می‌کند. به نظر می‌رسد که مهمترین عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان عبارت از فساد، توزیع ناعادلانه ثروت، بی‌ثباتی سیاسی، نارسایی‌های آموزشی، نبود حمایت دولتی و بسیاری موارد دیگر از جمله رفتارهای اجتماعی و فرهنگی مردم افغانستان می‌باشد. با درک اثرگذاری این عوامل، می‌توان برنامه‌هایی را برای افزایش اعتماد اجتماعی در افغانستان طراحی کرد که می‌تواند بهبود کیفیت زندگی مردم این کشور را به دنبال داشته باشد.

**مقدمه**

افغانستان یک کشور با تاریخ و فرهنگ غنی است که در طول سال‌ها با تحولات اجتماعی، سیاسی و اقتصادی مواجه شده است. اما یکی از عوامل بسیار مهم که در تمامی این تغییرات و تحولات تأثیرگذار بوده، اعتماد اجتماعی است. اعتماد اجتماعی به عنوان یک ارزش بنیادی در جامعه، نقش حیاتی در ایجاد و تقویت روابط انسانی، تعاملات تجاری و توسعه اقتصادی در افغانستان دارد. بدون اعتماد اجتماعی، روابط بین افراد و اجتماعات ضعیف می‌شوند و به طور طبیعی باعث کاهش همکاری و همبستگی مردم می‌شوند. در حالی که در صورت وجود اعتماد اجتماعی، روابط میان افراد و گروه‌ها قوی‌تر می‌شوند و همکاری‌های بیشتری را به همراه می‌آورد. اعتماد یکی از جنبه‌های مهم روابط انسانی و زمینه ساز همکاری میان اعضای جامعه است. اعتماد تمایل افراد را به تعامل و همکاری با گروه‌ها افزایش می‌دهد و شبکه‌ی از روابط داوطلبانه بین گروه‌ها را در ابعاد مختلف زندگی اجتماعی تشکیل می‌دهد. در واقع، اعتماد پیش شرط و تسهیل کننده مشارکت و انجام همکاری موفقیت آمیز است (۷: ص١٥٤).

در افغانستان، اعتماد اجتماعی به عنوان یک عامل مهم در فرایند ساخت و توسعه جامعه مطرح است. افغانستان در دسته‌بندی‌های بین‌المللی، از جمله اندیکاتورهای توسعه انسانی، معمولاً در رتبه‌های پایین قرار می‌گیرد و عدم اعتماد اجتماعی نیز یکی از عوامل اصلی این وضعیت است. در این مقاله، سعی به عمل می آید تا عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان تحلیل گردیده و بهترین راهکارها و استراتژی‌ها برای افزایش اعتماد اجتماعی در جامعه افغانستان ارائه گردد.

**اهمیت و مبرمیت تحقیق**

امروزه، تراکم و پیچیدگی روابط و تعاملات اجتماعی و شبکه‌یی شدن آن‌ها بیشتر از پیش می‌باشد که افزایش و پایداری این تراکم در صورت عدم وجود

اعتماد به عنوان پایه و اساس شکل‌گیری تعاملات اجتماعی در مقیاس‌های خرد، میانه و کلان ممکن نمی باشد. در شرایط کنونی افغانستان، مسئله اعتماد اجتماعی که یکی از موضوعات جامعه‌شناسی به حساب می آید و در پی آن، میزان کنش و کیفیت روابط اجتماعی و همچنان انگیزه مردم در مشارکت اجتماعی را نشان می دهد، از مبرمیت و اهیمت به سزایی برخوردار می‌باشد.

وضعیت اجتماعی، سیاسی و اقتصادی در افغانستان در طول نیم قرن اخیر  به گونه‌ی بوده است که در آن سطح بالایی از ناآرامی‌ها، تضادها و کشکمش‌ها وجود داشته و این کشور نتوانسته به انکشاف و توسعۀ لازم در بخش‌های مختلف دست پیدا کند. شرایط و وضعیت نابسامان، باعث گردیده تا حوزه‌های مختلف از زندگی اجتماعی مردم دچار آشفتگی و بحران شود و بالای ترمیم آن توجهی صورت نگیرد. به گونه‌ی مثال، در بستر این وضعیت بحرانی جامعه، اعتماد اجتماعی میان افراد مورد صدمه قرار گرفته و در نتیجه گروه‌های مختلف قومی، زبانی، سمتی، سیاسی و مذهبی نسبت به همدیگر بی‌اعتماد و بی‌باور شدند. به همین دلیل واکاوی و پژوهش که بتواند موضوع اعتماد اجتماعی در افغانستان را مورد تحقیق قرار دهد و راهکارهای مفید و سازنده برای افزایش آن ارائه نماید، دارای مبرمیت بوده و از اهمیت زیاد برخوردا می باشد. موضوع اعتماد اجتماعی می‌تواند به عنوان یک حوزه‌ی از زندگی اجتماعی اعضای جامعه از منظر جامعه‌شناسی مورد بحث و بررسی باشد. دستیابی به برقراری روابط سازنده و مفید اجتماعی که موجب رضایتمندی افراد شود، نیازمند تفحُّص و پژوهش در راستای مسئله اعتماد اجتماعی و همچنین نحوه‌ی حل مسئله است.

**هدف تحقیق**

امروزه اعتماد اجتماعی یکی از واقعیت‌های اجتماعی مهم زندگی مردم در تمام نقاط جهان به حساب می‌آید که هر عضوی از جامعۀ بشری برای

برقراری ارتباط با دیگران و مشارکت اجتماعی به سطح معینی از آن نیازمند است، بنابراین وجود اعتماد اجتماعی در میان جامعه و برقراری روابط اجتماعی بالای کیفیت زندگی انسان تأثیر به سزایی دارد. از این رو هدف تحقیق حاضر در واقع، تحلیل عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی و بررسی فکتورهای مختلفی است که بر چگونگی ایجاد اعتماد اجتماعی در افغانستان مؤثر می‌باشد.

**سوال تحقیق**

این تحقیق بر مبنای سوال اصلی ذیل انجام شده است:

۱. عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان کدام‌ها اند؟

۲. برای وضاحت و روشن شدن بهتر این موضوع، سوالات فرعی ذیل مطرح می‌گردد تا با ارایه‌ی پاسخ‌های آن، بتوان ابعاد جامعه‌شناختی و همچنان چالش‌های اعتماد اجتماعی در کشور را شناسایی نمود:

۳. اهمیت افزایش اعتماد اجتماعی در انکشاف و پیشرفت افغانستان چیست؟

۴. چالش‌های و راهکارهای تقویت اعتماد اجتماعی در افغانستان کدام‌ها اند؟

**روش تحقیق**

روش این تحقیق، توصیفی – تحلیلی بوده که در آن متون به صورت اسنادی بررسی گردیده است. عمده‌ترین منابع مورد استفاده در این تحقیق، کتاب‌ها، مجلات علمی و طرح‌های تحقیقی مرتبط به موضوع و سایت‌های انترنتی می‌باشد.

با توجه به شرایط، امکانات و وضعیت جوامع مختلف، عوامل متفاوتی می‌تواند در افزایش و کاهش اعتماد اجتماعی مؤثر باشند که تصنیف بندی آن‌ها نیز وابسته به همان شرایط و اوضاع است، اما در مقالهٔ حاضر این

دسته‌بندی مبتنی بر پارادایم‌های سه گانه جامعه‌شناسی صورت گرفته، قسمی که ابتدا موضوع در سطح خورد مطالعه گردیده و سپس در سطح میانه مورد بررسی قرار گرفته و در نهایت در سطح کلان مورد بحث واقع شده است.

**اول . فکتورهای فردی مؤثر بر اعتماد اجتماعی**

مسئله‌ی اعتماد و عوامل آن، تقریباً طی یک دهه گذشته، جایگاه مهمی در اندیشه جامعه‌شناسی کسب نموده است (۵: ص۱)، لذا تحلیل عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان بسیار حائز اهمیت است. یکی از این عوامل، فکتورهای فردی است که نقش بسیار مهمی در شکل‌گیری اعتماد اجتماعی در جامعه دارد.

یکی از فکتورهای مهم در این خصوص، تعلیمات و سطح تحصیلات فرد است. مطالعات نشان می‌دهد که افرادی که سطح تحصیلات بالاتری دارند، اغلب در مقامات و سازمان‌های توأم با اعتماد اجتماعی فعالیت می‌کنند و سطح تحصیل همواره به عنوان معیاری برای اعتماد اجتماعی در نظر گرفته می‌شوند. علاوه بر این، شخصیت و خصوصیات شخصی فرد نیز تأثیرگذاری بسیاری در اعتماد اجتماعی دارد. افرادی که صادق، صبور و متعهد هستند، معمولاً در جامعه از احترام و اعتماد بیشتری برخوردارند.

عوامل دیگری مانند سن، جنسیت، تجربیات قبلی و موقعیت اقتصادی نیز می‌توانند بر اعتماد اجتماعی تأثیرگذار باشند. به عنوان مثال، افرادی که تجربیات نامطلوبی در گذشته داشته‌اند، ممکن است دچار ناامیدی شوند و در نتیجه به سختی به دیگران اعتماد کنند ( ۱۸: انترنت) به طور کلی، فکتورهای فردی مانند ویژگی‌های شخصیتی از جمله عواملی اند که اعتماد اجتماعی را تحت تأثیر قرار می‌دهند. بررسی این عوامل و درک نقش آن‌ها در جامعه می‌تواند به توسعه و تقویت اعتماد اجتماعی کمک و یاری کند.

### الف. عوامل روانشناختی

در تحلیل عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان، عوامل روانشناختی نقش بسیار مهمی ایفا می‌کنند. روان‌شناسی افراد و تمایلات آن‌ها به اعتماد و یا عدم اعتماد در ارتباط با دیگران می‌تواند به شکل مستقیم یا غیرمستقیم بر اعتماد اجتماعی تأثیر بگذارد.

یکی از عوامل مهم در روان‌شناسی اعتماد، تجربه گذشته افراد است. افرادی که در گذشته تجربه‌های مثبتی در ارتباط با دیگران داشته‌اند، به احتمال زیاد به خوبی به دیگران اعتماد می‌کنند. از طرف دیگر، افرادی که تجربه‌های منفی در ارتباطات خود با دیگران داشته اند، به طور طبیعی ممکن است به دیگران با احتیاط نگریسته و اعتماد کمتری به آن‌ها داشته باشند.

همچنین، اعتقادات و ارزش‌های فردی نیز می‌تواند تأثیرگذار باشد. افرادی که اعتقاداتی مثبت در مورد همکاری، صداقت و اخلاقیات اجتماعی دارند، به احتمال زیاد به دیگران اعتماد بیشتری دارند. از سوی دیگر، افرادی که اعتقادات منفی درباره اخلاقیات اجتماعی داشته باشند، ممکن است به دیگران با اعتماد کمتری نگریسته و در نتیجه اعتماد اجتماعی آن‌ها نسبت به دیگران کاهش یابد چنانچه به باور گدینز، اعتماد ناشی از ایمان و اعتقاد است (۱۱: ص ٦٤). عوامل دیگری نیز ممکن است در روانشناختی اعتماد در رابطه به این موضوع مطرح باشد، ولی تشریح تمام آن‌ها در قالب این مقاله‌ی کوتاه نمی‌گنجد.

### ب. عوامل فرهنگی و اجتماعی

در این بخش از مقاله، عوامل فرهنگی و اجتماعی که بر اعتماد اجتماعی در افغانستان تأثیرگذار هستند، بررسی می‌شوند. فرهنگ و جامعه افغانستان دارای ویژگی‌ها و ارزش‌های مخصوص است که تأثیر عمیقی بر روی اعتماد اجتماعی دارند.

یکی از عوامل مهم فرهنگی که در افغانستان بر اعتماد اجتماعی تأثیرگذار است، مفهوم "عشیره" است. در جامعه افغانی، وجود عشایر و خانواده‌های گسترده و متراکم، اهمیت بالایی دارد. این ارتباطات خانوادگی و عشایری می‌توانند به شکل قابل ملاحظه‌ی بر اعتماد مردم نسبت به یکدیگر و همچنین به نظام و اساسات اجتماعی تأثیر بگذارند، چنانچه آنتونی گیدنز معتقد است که اعتماد در جوامع سنتی بر اساس روابط حاکم بر نظام خویشاوندی، اجتماعات محلی، دین و سنت شکل می‌گیرد (٦: ص١٩٤).

اعتقادات دینی در فرهنگ افغانستان نقش مهمی در شکل‌دهی به اعتماد اجتماعی ایفا می‌کنند، چنانچه به عقیده اریکسون اعتماد ناشی از ایمان و اعتقاد است (١١: ص١٤). دین اسلام به عنوان دین اکثریت مردم افغانستان، قوانین و اصولی را برای رفتار اجتماعی تعیین می‌کند که تأثیر بزرگی بر اعتماد و همدلی در جامعه دارد. عوامل دیگری مانند تعصبات قومی و قومیتی نیز در افغانستان وجود دارند که در تأثیرگذاری بر اعتماد اجتماعی نقش دارند. تعصبات قومی و بین‌قومی ممکن است باعث تفرقه و عدم اعتماد در جامعه شوند و مانع از اتحاد و تعامل مثبت بین افراد و گروه‌های مختلف قومی، زبانی و مذهبی گردد.

**ج. عوامل تحصیلی و آموزشی**

عوامل تحصیلی و آموزشی یکی دیگر از عوامل مهم و تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان است. آموزش و تحصیل می‌تواند نقش کلیدی در توسعه اعتماد اجتماعی داشته باشد؛ زیرا افراد با دستیابی به سطوح بالاتر آموزشی و دانش فراگیر، قادر به ارزیابی و تجزیه و تحلیل صحیح اطلاعات و رفتارهای اجتماعی می‌شوند. همچنین، افرادی که در زمینه‌های مختلف تحصیل کرده اند، به دانش و فهم بهتری از قوانین، قواعد اخلاقی و ارزش‌های اجتماعی برخوردار هستند. این دانش و فهم، به آن‌ها کمک می‌کند تا در تعاملات اجتماعی بهتر عمل کرده و به دیگران اعتماد کنند.

بیشترین تأثیر آموزش و تحصیل در اعتماد اجتماعی در افغانستان ممکن است در نوجوانان و جوانان دیده شود. آموزش و تحصیل در این دوران زندگی می‌تواند پایه‌های قوی اعتماد اجتماعی را برای آینده ایجاد کند. افزایش سطح آموزشی و دسترسی به آموزش باکیفیت و عالی برای جوانان می‌تواند به طور مستقیم به افزایش اعتماد اجتماعی و توسعه پایدار کشور منجر شود.

به طور کلی، عوامل تحصیلی و آموزشی می‌توانند نقش مهمی در ایجاد و تقویت اعتماد اجتماعی در افغانستان داشته باشند. اعتماد این محصلین به مراتب در مقایسه با سایر جوانان تأثیر بیشتری بر ساختارهای اجتماعی دارد. کارشناسان و سیاست گذاران که عمدتاً از این گروه بر گزیده می‌شوند، نیروهای متخصصی اند که توانایی برآورده ساختن نیاز های جامعه را دارند (۱:ص۵).

**دوم. فکتورهای سازمانی مؤثر بر اعتماد اجتماعی**

در تحلیل عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان، فکتورهای سازمانی نقش مهمی را ایفا می‌کنند. سازمان‌ها و نهادها در جامعه افغانستان با وجود تنوع فراوانی که دارند، بر اعتماد اجتماعی تأثیر قابل توجهی دارند.

یکی از فکتورهای مهم در نهادها و سازمان‌ها، رهبری قوی است. رهبرانی که اعتماد و احترام جامعه را برای خود جلب کنند، اعتماد اجتماعی را در سازمان افزایش می‌دهند. رهبرانی که شفافیت در تصمیم‌گیری‌ها، عدالت در رفتار و احساس مسئوولیت در قبال منافع عمومی را به نمایش بگذارند، بر اعتماد اجتماعی مثبت تأثیر می‌گذارند.

همچنین، فرهنگ سازمانی نیز در افزایش یا کاهش اعتماد اجتماعی دارای اهمیت است. سازمان‌هایی فرهنگ سالم و پویا دارند، که از ارزش‌های اخلاقی پایه‌ای پیروی می‌کنند و احترام و تعامل مثبت را ترویج می‌کنند، این

سازمان‌ها معمولاً اعتماد اجتماعی بالاتری در جامعه برای خود ایجاد می‌کنند.

علاوه بر این، شفافیت و انتشار اطلاعات نیز در ایجاد اعتماد اجتماعی نقش مهمی دارد. نهادها و سازمان‌هایی که اطلاعات خود را به صورت شفاف و قابل دسترس در اختیار عموم قرار می‌دهند و از مخفی کردن اطلاعات خود خودداری می‌کنند، بر اعتماد اجتماعی مردم اثر مثبت گذاشته و سبب افزایش آن می‌گردد. عوامل سازمانی که بر اعتماد اجتماعی مؤثر اند، قرار ذیل تصنیف و بررسی می‌شوند:

**الف. شفافیت سازمانی**

شفافیت سازمانی یکی از عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان است. در محیط کسب و کار، شفافیت به معنای ارائه اطلاعات صادقانه، شفاف و قابل اعتماد به مشتریان، کارکنان و جامعه است. وقتی که نهادها و سازمان‌ها از وجود شفافیت برخوردار باشند، اعتماد اجتماعی به طور قابل ملاحظه‌ی افزایش می‌یابد (۳: ص ١٤٥).

در افغانستان، کشوری که در گذشته با مشکلاتی نظیر فساد و ناهنجاری مواجه بوده است، شفافیت سازمانی می‌تواند نقش اساسی در بهبود اعتماد اجتماعی داشته باشد. وقتی که سازمان‌ها از ایده‌آل‌ها و ارزش‌های شفافیت پیروی کنند و اطلاعات مربوط به فعالیت‌های خود را در دسترس عموم قرار دهند، افراد احساس می‌کنند که این نهادها سازمان‌ها صادقانه و قابل اعتماد هستند. به طور مثال، یک سازمان که صورت‌های مالی خود را به صورت عمومی منتشر می‌کند و اطلاعات درباره ساختار سازمانی، سیاست‌ها و رویکردهای عملکردی خود را در دسترس عموم قرار می‌دهد، اعتماد اجتماعی را در بین مشتریان و اعضای جامعه افزایش می‌دهد. افراد احساس می‌کنند که سازمان به صورت شفاف و صادقانه عمل می‌کند و می‌توانند به

آن اعتماد کنند، بنابراین شفافیت سازمانی باعث ایجاد اعتماد در هر سطحی از ارتباطات می‌گردد (۱۵: ص ۱۲۰).

**ب. عدالت سازمانی**

یکی دیگر از عوامل مهم و تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان، عدالت سازمانی است. عدالت سازمانی به معنای توزیع منصفانه منافع، منابع و فرصت‌ها در درون یک سازمان یا درون یک نهاد است. در یک سازمان عادلانه، همه اعضا، بدون تبعیض و با توجه به شایستگی‌های شان به تمامی فرصت‌ها، منافع و منابع دسترسی دارند. این عدالت سازمانی، به اعتماد اجتماعی درون سازمان و همچنین در بین اعضا و کارکنان، تأثیر بسزایی دارد (۲: ص ۸٤).

در افغانستان، کشوری که در گذشته با مشکلاتی مانند فساد، ناکارآمدی دولتی و تبعیض‌های اجتماعی مواجه بوده است، عدالت سازمانی می‌تواند نقش بسزایی در افزایش اعتماد اجتماعی داشته باشد. وقتی که اعضا و کارکنان یک نهاد یا یک سازمان احساس می‌کنند که منافع شان به‌طور عادلانه مورد توجه قرار می‌گیرند و هیچگونه تبعیضی در توزیع منابع و فرصت‌ها وجود ندارد، آن‌ها به سازمان اعتماد خواهند داشت و در نتیجه با انگیزه‌ی بیشتری به کار خود مشغول خواهند شد.

از طرف دیگر، عدالت سازمانی می‌تواند در کاهش فساد نیز نقش بسزایی داشته باشد. وقتی که سازمان‌ها و دستگاه‌های اجرایی عدالت سازمانی را رعایت می‌کنند و هیچگونه تبعیضی و تعارض منافعی در آن‌ها وجود نداشته باشد، فرصت برای عموم افراد مهیا گردیده و این می‌تواند سبب جلب اعتماد آن‌ها شود.

**ج. آموزش و رشد فردی**

آموزش و رشد فردی یکی از عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان است. آموزش و یادگیری نقش بسیار حیاتی در انکشاف فردی افراد و ارتقای

سطح اطلاعات و مهارت‌های آن‌ها دارد. با داشتن دانش و آگاهی کافی، افراد بهتر قادر خواهند بود تا در مسائل مختلف اجتماعی و اقتصادی تصمیم‌گیری کرده و بهبودی در زندگی خود و جامعه خود را تجربه کنند.

آموزش می‌تواند به افراد کمک کند تا از توانمندی‌های خود آگاهی بیشتری پیدا کنند و مهارت‌های لازم برای مقابله با چالش‌ها و مسائل را توسعه دهند. این به افراد اعتماد به نفس بیشتری می‌دهد و آن‌ها را قادر می‌سازد تا در فعالیت‌های اجتماعی، اقتصادی و سیاسی فعالیت کنند.

علاوه بر آموزش، رشد فردی نیز نقش مهمی در افزایش اعتماد اجتماعی دارد. رشد فردی به معنای توسعه و بهبود خودشناسی، ارتقای مهارت‌های ارتباطی و اجتماعی، تقویت اراده و ایجاد انگیزه در افراد است. با افزایش سطح رشد فردی، افراد به خود و دیگران اعتماد بیشتری پیدا می‌کنند و توانایی حل مسائل و مواجهه با تحولات را دارا می‌شوند. برای توسعه اعتماد اجتماعی در افغانستان، باید تلاش کرد تا آموزش و رشد فردی انکشاف داده شود و بستر تغییرات فرهنگی موثر، محیا گردد.

**سوم. فکتورهای سیاسی و اقتصادی مؤثر بر اعتماد اجتماعی**

عوامل سیاسی و اقتصادی در هر جامعه‌ی بر اعتماد اجتماعی تأثیرگذارند و افغانستان نیز از این قاعده مستثنی نیست. در این کشور، عوامل سیاسی و اقتصادی بر اعتماد اجتماعی مردم تأثیر چشمگیری دارند و ممکن است بر سطح اعتماد مردم به دولت، نهادها و سازمان‌های عمومی و حتی یکدیگر نیز تأثیرگذار باشند.

**در بخش سیاسی**، عواملی مانند استقرار یک دولت پایدار و پایبند به اصول مردمی، حاکمیت قانون و تصفیه فساد از جمله عواملی هستند که بر اعتماد اجتماعی تأثیر مثبت دارند. وجود یک دولت قوی و پایدار، اعتماد مردم را نسبت به عدالت و توانایی دولت در حل مشکلات اجتماعی و اقتصادی افزایش می‌دهد. همچنین، حاکمیت قانون و پالایش فساد، اعتماد مردم را به

نظام قضایی و سازمان‌های عمومی افزایش می‌دهد و اطمینان می‌بخشد که حقوق و منافع آنان به درستی حفظ می‌شود (١٤: ص ٢٩٠).

**در بخش اقتصادی**، عواملی مانند رشد اقتصادی، ایجاد فرصت‌های شغلی، کاهش فقر و توزیع عادلانه ثروت از جمله عواملی هستند که بر اعتماد اجتماعی تأثیر مثبت دارند. رشد اقتصادی و ایجاد فرصت‌های شغلی، اعتماد مردم را به آینده اقتصادی کشور و توانایی دولت در تامین نیازهای اجتماعی افزایش می‌دهد.

**الف. استحکام نظام سیاسی**

استحکام نظام سیاسی به عنوان یکی از عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان بسیار حائز اهمیت است. در طول سال‌های گذشته، افغانستان با مشکلات و تحولات سیاسی پیچیده روبرو شده است که بر اعتماد عمومی و اعتماد به نظام سیاسی تأثیر می‌گذارد.

نظام سیاسی مستحکم و پایدار باعث افزایش اعتماد اجتماعی می‌شود. وقوع تغییرات سیاسی و ناتوانی در برقراری استحکام در نظام سیاسی می‌تواند باعث کاهش اعتماد عمومی شود و سطح پایین اعتماد سیاسی در واقع حکمرانی موثر یک نظام اجتماعی را تدریجا خراب می‌کند (١٧: ص٢٦٧). برای مثال، در دوران تغییرات سیاسی و اختلافات داخلی، مردم ممکن است از قدرتمندی و توانایی دولت در تأمین امنیت و رفع مشکلات اجتماعی مطلع نباشند. این مسئله باعث کاهش اعتماد عمومی به نظام سیاسی می‌شود.

از سوی دیگر، نظام سیاسی پایدار و قادر به برخورد با چالش‌های امنیتی و اقتصادی می‌تواند اعتماد عمومی را تقویت کند. تأمین امنیت، برقراری عدالت اجتماعی، توزیع منابع عادلانه، و توانمندی دولت در ارائه خدمات عمومی به مردم، بهبود اعتماد اجتماعی را به همراه دارد، زیرا اعتماد عام به وسیله عملکرد دولت تسهیل می‌گردد (١٠: ص١٠).

بنابراین، برای افزایش اعتماد اجتماعی در افغانستان، توجه به استحکام نظام سیاسی و تلاش برای ایجاد یک نظام سیاسی پایدار و عادلانه بسیار ضروری است؛ نظام سیاسی که در سایۀ استحکام آن مردم کشور بتوانند به رفاه و آسایش برسند و موجب افزایش اعتماد آن‌ها به همدیگر و همچنان سبب گسترش اعتماد سیاسی اعضای جامعه شود. اعتماد سیاسی یکی از عناصر مهم جامعه مدنی است که می تواند عاملی برای تعامل میان افراد جامعه و ارگان های دولتی تلقی شود. همکاری و مشارکت آحاد مختلف مردم یک جامعه در امور، به میزان اعتماد متقابل بین آن‌ها و ارگان‌های مختلف حکومتی بستگی دارد. بنا بر این اعتماد سیاسی امری است که می‌تواند نقش مؤثری در توسعه و پیشرفت یک کشور ایفا کند. اعتماد سیاسی از اساسی ترین مقوله‌های هرنظام سیاسی است که بدون برخورداری از آن، نظام‌ها نمی‌توانند مردم را به فعالیت‌های حمایتی در موقعیت‌های عدم قطعیت یا مخاطره ترغیب کنند (۸: ص۱۷۲).

**ب. توزیع عادلانه ثروت**

توزیع عادلانه ثروت، یکی از عوامل اساسی است که بر اعتماد اجتماعی در افغانستان تأثیرگذار است. در جوامعی که ثروت به صورت عادلانه تقسیم نمی‌شود، بین مردم احساس نابرابری و بی‌عدالتی به وجود می‌آید که می‌تواند به کاهش اعتماد اجتماعی منجر شود. این بی‌عدالتی می‌تواند به شکل تفاوت‌های بزرگ در سطح ثروت و درآمد، دسترسی محدود به فرصت‌های اقتصادی و تفاوت‌های ناعادلانه در توزیع منابع اقتصادی مشاهده شود.

با توجه به واقعیت‌های افغانستان، که در طول سال‌های جنگ، تحمیلات بسیاری را تجربه کرده است، توزیع ناعادلانه ثروت از جمله چالش‌های بزرگی است که باعث شده است عدالت اجتماعی و اعتماد عمومی به خطر بیفتد. تمرکز ثروت در دست برخی از افراد و عدم دسترسی عادلانه سایر افراد به

منابع و فرصت‌های اقتصادی، باعث فاصله‌ی بین طبقات اجتماعی و نابرابری رو به افزایش شده است.

برای تقویت اعتماد اجتماعی در افغانستان، لازم است که توزیع ثروت به صورت عادلانه‌تری صورت گیرد. این می‌تواند از طریق اصلاح سیاست‌های اقتصادی، ایجاد فرصت‌های بیشتر برای تمامی اقشار جامعه و تحقق بخشیدن عدالت اجتماعی صورت پذیرد. همچنین، تشویق به توزیع عادلانه منابع اقتصادی در شرایط مختلف جامعه که مردم بتوانند از آن بهره ببرند و خود را در آن سهیم بدانند، می‌تواند زمینه ساز افزایش اعتمادی اجتماعی آن‌ها باشد، برعکس وجود تبعیض و توزیع امتیازات ناعادلانه در نهایت به بی اعتمادی و بدبینی منجر می‌گردد (۱۲: ص ٨٤).

**ج. عدم فساد اقتصادی و سیاسی**

زمینه‌ای که به شدت می‌تواند بر اعتماد اجتماعی در افغانستان تأثیرگذار باشد، عدم وجود فساد در حوزه‌های اقتصادی و سیاسی است. وجود فساد در حوزه‌های مختلف در گذشته به‌طور گسترده‌ی به اقتصاد و سیاست این کشور آسیب زده و باعث کاهش اعتماد عمومی به دولت و نهادهای عمومی شده است.

در حوزه اقتصادی، وجود فساد می‌تواند روند رشد و توسعه را مختل کند. فساد مالی و مالکیتی در بخش‌های مختلف اقتصادی، اعتماد را به بانک‌ها، شرکت‌ها و سازمان‌های دولتی و خصوصی کاهش می‌دهد. کسانی که شاهد فساد مالی و مالکیتی هستند، به‌طور طبیعی اعتماد خود را به نظام اقتصادی کاهش می‌دهند و ممکن است به فکر خروج سرمایه از کشور باشند.

همچنین، وجود فساد سیاسی نیز تأثیر بسزایی در اعتماد اجتماعی دارد. فساد در سیستم قضایی، نهادهای اجرایی و نهادهای تصمیم‌گیری در دولت، اعتماد عمومی را به دولت و سیستم سیاسی کاهش می‌دهد. شهروندان

افغانستان در گذشته با شاهد بودن فساد در حوزه‌های سیاسی، به نظام سیاسی کشور  شک می‌کردند و اعتماد خود را به سیاستمداران و رهبران سیاسی از دست داده بودند.

برای افزایش اعتماد اجتماعی در افغانستان، مبارزه موثر با فساد در حوزه‌های اقتصادی و سیاسی ضروری است. دولت باید تدابیر قاطعی را برای مقابله با فساد سیاسی و اقتصادی اتخاذ کند به دلیل اینکه افزایش اعتماد اجتماعی و سیاسی زمینه ساز استحکام و ثبات سیاسی و بی اعتمادی و جدایی مردم از حکومت، آفت بزرگ به شمار می رود (٤: ص٣٤).

**چهارم. تأثیرات اعتماد اجتماعی در توسعه و پیشرفت اجتماعی**

اعتماد اجتماعی یکی از عوامل حیاتی در توسعه و پیشرفت اجتماعی کشورها است، و افغانستان نیز از این نظر مستثنی نیست. اعتماد اجتماعی در جوامع میان‌فردی ارتباطات مثبت و سازنده را تقویت می‌کند و برای تعاملات اجتماعی به صورت کلی بسیار حائز اهمیت است.

تأثیرات اعتماد اجتماعی در توسعه و انکشاف اجتماعی افغانستان بسیار چشمگیر است. با وجود تحولات سیاسی و اقتصادی در سال‌های اخیر، اعتماد اجتماعی می‌تواند به عنوان یک عامل مهم در تحقق پیشرفت و استقرار صلح و ثبات در کشور مورد توجه قرار گیرد.

وجود اعتماد اجتماعی میان افراد و مؤسسات می‌تواند به کاهش فساد و عدم فروپاشی نظام کمک کند، زیرا وقوع فساد و عدم اعتماد میان افراد می‌تواند بر روی توسعه اقتصادی و اجتماعی تأثیرات منفی بگذارد. با افزایش اعتماد اجتماعی، افراد می‌توانند بهتر به یکدیگر و به مؤسسات اعتماد کنند و همچنین به طور فعال در فعالیت‌های اجتماعی و اقتصادی مشارکت کنند. به طور کلی، توسعه و پیشرفت اجتماعی در افغانستان نیازمند تقویت اعتماد اجتماعی است. این باید به عنوان یک هدف برنامه‌ریزی شده در سیاست‌ها و استراتژی‌های توسعه اجتماعی مدنظر قرار گیرد و خط مشی سیاست‌مداران

و دست اندرکاران امور اجتماعی کشور شود. اعتماد سیاست‌مداران به همدیگر و اعتماد مردم به آن‌ها، ارتباط دارد به عملکرد دولت در ارتباط با اعتقاد شخصی یک فرد در نقش دولت. به همین لحاظ، فقدان اعتماد بین اعضا و نهادهای دولتی ممکن از بیکاری یا عدم مسئولیت پذیری سرچشمه می‌گیرد که مانع تامین ارتباطات آن‌ها می‌شود و این رفتارها می‌تواند رفتار های غیر معتمد توصیف شود (١٦:ص٢).

**پنجم. چالش‌ها و راهکارهای تقویت اعتماد اجتماعی در افغانستان**

در جامعه افغانستان، اعتماد اجتماعی یکی از عوامل بسیار مهم در تعاملات روزمره است. اما برخی چالش‌ها و موانع می‌توانند تقویت اعتماد اجتماعی را در این کشور دشوار کنند. یکی از این چالش‌ها عدم استقرار و پایداری در سیاست‌های کشور است. تغییرات مکرر در حکومت و بحران‌های امنیتی می‌توانند باعث ناپایداری در اعتماد اجتماعی شود.

راهکارهایی برای تقویت اعتماد اجتماعی در افغانستان وجود دارد. اول از همه، بهبود وضعیت امنیتی و استقرار سیاسی در کشور می‌تواند به طور قابل توجهی به تقویت اعتماد اجتماعی کمک کند. ایجاد استقرار و پایداری در سیاست‌ها و ارتقای امنیت عمومی، اعتماد مردم را به دولت و سازمان‌های عمومی افزایش می‌دهد.

علاوه بر این، تقویت شفافیت و عدالت در اداره‌ها و سازمان‌های دولتی نیز می‌تواند به تقویت اعتماد اجتماعی کمک کند. لذا تمرکز افغانستان بر روی مبارزه با فساد و بهبود عملکرد اداری موجب بهبودی این روند می‌گردد. این اقدامات می‌توانند به مردم اعتماد بیشتری به دولت و سازمان‌های دولتی بدهند. همچنین، توجه به توانمندسازی جامعه و ارتقای آگاهی عمومی نیز مهم است. با ارائه آموزش‌ها و اطلاعات صحیح به مردم، اعتماد اجتماعی می‌تواند تقویت پیدا کند و برعکس جامعه‌ی که در فقدان آگاهی به سر ببرد و در عدم اطلاعات کافی زندگی کند بر سرنوشت خود حاکم نبوده و بیشترین

صدمه به اعتماد اجتماعی میان آن‌ها وارد خواهد شد و باید در نظر داشت که یک دوره طولانی بی اعتمادی می‌تواند باعث به چالش کشیده شدن و حتی طرد هنجارهای اساسی جامعه شود (۱۳: ص۱۰۰)، بنابراین عمده‌ترین راهکارها برای تقویت و گسترش اعتماد اجتماعی در افغانستان را می‌توان قرار ذیل توضیح داد:

**الف. اصلاح سیاست‌ها و قوانین**

در افغانستان، برای افزایش اعتماد اجتماعی، لازم است که سیاست‌ها و قوانین مرتبط با این موضوع اصلاح شوند. این اصلاحات می‌تواند بهبود قابل ملاحظه‌ی در سطح اعتماد مردم به دولت و نظام فراهم کند زیرا اعتماد سیاسی احساس اطمینان است که شهروندان نسبت به نهادها و افراد مذکور دارند و فکر می‌کنند که این نهادها و مسئولان، حتی در نبود نظارت‌های مداوم، آنچه را که درست است انجام خواهند داد (٦: ص١٩٥)، برخی از عواملی که باید در نظر گرفته شوند عبارتند از:

۱- شفافیت: اصلاح سیاست‌ها و قوانین برای افزایش شفافیت در عملکرد دولت و نظام می‌تواند به مردم اعتماد بیشتری فراهم کند تا نسبت به حکومت خود اعتماد بیشتری داشته باشد. انتشار اطلاعات و دسترسی آسان به آن‌ها، به شهروندان اجازه می‌دهد تا به طور کامل از فعالیت‌های دولت آگاه شوند و در نتیجه، اعتماد به دولت و سیاستمداران بیشتر می‌شود.

۲- عدالت: اصلاح قوانین جهت تضمین عدالت و برابری در جامعه نیز بسیار حائز اهمیت است. اگر همه شهروندان بتوانند از حقوق و منافع خود به طور مساوی بهره‌مند شوند و هیچ کس مورد تبعیض قرار نگیرد، اعتماد اجتماعی به دولت و نظام بهبود می‌یابد.

۳- مبارزه با فساد: فساد می‌تواند یکی از عوامل اصلی کاهش اعتماد اجتماعی باشد (١٤: ص ٢٩٥). اصلاح سیاست‌ها و قوانین برای مبارزه با

فساد و تشدید مجازات مرتکبان آن، می‌تواند اعتماد مردم را به دولت و نظام تقویت کند.

در نتیجه با اصلاح سیاست‌ها و قوانین مرتبط با اعتماد اجتماعی، اعضای جامعه از نهادها و مسئولان احساس رضایتمندی نموده و فواید این اصلاحات را به نفع خود می‌پندارند که در نتیجه موجب افزایش اعتماد اجتماعی آن‌ها می‌شود.

**ب . تقویت آموزش و ارتقای آگاهی جمعیت**

تقویت آموزش و ارتقای آگاهی جمعیت یکی از عوامل مهم در تقویت اعتماد اجتماعی در افغانستان است. آموزش و آگاهی به معنای ارائه دانش و اطلاعات صحیح و کامل به جامعه است که افراد را قادر می سازد تا به طور صحیح ارزیابی کنند و درک کنند که اعتماد اجتماعی چه چیزی است و چرا باید در اجتماع به آن اهمیت داده شود.

یکی از راه های تقویت آموزش و ارتقای آگاهی جمعیت در افغانستان، ارائه آموزش های موثر و قابل دسترس به همه اقشار جامعه است. این آموزش‌ها می‌توانند شامل آموزش‌های تخصصی و فنی، آموزش‌های کاربردی برای بهبود مهارت‌های اجتماعی و توانمندی‌های فردی، و آموزش‌های اخلاقی و ارزشی باشند. همچنین، آموزش‌های مرتبط با حقوق انسانی، تساوی جنسیتی، و حل مسئله نیز باید در برنامه‌های آموزشی جامعه جایگزین شوند.

همچنین، ارتقای آگاهی جمعیت می‌تواند از طریق رسانه‌ها و وسایل ارتباط جمعی صورت گیرد. رسانه‌ها می‌توانند مقالات، گزارش‌ها، برنامه‌های تلویزیونی و رادیویی، و محتواهای دیجیتالی را منتشر کنند که به افزایش آگاهی جمعی در مورد مفهوم اعتماد اجتماعی و نیز راه‌های تقویت آن کمک می‌کند.

### ج. ارتقای شفافیت و عدالت در سازمان‌ها

یکی از عوامل تأثیرگذار بر اعتماد اجتماعی در افغانستان، ارتقای شفافیت و عدالت در نهادها و سازمان‌ها است. شفافیت به معنای افشای اطلاعات مربوط به فعالیت‌ها و تصمیم‌گیری‌های سازمانی است. وقتی که یک نهاد و یا یک سازمان شفافیت داشته باشد و اطلاعات خود را به طور کامل و صادقانه در اختیار عموم قرار دهد، اعتماد اجتماعی در بین مردم به طور قابل ملاحظه‌ای ارتقا می‌یابد.

عدالت نیز به معنای رعایت حقوق و توزیع منصفانه منافع و منابع است. وقتی که یک سازمان عدالت را در تصمیم‌گیری‌ها و رفتارهای خود رعایت کند و تمام افراد را به صورت برابر در نظر بگیرد، اعتماد اجتماعی در بین اعضای جامعه تقویت می‌شود. در غیر آن اگر عدالت اجرا نشود و طبقات مختلف جامعه به منابع و امتیازات دسترسی یکسان نداشته باشند، اعتماد اجتماعی نیز دچار نوسانات می‌شود، زیرا میزان اعتماد موجود بستگی به میزان سرمایه اجتماعی موجود در اختیار فرد و طبقه خاصی است که فرد در آن قرار دارد، طبقات بالا و تا حدودی طبقات متوسط با در اختیار داشتن منابع و انواع سرمایه‌ها، جزئی از بدنه حکومت را تشکیل می‌دهند و با توجه به پرورش فرهنگی خاصی که از بدو تولد می‌بینند، هم اعتماد سیاسی بالایی نسبت به نظام سیاسی موجود دارند و هم وسیله باز تولید نظام سیاسی در میان طبقات دیگر هستند؛ اما طبقات پایین جامعه که دسترسی کمتر به منابع دارند و با توجه به این که از سرمایه‌های اندکی برخوردارند، همیشه در تکاپوی کسب احتیاجات اولیه زندگی خویش هستند؛ بنابراین همیشه با وضعیت مطلوب زندگی فاصله دارند و در نتیجه، علت فقر و بدبختی خویش را نظام و سازمان سیاسی موجود می‌پندارند؛ در این شرایط اعتماد آن‌ها به نظام سیاسی پایین است (۹: ص۱۹۸).

ارتقای شفافیت و عدالت در سازمان‌ها اهمیت زیادی در جامعه افغانستان دارد. این اقدامات می‌توانند به کاهش فساد، افزایش شفافیت در کارکرد نهادها و سازمان‌ها، و ایجاد اعتماد بین مردم و دولت کمک کنند. همچنین، این عوامل می‌توانند به ایجاد روحیه کار تیمی و همکاری میان اعضای سازمان کمک کنند و در نهایت باعث افزایش بهره‌وری و عملکرد بهتر سازمان‌ها شوند.

برای ارتقای شفافیت و عدالت در نهادها و سازمان‌ها، لازم است تدابیر قانونی و سیاست‌های مناسبی برای افشای اطلاعات، مبارزه با فساد، و توزیع منصفانهٔ منابع وجود داشته باشد. در این راستا نهادهای سیاسی مسئولیت دارند که این امکان را برای اعتماد سازی میان اعضای جامعه فراهم کنند.

**د. توسعه اقتصادی پایدار و مستقل**

انکشاف و توسعه اقتصادی پایدار و مستقل یکی از عوامل اساسی در افزایش اعتماد اجتماعی در افغانستان است. با توجه به این که اقتصاد قوی و پایدار نقش بسیار مهمی در تقویت اعتماد مردم به دولت، نهادها و سازمان‌های عمومی دارد، توسعه اقتصادی می‌تواند به شکل مثبتی بر روی روابط اجتماعی تأثیر بگذارد. از طریق ایجاد فرصت‌های شغلی پایدار و افزایش درآمد مردم، قدرت خرید آنان افزایش می‌یابد که منجر به رونق اقتصادی و کاهش فقر و نابرابری می‌شود. این افزایش در کیفیت زندگی مردم موجب افزایش اعتماد اجتماعی و تقویت روابط میان افراد و انجمن‌ها می‌شود.

علاوه بر این، توسعه اقتصادی مستقل در افغانستان می‌تواند در کاهش وابستگی به کمک‌های خارجی نقش مؤثری داشته باشد. با توسعهٔ صنایع داخلی و افزایش تولیدات محلی، کشور قادر خواهد بود برای تأمین نیازهای خود به صورت مستقل عمل کند و بیشترین استفاده را از منابع داخلی خود کند. این امر، اعتماد مردم به قدرت و قدرت‌های محلی را افزایش می‌دهد و ارتباطات اجتماعی قوی‌تری را به وجود می‌آورد.

برای تحقق توسعهٔ اقتصادی پایدار و مستقل، نیاز به برنامه‌ریزی دقیق و استراتژی‌های مبتنی بر توسعه پایدار داریم. باید الگوها و پیش زمینه‌های توسعه پایدار با توجه به وضعیت و ظرفیت‌های اجتماعی و اقتصادی کشور دقیقاً سنجیده شود و مورد مطالعه و تحقیق قرار گیرد، و سپس بالای آن برنامه ریزی شود و قدم به قدم اهداف آن پیموده شود تا از این طریق بتوان اعتماد اجتماعی اعضای جامعه را به سطح بالایی افزایش داد.

**نتیجه‌گیری**

در این تحقیق، به بررسی عوامل مختلفی پرداخته شد که بر اعتماد اجتماعی در افغانستان تأثیرگذارند. این عوامل شامل عوامل فردی، اجتماعی و ساختاری است که درک بهتری از دینامیک‌های اعتماد در جامعه افغانستان ارائه می‌دهد.

یکی از نتایج اصلی این تحقیق، اهمیت فکتورهای فردی بر اعتماد اجتماعی است. افرادی که با میزان آگاهی بیشتری از مسائل اجتماعی و فرهنگی روبرو هستند، معمولاً به شکل مثبت‌تری به اعتماد نسبت می‌دهند. همچنین، فکتورهای اجتماعی مانند شبکه‌های اجتماعی و روابط میان فردی نیز بر اعتماد تأثیرگذار هستند. ارتباطات قوی و روابط مثبت با دیگران می‌تواند به تقویت اعتماد اجتماعی در جامعه کمک کند.

عوامل ساختاری نیز نقش مهمی در تشکیل اعتماد اجتماعی دارند. سیستم قضایی، حکومت، وضعیت اقتصادی و سیاسی کشور و سایر عوامل ساختاری در تعیین سطح اعتماد اجتماعی در جامعه افغانستان تأثیرگذارند. به عنوان مثال، افراد که از کیفیت و عدالت سیستم قضایی اطمینان دارند، به طور کلی به اعتماد اجتماعی بیشتری نسبت می‌دهند.

از این تحقیق می‌توان نتیجه گرفت که برای تقویت اعتماد اجتماعی در افغانستان، نیاز به انکشاف و توسعهٔ اجتماعی، سیاسی و اقتصادی پایدار و مستقل احساس می‌گردد. همچنان با توجه به وضعیت کنونی کشور،

چالش‌های زیاد در راستای افزایش اعتماد اجتماعی وجود دارد که در این تحقیق راهکارهای برای تقویت و افزایش آن نیز بررسی شد، چنانچه این راهکارها عبارت اند از : اصلاح سیاست‌ها و قوانین، تقویت آموزش و ارتقای آگاهی جمعیت، ارتقای شفافیت و عدالت در سازمان‌ها و توسعهٔ اقتصادی پایدار و مستقل.

**مآخذ**

**الف. کتاب‌ها و مقالات**


۱ـ اعتمادی، خدانظر. «بررسی میزان اعتماد سیاسی دانشجویان دانشگاه تعلیم و تربیه کابل»، پایان نامه تحصیلی مقطع لیسانس، پوهنتون تعلیم و تربیه کابل، کابل: ۱۳۹٤.

۲ـ حقیقی، محمدعلی و دیگران. «بررسی تاثیر عدالت سازمانی بر عملکرد کارکنان» مدیریت فرهنگ سازمانی، سال هفتم، شماره بیستم، ۱۳۸۸.

۳ـ رضازاده، فاطمه و دیگران، شفافیت سازمانی، سمینار پژوهش‌های نوین در مدیریت و مهندسی صنایع. تهران: ۱۳۹۸.

۴ـ زاهدی، شمس السادات، و خانباشی، محمد. «از اعتماد عمومی تا اعتماد سیاسی»، پژوهش‌های مدیریت، دوره پانزدهم، شماره چهارم، ۱۳۹۰.

۵ـ زتومکاه، پیوتر. اعتماد، نظریه جامعه شناسی، ترجمه غلام رضا غفاری، نشر نی، تهران: ۱۳۸٦.

٦ـ سید امامی، کاووس، و منتظری مقدم، رضا. «نقش فرهنگ اعتماد و عملکرد نهادهای سیاسی در ایجاد اعتماد سیاسی»، پژوهش نامه علوم سیاسی، سال هفتم، شماره چهارم، ۱۳۹۱.

۷ـ شایگان، فریبا. «بررسی عوامل تاثیر گذار بر اعتماد سیاسی»، فصلنامه دانش سیاسی، سال چهارم، شماره اول، ۱۳۸۷.

۸ـ صدیقی، بهرنگ، ملکمیان، لینا، و اجاقی ازبری، مهدی. «بررسی تاثیر اعتماد سیاسی بر مشارکت سیاسی»، فصلنامه پژوهش اجتماعی، سال چهارم، شماره یازدهم ، ۱۳۹۰.

۹ـ طالبی، ابو تراب، حیدری، سیامک، و فاطمی نیا، سیاوش. «عوامل موثر در اعتماد سیاسی پیمایشی میان دانشجویان دانشگاه صنعتی شریف»، پژوهش نامه علوم سیاسی، سال سوم، شماره چهارم، ۱۳۸۷.

۱۰ـ کتابی، محمود، و دیگران. «سنجش اعتماد اجتماعی و عوامل مؤثر بر آن در مراکز شهرستان‌های چهارمحال و بختیاری» جامعه شناسی کاربردی، سال بیست و یکم، شماره چهارم، ۱۳۸۹.

۱۱ـ گیدنز، انتونی. تجدُد و تشخُص، ترجمه ناصر موفقیان، نشر نی، تهران: ۱۳۸۳.

۱۲ـ موحد، مجید، روح‌الله مظفری و سمانه علیزاده. «مطالعه‌ی رابطه‌ی سرمایه‌ی فرهنگی با اعتماد نهادی»، فصلنامه مطالعات توسعه اجتماعی – فرهنگی، سال اول، شماره سوم، ۱۳۹۱.

۱۳ـ میلبرث، لستر، و گوئل، لیل. مشارکت سیاسی، ترجمه سید رحیم ابولحسنی، انتشارات میزان، تهران: ۱۳۸۶.

۱۴ـ نرگسیان، عباس و دیگران. «بررسی ارتباط فساد و اعتماد در رابطه بین شفافیت و رضایت شهروندان»، فصلنامه مدیریت دولتی، دوره دهم، شماره دوم، ۱۳۹۷.

۱۵ـ Bandsuch, M., Pate, L., & Thies, J. **Rebuilding stakeholder trust in business: An examination of principle-centered leadership and organizational transparency in corporate**

**governance**. *Business and Society Review,* ۱۱۳ (۱), ۹۹-۱۲۷ . ۲۰۰۸

۱٦ـ Hooghe, Sofie M. M. "Does political trust matter? An empirical investigation into the relation between political trust and support for law compliance". European journal of plitical Reseach, ۲۰۰۰.

۱۷ـ Nichol, Philip, M. Why Codes Alone Do Note Create Trust in Government Action: The critical Different between Trustworthy and Trustthory.

**ب: وبسایت‌ها**

۱ـ رفاهی، محمد حسین. درمان شک و بی‌اعتمادی، تهران: ۵ اسد ۱٤۰۲، https://hosseinrefahi.com/treatment-doubt-and-mistrust/ [تاریخ دسترسی: ۱٤۰۲/۹/۱۹]

څېړنیار سیدمحمدصادق سادات

# له عباسي دربار سره د ابو مسلم خراساني د اړیکو څېړنه

# A study of Abu Muslim Khorasani’s relationship with the Abaci kingdom

***Assistant Research Syed Mohammad Sadiq Sadat***


## Abstract

Abu Muslim Khorasani's relationship with the Abbasid family was strengthened when the Abbasid family wanted to gain power and take over the caliphate from the Umayyad’s.

On the other hand, the tyranny of the Umayyad caliphs and high state taxes had reached their peak in Khorasan.

The citizens of Khorasan were fed up with the high government taxes and unequal rights of the Umayyad rulers.

At the same time, Abu Muslim Khorasani, who was a young man, established relations with the Abbasid family and with their help, he overthrew the Umayyad Caliphate in Khorasan and raise up the black flag of the Abbasids.

After that, he followed the Umayyad armies until he captured Damascus, the center of the Islamic Caliphate, from them. In ۱۲۸ A.H., the Caliphate was transferred from the Umayyad to the Abbasids and Abu al-Abbas Safah became the caliph of the Abbasid family.

He was elected, he took the allegiance from the people in the mosque of Kofi.

Abu al-Abbas Safah's relationship with Abu Muslim Khorasani was very friendly as he consulted with Abu Muslim Khorasani in all matters, even when appointing governors and representatives.

Although Abu Muslim could manage his affairs independently in Khorasan and did not seek advice from the Abbasid caliph, still the relationship between the two was good until the end of the caliphate of Abu al-Abbas Safah. became and his brother Jafar Mansoor took over the caliphate, so the relationship between Abu Muslim Khorasani and the Abbasid Caliph became worse and day by day the Abbasid Caliph was trying to prevent the influence of Abu Muslim Khorasani, until In ١٣٤ A.H. Called him to his kingdom by a secret sissy and took him to martyrdom

**لنډيز**

د ابومسلم خراساني اړيکې له عباسي کورنۍ سره هغه مهال ټينګې شوې چې د عباسيانو کورنۍ غوښتل ځان قدرت ته ورسوي او امويانو څخه د خلافت چارې په لاس کې واخلي. له بلې خوا په خراسان کې د اموي خلفاوو ظلم او لوړ دولتي ماليات اوج ته رسېدلي وو. د خراسان وګړي د اموي حاکمانو له لوړو دولتي مالياتو او د حقوقو له نا برابرۍ څخه په تنګ شوي وو. په همدې وخت کې ابومسلم خراساني چې د ځوانۍ دوره يې وه له عباسي کورنۍ سره اړيکې ټينګې کړې او د هغوي په مرسته يې په خراسان کې د امويانو خلافت نسکور او د عباسيانو تور رنګه بيرغ يې ورپاوه. ورپسې يې د امويانو لښکرې تعقيب کړې تر څو چې د اسلامي خلافت مرکز دمشق يې هم له هغو څخه ونيو په دې سره په ١٢٨هـ ق.کال کې له امويانو څخه عباسيانو ته د خلافت چارې انتقال او ابوالعباس سفاح د عباسيانو د کورنۍ د خليفه په توګه وټاکل شو، نوموړي د کوفې په جومات کې يې له خلکو نه بيعت واخيست.

د ابوالعباس سفاح اړیکې له ابومسلم خراساني سره ډېرې دوستانه وې تر دې چې په ټولو چارو کې حتا د والیانو او استازو په ګمارلو کې یې هم له ابومسلم خراساني سره مشوره کوله. که څه هم په خراسان کې ابومسلم خپلې چارې په خپلواکه توګه اداره کولې او په چارو کې یې له عباسي خلیفه څخه مشوره نه غوښتله خو بیاهم د دواړو اړیکې د ابوالعباس سفاح د خلافت تر پایه پورې ښې وې، خو کوم وخت چې ابوالعباس سفاح وفات شو او پر ځای یې د هغه ورور جعفر منصور د خلافت چارې په لاس کې واخیستې نو د ابومسلم خراساني او عباسي خلیفه اړیکې ترینګلې شوې او ورځ تر بلې عباسي خلیفه د ابومسلم خراساني د نفوذ د مخ نیوي په هڅه کې و، تر څو چې په ۱۳۴هـ ق. کال د یوې پټې دسیسې په واسطه خپل دربار ته وغوښت او په شهادت یې ورساوه.

**سریزه**

په افغانستان کې د اسلام د مبارک دین له خپرېدلو وروسته د عباسي کورنۍ او ابو مسلم خراساني ترمنځ  اړیکې او مناسبات یو له مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، لامل یې دا دی چې  عباسیانو د ابومسلم خراساني په ملاتړ وکولای شول چې په اسلامي نړۍ کې د امویانو خلافت ته د پای ټکی کېږدي او خپل واک په ټوله اسلامي نړۍ او خراسان باندې وچلوي. خو کوم وخت چې د دوي د خلافت ستنې په ټوله اسلامي نړۍ کې ټینګې شوې او خپل ټول مخالفین یې له منځه یوړل، نو وروسته یې د ابومسلم خراساني اړتیا هم نه محسوسوله او د هغه د وژنې پلان یې ونیوه چې په پای کې د یوې پټې دسیسې په واسطه د عباسي خلیفه ابوجعفر منصور په دربار کې ووژل شو.

ابو مسلم خراساني په کمو او لږو امکاناتو سره په خراسان کې د اموي خلافت پر ضد مبارزه پیل کړه. لومړی یې د هغوي د خلافت بیرغ په خپل کلي (سپید نج) کې را کوز او د عباسیانو تور رنګه بیرغ یې ورپاوه وروسته یې په ټول هېواد کې د اموي خلافت پر ضد مبارزه پیل کړه او آن د اموي خلافت

مرکز (دمشق) پورې یې هغوي تعقیب او له پښو وغورځول او عباسیانو خپل خلافت اعلان کړ. خو کوم وخت چې د عباسي خلافت د بنسټ ګړ (ابوالعباس سفاح) له مړینې وروسته یې ورور ابو جعفر منصور د خلافت چارې په لاس کې واخیستې، نوموړي د خلافت په لومړیو ورځو کې ابو مسلم خراساني ته د ملاقات بلنه ورکړه او د یوې دسیسې له مخې یې نوموړی د درې تنو جلادانو په واسطه په شهادت ورساوه.

د ابومسلم خراساني له وژل کېدو وروسته عباسي خلیفه ابوجعفر منصور د آرامۍ ساه واخیسته، ځکه هغه په دې پوه شو چې له دې وروسته بل هېڅ څوک د خلافت په مقابل کې ستونزې نشي جوړولای. نوموړي په ټوله اسلامي نړۍ او په ځانګړي ډول خراسان کې د ابومسلم خراساني له نفوذ څخه ویره درلوده او هغه یې په خراسان کې د عباسي خلافت لپاره خنډ باله، که څه هم د ابو مسلم خراساني په وژلو سره نړدې اویا کاله عباسي خلافت په خراسان کې دوام وکړ، خو په دې موده د خراسان سپېڅلو مبارزینو وخت ناوخت د عباسي خلافت د ظلم او استبداد پر وړاندې خپلو مبارزو ته دوام ورکړ تر څو چې په ۲۰۷ق. کال طاهر فوشنجي د سر په بیه وکولای شول چې په خراسان کې اسلامي خپلواک دولت رامنځ ته کړي. پورته مطالب د دې موضوع ارزښت ښکاره کوي، ابومسلم خراساني په ډېر میړانه او په کم وخت کې وکولای شول چې اموي خلافت نسکور کړي او عباسیان قدرت ته ورسوي خو په مقابل کې کوم وخت چې عباسي خلیفه خپل ټول مخالفین د ابومسلم خراساني په واسطه له منځه یوړل نو په پای کې د هغه د وژنې دسیسه په بریالی توګه پلې کړه او د هغه د کړو خدمتونو په بدل کې یې د تورې په واسطه په بې رحمانه توګه شهید او مړی یې د دجلې سیند ته وغورځاوه.

د ابومسلم خراساني شخصیت، کارنامې، له عباسي دربار سره اړیکې او وژنه یې هغه موضوعات دي چې په دې مقاله کې په هر اړخیزه توګه څېړل

شوي دي او د دې تر څنګ دا مقاله په سريزه، موخې، مبرميت، پايله، وړانديز او ماخذونو باندې راټوله شوې، او دا څېړنه يې بشپړه کړې ده.

**د څېړنې مبرميت**

د دې څېړنې مبرمبت په دې کې دی چې ابومسلم خراساني زموږ د هېواد د خپلواکۍ د لارې يو مبارز او اتل و، هغه هيله درلوده تر څو په خراسان کې اسلامي خپلواک دولت تأسيس کړي، خو په دې لاره کې د عباسي خليفه ابو جعفر منصور له لوري په ډېره بې رحمانه توګه ووژل شو. نو له همدې امله د دې ستر شخصيت اړيکې له عباسي خلافت سره او په پايله کې د هغوي له لوري د ابو مسلم د وژل کېدلو موضوع اړينه نو لازمه مې وګڼله چې په اړه يې څېړنه تر سره کړم.

**د څېړنې موخه**

د دې علمي ـ څېړنيزې مقالې د ليکلو موخه د ابومسلم خراساني شخصيت، له عباسي دربار سره اړيکې او د هېواد له خپلواکۍ په لاره کې د کارنامو څرګندول دي.

**پوښتنې**

۱ـ ابومسلم خراساني د کومو دلايلو له امله له عباسي دربار سره اړيکې ټينګې کړې؟

۲ـ ابومسلم خراساني د عباسي کورنۍ په واک ته رسولو کې څه رول درلود؟

۳ـ ولې ابومسلم خراساني د عباسي خليفه له لوري ووژل شو؟

**د ابومسلم خراساني شخصيت**

په ۱۰۰ل.کال د خراسان د دنګو غرونو په لمنو کې د پخواني خراسان په پلازمينې مروه ښار کې له يوې خراساني ميرمنې څخه چې وسيکه نوميده ابومسلم بن عثمان خراساني دې نړۍ ته سترګې و غړولې. د نوموړي پلار (عثمان) د زردشتي دين له روحانيونو څخه و او مخکې له اسلام څخه يې نوم

بنداد هرمزد و چې د اسلام مبارک دین له منلو څخه یې وروسته نوم عثمان او لقب یې مسلم کېښودل شو. نوموړي د عمر په وروستیو کې د آذربایجان په لرې پرتو سیمو کې ژوند درلود او هملته ومړ.(۴: ۱۲۱ـــ۱۲۴مخونه)

ابومسلم خراساني د لومړي ځل لپاره په ځوانۍ کې چې عمر یې ۱۹ کالو ته رسېده د قحطبه بن شبیب په واسطه د امام ابراهیم عباسي سره ملاقات وکړل او د ابن عباس له ګوند سره یو ځای شو. قحطبه بن شبیب د امام ابراهیم لخوا په خراسان کې د عباسي کورنۍ لپاره د تحرکاتو لپاره ټاکل شوی و. په دې کتنه کې امام ابراهیم عباسي له ابومسلم څخه د نوم پوښتنه وکړه، ابومسلم یې په ځواب کې وویل چې نوم مې ابومسلم بن عثمان بن بشار دی. په دې وخت کې امام ابراهیم ورته ویل چې نوم دې ابومسلم نه، بلکې عبدالرحمن دی. وروسته له دې ابومسلم په عبدالرحمن باندې هم مشهور شو چې بیا په سکو کې ابومسلم عبدالرحمن بن مسلم ضرب شو.(۳: ۲۱۱ـــ ۲۱۲مخونه)

ابومسلم خراساني د خپل ژوند د کوچنیوالي دوره د خپل پلار له وصیت سره سم د معقل کورنۍ له غړو سره تیره کړه. کوم وخت چې د ابومسلم پلار عثمان له یوې پېښې سره مخاخ شو او مخکې له دې چې ووژل شي، خپله ښځه وسیکه (د ابو مسلم مور) او ابومسلم یې عیسی بن معقل ته وسپارل. ابومسلم خراساني په اصفهان کې د عیسی بن معقل له کورنۍ سره اوسېده او په همدې وخت کې یې له عیسی بن معقل څخه د آس سورلۍ او غشي ویشتل زده کړل. دغه راز ابومسلم د عیسی له زامنو سره په اصفهان کې مکتب پیل کړ او هملته له لیک لوست سره اشنا شو چې په پای کې یو لوی ادیب او د قرآنکریم حافظ ترې جوړ شو. (۴: ۱۲۵مخ)

د عبدالحی حبیبي په قول: ابومسلم لنډه ونه او غنم رنګه څېره درلوده. هغه به اوږده ویښتان پرېښودل، نرم خویه  او د ښو اخلاقو څښتن و چې تور څادر به یې په ځان و او هیڅ ساتونکی یې نه درلود. دغه راز لیکوال زیاتوي

ابومسلم خراساني نرم خویه د وقار خاوند و چې ورین تندي او فصیحه ژبه یې درلوده. نوموړی یو تکړه زړور انسان و چې د هر کار اراده به یې وکړه نو د ترسره کولو په لاره کې یې خنډ نه پرېښود. دغه راز ابومسلم په کارونو کې چاته طمعه نه کوله او په خپل مټ به یې کارونه تر سره کول او په هېڅ شبب ستونزو ته نه تسلمېده.

ابومسلم خراساني د زده کړو خاوند، پوه او هوښیار انسان و چې په عربي ژبه یې شعرونه هم ویل او دغه راز د قرآنکریم حافظ هم چې تل به یې تور پټکی په سر کاوه او ویل به یې چې رسول الله (ص) کوم وخت چې مکه مکرمه فتحه کوله نو تور پټکی یې پر سر تړلی و او دا د رسول الله (ص) د سنتو څخه دی.(۳: ۲۴۸ـ ۲۴۹مخونه)

منهاج سراج جوزجاني د ابومسلم خراساني د شخصیت په اړه وایي: ابومسلم په خپله ځوانۍ کې یو داسې انقلاب رامنځ ته کړ چې له امله یې په اسلامي تاریخ کې یوه لویه د خلافت دوره پای ته ورسېده، تر دې چې د عربو مشران ابومسلم خراساني د یو ستر تاریخي شخصیت په توګه پېژني. لکه څرنګه چې یوه ورځ د عباسي خلیفه مامون الرشید پر وړاندې یو کس د ابومسلم خراساني یادونه وکړه، هغه یې په اړه وویل: په نړۍ کې درې تنه د دولتونو د تغییر او بدلوونکو په توګه پېژنو، لومړی سکندر مقدوني، دویم اردشیر، دریم ابومسلم خراساني. (هماغه: ۲۴۹ـ ۲۵۲مخونه)

**عباسي خلافت او ابومسلم خراساني**

کوم وخت چې ابومسلم خراساني د عیسی بن معقل د کورنۍ له غړو سره په اصفهان کې ژوند کاوه په همدې وختونو کې د خالد بن عبدالله قسري لخوا چې د عراق له امیرانو څخه و د عیسی او زامنو سره یې ابومسلم هم ونیول شو او له نیول کېدو وروسته کوفې ته انتقال او زنداني شول. ابومسلم د کوفې په زندان کې د عیسی بن معقل په خدمت کې بوخت و. په همدې وختونو کې د محمد بن علي الامام د ډلې یو څوتنه دعوت کوونکي چې د خراسان داعیان

هم پکې شامل وو د کوفې په زندان کې له عیسی او ابومسلم سره ولیدل او دا لومړی ځل و چې ابومسلم د خپلو خراساني هېواد والو سره ویني. په دې کتنه کې خراساني داعیان د ابومسلم له پوهې او استعداد څخه متأثره کېږي. ابومسلم خراساني د دې داعیانو په موخو ځان پوهوي چې د دوي موخه د اموي کورنۍ له ظلم څخه په تنګېدل دي او د هغوي پر ضد فعالیتونه مخته وړي. نو له همدې امله له هغوي سره ژمنه کوي چې په دې لاره کې به په ګډه مبارزه تر سره کوي. کوم وخت چې عیسی او ورور یې ادریس د کوفې له زندان څخه په تېښته بریالی کېږي نو ابومسلم هم د دوي ملتیا کوي او په مکه کې له خپلو هغو خراساني داعیانو سره یو ځای کېږي، کوم چې په زندان کې ورسره لیدلي وو.

ابومسلم خراساني مکې ته له رسېدو وروسته خپلو خراساني ملګرو سره له ابراهیم بن محمد عباس سره یو ځای شو. نوموړی نږدې څلور کاله په مکه کې ابراهیم بن محمد عباس سره پاتې شو، تر څو په ۱۲۸هـ ق. کال کوم وخت چې د ابومسلم خراساني عمر ۱۹کالو ته ورسېد، نو هغه د ابراهیم عباسي لخوا له یو لیک سره په دې خاطر چې د خراسان د خلکو باور او اعتماد پرې وشي، د خراسان په لوري واستوه.

ابومسلم خراساني خراسان ته له رسېدو سره سم د پوهې او زیرکتیا په واسطه وکولای شول چې د خلکو باور تر لاسه کړي. نوموړي په ۱۲۹ه ق. کال له ابراهیم عباسي سره د کړې ژمنې لپاره د حج د مراسمو تکل وکړ، تر څو د خراسان د اوضاع په اړه ابراهیم عباسي ته معلومات ورکړي، په همدې وخت کې یې له (کامل او ابو کامل) سره چې هغوي د امام ابراهیم له لوري د خراسان د حالاتو د کنترول لپاره رالېږلي وو، ولیدل او د هغوي په لاس یې د خراسان د اوضاع په اړه ابراهیم عباسي ته خبر ورکړ، تر څو فرصت له لاسه ور نکړي د حج له مراسمو څخه تیر شو او په خراسان کې د اموي کورنۍ پر ضد په اقداماتو لاس پورې کړ، داسې هم ویل کېدل چې ابومسلم خراساني د

یادو استازو لخوا د حج له مراسمو څخه وگرځول شو. ابومسلم خراساني په ۱۲۹هـ ق. د رمضان د میاشتې په ۵ مه نېټه په خپل کلي سپید نج کې په داسې حالت کې چې توري جامې په تن وې، په ښکاره ډول د اموي کورنۍ په مقابل کې مبارزه پیل کړه او د خراسان په بېلابېلو سیمو کې یې هغه خلک چې د اموي کورنۍ له ظلمونو څخه په تنگ شوي وو راټول او یو ستر لښکر چې شمېر یې نږدې سلو زرو ته رسېده چمتو کړ. په دې لښکر کې زیات شمېر سپاره جگړه ماران هم شامل ول.(۳: ۲۳٦ــ ۲۳۸مخونه)

ابومسلم په ډیره کمه موده کې وکولای شول چې په خراسان کې د اموي حکمران نسر بن سیار څخه د خراسان ټولې سیمې ونیسي. د خراسان له نیولو وروسته نوموړی په ارامه پاتې نه شو او اموي لښکرې یې تعقیب کړې تر څو تر ۱۳۲هـ ق. کال پورې ایران، عراق او بلاخره د اموي خلافت مرکز دمشق له هغو څخه ونیو او د اموي خلافت وروستی خلیفه مروان په تېښته بریالی شو. که څه هم امام ابراهیم بن محمد عباسي چې د کورنۍ له غړو سره د امویانو لخوا نیول شوي و او د کوفې په زندان کې ساتل کېدل و وژل شو، خو بیا هم عباسي نهضت خاموشه نه شو او په دې توگه د ابومسلم او ابوسلمه په ملاتړ عباسیانو وکولای شو چې د امویانو نږدې نوي کلنې واکمنۍ ته چې د حضرت معاویه (رض) په خلافت سره پیل شوې وه ماتې ورکړي.د امویانو وروستی خلیفه مروان مصر ته وتښتید او هلته ووژل شو. دې کورنۍ د وروستي خلیفه مروان له وژل کېدو او د خلافت له سقوط څخه وروسته په ۱۳۲ هـ ق. کال ابوالعباس سفاح د کوفې په الامارت جامع مسجد کې د جمعې په ورځ له جماعت وروسته په خپل نوم خطبه وویله او په دې توگه په اسلامي نړۍ د عباسیانو واکمني پیل شوه.(٦ :۲۱۲مخ)

**ابومسلم خراساني په خراسان کې**

وروسته له هغې چې اموي کورنۍ له ماتې سره مخاخ شوه او د واک ټغر یې له اسلامي نړۍ څخه ټول شو او عباسیان واک ته ورسېدل، نو ابومسلم خراساني

په خراسان کې د یو خپلواک اسلامي دولت د جوړولو لپاره هلې ځلې پیل کړې. دغه راز د خپلې واکمنۍ د واک د پراختیا او د خلکو د ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره یې یو شمېر سوقیات هم وکړل چې د هغو له جملې څخه په ۱۳۵هـ ق. کال د ماورألنهر په لور لښکر ولېږه او د هغې سیمې په نیولو سره یې د هغې سیمې عربي واکمن (زیاد) و واژه. په دې سره یوه لویه او پراخه سیمه د ابومسلم خراساني په واک کې راغله. نوموړي په دې سیمه کې د یوې لویې او پراخې واکمنۍ بنسټ کېښود. ابومسلم خراساني د خپلې واکمنۍ پلازمینه د مروې ښار ټاکلی و، ځکه دا ښار د خراسان یو له لرغونو او تاریخي ښارونو څخه گڼل کېده چې افغانستان ته د اسلام له راتگ وروسته دا ښار د خلفاوو د لښکر کشیو مرکز و، او له دې ښار څخه هر لوري ته یې لښکر لیږل کېده. د دې ښار په دروازه کې د عربو لخوا د عتیق په نامه یو لوی مسجد جوړ شوی و چې اسلامي خلفاوو په همدې مسجد کې لمونځونه او عبادت تر سره کاوه. ابومسلم خراساني په دې لرغوني ښار کې یو لوی مسجد او د امارت ماڼۍ چې تر څنگ یې یو لوی زندان هم شتون درلود و تاسیس کړل. دا د امارت ماڼۍ تر دوو پېړیو پورې د اسلامي امیرانو لخوا د امارت د ماڼۍ په توگه کارول کېده.(۳ :۲۷٦مخ)

که څه هم افغانستان (پخوانی خراسان) په ۱۲۹هـ ق. کال د ابومسلم خراساني په واسطه له امویانو څخه خپلواکي تر لاسه کړه خو دا خپلواکي د یو محدود وخت لپاره وه او د ابومسلم خراساني له وژل کېدو سره سم یو ځل بیا د عباسیانو واک په خراسان کې ټینگ شو او نږدې اویا کاله نور هم د عربو واک په خراسان کې چلېده، تر څو په ۲۰۴هـ ف.کال د طاهریانو د کورنۍ بنسټ اېښودونکي طاهر فوشنجي وکولای شول چې په خراسان کې یو اسلامي خپلواک دولت رامنځ ته کړي، خو هغه هم په دې لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړ او د خپل هېواد خپلواکي یې د سر په بیه ورته پرېوته.(۵ :۷۸مخ)

که څه هم ابوالعباس سفاح واک ته له رسېدو وروسته د يو مکتوب په واسطه ابومسلم خراساني د خراسان د والي په توګه وټاکه، خو ابومسلم خراساني له عباسي خليفه ابوالعباس سفاح سره رسمي بيعت نه و تر سره کړی او له هغه وخت څخه چې د امام ابراهيم عباسي لخوا خراسان ته ليږل شوی و، تر څو د اموي کورنۍ په مقابل کې مبارزه پيل کړي، تر هغه چې اموي کورنۍ ماتې وخوړه او عباسيان قدرت ته ورسېدل، دغه ټوله موده ابومسلم خراساني په خراسان کې پاتې شو او بهر هېواد ته يې زړه ښه نه کړ. که څه هم نوموړي د امويانو په مقابل کې سختې جګړې وکړې او هغوی له ماتې سره مخامخ کړل، خو د خلافت مرکز دمشق کې هيڅ وخت تير نه کړ. له دې څخه معلومېږي چې ابومسلم خراساني له خپلې خاورې سره مينه درلوده او موخه يې د خپلې خاورې او د وطن خپلواکي وه چې بايد له عربو څخه يې تر لاسه کړې وای، خو متاسفانه په دې لاره کې يې خپل ژوند له لاسه ورکړ او موخې ته له رسېدو مخکې د عباسي خيلفه ابوجعفر منصور د يوې پټې دسيسې ښکار شو او ووژل شو.

کله چې عباسيان واک ته ورسېدل او د دې کورنۍ خلافت په ټوله اسلامي نړۍ کې قائم شو، نو د دې کورنۍ لومړی خليفه ابوالعباس سفاح د خلافت پر مهال د چارو د ادارې لپاره له ابو مسلم خراساني سره سلا او مشورې کولې او د ابومسلم خراساني مشوره او رايه به يې پر وړاندې مثبه وه او حتمي به منل کېده، خو په مقابل کې ابومسلم په خراسان کې د چارو د ترسره کولو لپاره له عباسي خليفه ابوالعباس سفاح سره سلا او مشوره نه کوله او د خپلې سيمې ټول رسمي او غير رسمي چارې يې په خپلواک ډول تر سره کولې. دغه راز نوموړي په خراسان او ده پورې اړوند نورو سيمو کې د هرې سيمې واليان په خپله ټاکل او د واليانو په ټاکلو او عزل کولو کې يې له عباسي خليفه سره هېڅ مشوره نه کوله، خو په مقابل کې عباسي خليفه د هرې سيمې د واليانو او اميرانو په ټاکلو کې له ابومسلم سره مشوره کوله او د واک له لومړيو وختونو

ځخه عباسي خليفه ابوالعباس سفاح په اسلامي نړۍ کې د ابومسلم خراساني له نفوذ ځخه ويره درلوده او کوښښ يې کاوه تر ځو نوموړی خپل خلافت ته مايل کړي تر ځو عباسي خلافت ځخه د خراسان سيمه بيله نه کړي او خپلواکي يې اعلان نه کړي. له همدې امله د عباسي دربار لپاره ټول مهم کارونه او حتا يو شمېر مشهورې ځېرو ترور چې د عباسي خلافت له مخالفينو ځخه شمېرل کېدل د ابومسلم خراساني په مشوره تر سره شول، چې ښه بيلگه يې د ابوسلمه او سليمان بن کثير وژل کېدل وو. (٦ :٢٣٢ـ ٢٣٣مخونه)

## د ابومسلم خراساني وژل کېدل

د ابوالعباس سفاح له مړينې وروسته د هغه ورور ابو جعفر منصور د خلافت چارې په لاس کې واخيستې. په همدې وخت کې د هغه تره عبدالله بن علي هم د خلافت دعوه پيل کړه او ويل يې چې عباسي خليفه ابوالعباس سفاح د حران سيمې ته لښکر استوه، تر ځو ياده سميه کنترول او اموي واکمنان مات کړي، نو د دې کار لپاره هېڅ تن زړه نه ښه کاوه، په دې وخت کې ابوالعباس سفاح ويلي و چې هر چا چې د حران سيمه کنترول کړه، زما ځخه به وروسته د خلافت چارې هغه ته سپارل کېږي، عبدالله بن علي ويل ما دې کار ته ملا وتړله او په حران سيمه کې مې د اموي خلافت وروستۍ خليفه مروان بن محمد او ورسره نور ټول اموي سرداران مات کړل، او د هغې سيمې ټولو خلکو له ما سره بيعت وکړ. د همدې دعوې پر بنسټ عبدالله بن علي په حران او حلب سيمو کې د خلافت د تر لاسه کولو لپاره تحرکات پيل کړل.

عباسي خليفه جعفر منصور د دې خبر په اوريدو سره د هغه د ټکولو لپاره له ابومسلم خراساني نه مرسته وغوښته، ابومسلم خراساني هم د همدې موقع ته په انتظار و، تر ځو ځان عباسي خليفه جعفرمنصور ته وفادار ثابت کړي، نو د همدې موخې لپاره يې د يو لوی لښکر په واسطه نصيبين سيمه کې عبدالله بن علي ته سخته ماتې ورکړه، عبدالله بن علي د جگړې له ميدان ځخه

وتښتېد او بصرې سیمې ته یې پناه یوړه او هلته له خپل ورور سیلمان بن علي سره یو ځای دېره شوه.(٦: ٢٣٥ـ ٢٣٦مخونه)

کله چې د دې سترې فتحې خبر عباسي خلیفه جعفر منصور ته ورسېد، نو نوموړي خپل خدمتګار (ابو خصیب) د غنیمت مالونو د لست او ترتیب لپاره واستوه چې په دې کار سره ابومسلم خراساني سخت خفه او د عباسي دربار له بد نیتۍ څخه ناراضه شو. ورپسې د منصور لخوا د یو مکتوب په وسیله ابو مسلم د مصر او شام د والي په توګه وټاکل شو. ابو جعفر منصور د ابومسلم په موخه پوهېده، نو د همدې لپاره یې غوښتل تر څو نوموړی له خراسان څخه جلا او لرې سیمې ته ولېږي.

خو ابومسلم د عباسي خلیفه دې امر ته غاړه کېنښوده او د خراسان په لوري یې حرکت وکړ، کله چې منصور خبر شو چې ابومسلم د خلیفه امر نه مني او د خراسان په لوري یې سفر پیل کړی، نو له انبار څخه د مداین په لوري ولاړ او هلته یې ابومسلم خراساني ته د ملاقات لپاره بلنه ورکړه، خو ابومسلم خراساني د یو لیک په واسطه عباسي خلیفه منصور ته ولیکل چې زه اوس نشم کولای چې تا سره ووینم، زما بیعت به له لرې نه له تاسو سره وي. دغه راز په دې لیک کې ابومسلم خراساني عباسي خلیفه ته د دې خبرې یادونه هم کړې وه چې ما ستاسو ټول مخالفین له منځه یوړل او اوس چې تاسې هېڅ دښمن نه لرئ نو زما اړتیا هم تاسو ته بې ارزښته شوه او غواړی چې ما له پښو وغورځوی، دا به ښه وي چې له لرې نه زه ستاسو سره بیعت ولرم او زه به ستاسو د هر امر اطاعت کوم، خو که تاسو زما له شتون سره مخالفت وي او زما ختمول غواړئ، نو زه به خپل اطاعت له تاسو سره ختم کړم، خپله خپلواکي به اعلان کړم او ستاسو پر ضد به په مبارزه لاس پورې کړم.(٢: ٥٢ مخ)

کله چې دا لیک ابو جعفر منصور ته ورسېد نو هغه په ډېرې هوښیارۍ او نرمه لهجه یو لیک د خپل غلام ابو حمید په لاس ابومسلم ته ولېږه، په کوم

لیک کې چې د ابومسلم د وفادارۍ او ښو کړنو یادونه شوې وه تر څو هغه له قهر نه را وګرځوي، د عباسي خلیفه لخوا ابوحمید ته دنده ورکړل شوې وو، چې په هر ډول وي ابومسلم خراساني عباسي دربار ته د راتلو لپاره تیار کړي، دغه راز که چېرې ابومسلم خراساني له عباسي خلیفه سره له کتلو څخه سر غړونه کوله نو د منصور له غوسې نه دې و وېرول شي تر څو عباسي دربار ته حاضر شي.

ابوحمید په ډېرې هوښیارۍ سره وکولای شول چې ابومسلم قانع کړي تر څو له عباسي خلیفه سره د ملاقات لپاره حاضر شي. ابومسلم خراساني مخکې له دې چې عباسي دربار ته سفر پیل کړي له خپل وزیر مالک بن هشیم سره د تګ مشوره وکړه، هغه ورته وویل چې هیڅ کله عباسي دربار ته ولاړ نه شې ځکه هغه تا وژني، خو بیا هم ابومسلم خراساني د ابو داود په مشوره چې هغه ته ابو جعفر منصور د خراسان ولایت وعده ورکړې وه د سفر لپاره تیارۍ ونیوه او خپل وزیر ابو اسحاق خالد بن عثمان یې د حالاتو د کنترول لپاره عباسي دربار ته ولیږه.

کله چې ابو اسحاق عباسي دربار ته ورسېده نو د خلیفه او د بني هاشمو د کورنۍ د سردارانو لخوا یې تود هر کلی وشو او ابو جعفر منصور د خپل پلان مطابق له ابو اسحاق سره د خراسان د ولایت وعده وکړه، ابو اسحاق له پوره ډاډ سره بیرته ابومسلم خراساني ته را وګرځېد او ورته یې وویل چې هیڅ ستونزه نشته او د عباسي خلیفه رویه نیکه وه او د ښه نیت له امله غواړي چې له تاسره ووینې.(٦: ٢٣٥-٢٣٧مخونه)

ابومسلم خراساني که څه هم چې د عباسیانو په بد نیت پوهېده خو بیا یې هم د ځینو مغرضو اشخاصو په مشوره له عباسي خلیفه سره د ملاقات لپاره خپل سفر پیل کړی و، خو په دې نه پوهېده چې د ده په حق کې به څه کېږي؟ خوکوم وخت چې د هغه وزیر ابو اسحاق له عباسی دربار څخه بیرته را وګرځېد او ابومسلم ته یې اطیمنان ورکړ نو یو څه د آرامۍ ساه یې

واخیسته، ولې بیا هم له ویرې او ډار سره د عباسي خلیفه ابو جعفر منصور دربار ته حاضر شو. په لومړی ورځ یې له خلیفه سره ملاقات ښه تر سره شو، او په ډېر درناوي بېرته رخصت شو او خپلې خونې ته چې مخکې نه ورته اماده شوې وه ولاړ. په دویمه ورځ چې کله نوموړی د خلیفه دربار ته حاضر شو نو په دې ورځ خلیفه د هغه د وژنې توطیه برابره کړې وه او درې تنه ( عثمان بن نهیک، شبیب بن رواح، ابو حنیفه حرب بن قیس) ته یې دنده ورکړې وه تر څو ابومسلم خراساني په قتل ورسوي، او ورته ویل شوي و چې تاسې به په دربار کې پټ کښېنی. او کله چې زما خبرې له ابومسلم سره تېزې شوې نو زه به لاسونه یو پر بل وهم او د لاسو له وهلو سره به تاسې بهر کېږی او هغه به له منځه وړئ.(۱: ۱۳مخ)

د یاد پلان له مخې کله چې په دویمه ورځ ابومسلم خراساني د عباسي خلیفه ابو جعفرمنصور دربار ته حاضر شو تر څو په خراسان کې د کړنو او اجراآتو راپور ورکړي. په دې ورځ د خلیفه رویه د ابومسلم سره ښه نه وه او هغه ته یې بېلابېلې پلمې لټولې تر څو د وژنې پلان پلي کړي، خلیفه له ابومسلم نه د هغو دوو تورو پوښتنه وکړه، کوم چې له عبدالله بن علي سره د جګړې پر مهال په لاس ورغلې وې، ابومسلم ځواب ورکړ چې یوه خو یې همدا اوس دادی زما په ملا پورې تړلې ده، خلیفه ابو جعفرمنصور یې د کتلو غوښتنه وکړه او ابو مسلم هم په ډېر درناوي سره توره خلیفه ته تسلیم کړه، خلیفه توره له کتلو وروسته تر خپل زنګون لاندې کېښوده او بیا یې د ابومسلم څخه د هغه د حرکاتو او کړنو شکایت وکړ، خو ابو مسلم په ډېره نرمه لهجه د هر کار راپور وړاندې کاوه او نه یې غوښتل چې له خلیفه سره په لانجه ځان واچوي. خو کله چې وار په وار د خلیفه غوصه زیاتېده او هغه ته یې د غدار او قاتل خطاب وکړ، نو ابومسلم هم ولیدل چې نور یې په دنیا کې ژوند نشته نو د همدې لپاره یې جعفر منصور ته وویل هر څه مو چې زړه غوښتل ومو کړل اوس هم هر څه چې غواړئ ویې کړئ زه د الله (ج) څخه پرته له بل چا څخه نه وېرېږم.

د دې خبرو په اورېدو سره خليفه جعفرمنصور ابومسلم ته سپکې سپورې وکړې او لاسونه يې سره ووهل، د لاسونو په وهلو سره مؤظف شوو کسانو په ابومسلم خراساني باندې حمله وکړه او د تورې په گوزارونو يې په داسې حال کې په شهادت ورساوه چې د هغه له خولې څخه د ای نامرد! ای نامرد! الفاظ وتل. په دې سره يو قوي، زړه ور او نامتو خراساني څېره چې له خپلې خاورې سره يې بې کچه مينه درلوده او د خپلې خاورې خپلواکي يې د ژوند ارمان و، د عربو د يوې ناځوانمردانه دسيسې ښکار شو او په شهادت ورسېد.(۴: ۱۰۲ـ ۱۰۴مخونه)

**پايله**

ابومسلم خراساني چې د پخواني خراسان پلازمېنه مروې لرغوني ښار کې نړۍ ته سترگې غړولې وې زموږ د هېواد تکړه، زړه ور انسان و، ده له خپلې خاورې او وطن سره بې زياته مينه درلوده. نوموړی د ځوانۍ پر مهال په خراسان کې د اموي خلفاوو د بې عدالتيو پر وړاندې له عباسي کورنۍ سره اړيکې ټينگې کړې، تر څو د هغوي په مرسته په خراسان کې د امويانو قدرت ته د پای ټکی کېږدي. او په خپل هېواد کې يو اسلامي او خپلواک دولت رامنځ ته کړي، نو د همدې موخې لپاره يې له خپلې سيمې څخه د اموي کورنۍ پر ضد مبارزه پيل کړه تر څو چې اموي خلافت يې په ټوله اسلامي نړۍ کې له ماتې سره مخامخ کړ.

خو کوم وخت چې عباسيان قدرت ته ورسېدل د ابومسلم خراساني له نفوذ او قدرت څخه يې وېره پيدا کړه او غوښتل يې چې په اسلامي نړۍ او خصوصا په خراسان کې د هغه د نفوذ مخه ونيسي خو د هغو خدمتونو له امله چې نوموړي د عباسي کورنۍ په واک ته رسولو کې تر سره کړي وو، د عباسي خلافت بنسټ گر ابوالعباس سفاح د ژوند تر پايه هغه ته په درنه سترگه کتل او په هر کار کې يې له ابومسلم سره مشوره کوله، حتا په اسلامي نړۍ کې د واليانو او استازو په ټاکلو کې يې له ابومسلم خراساني سره مشوره کوله، خو

کله چې ابوالعباس سفاح وفات شو او ورور يې ابو جعفرمنصور د خلافت چارې په لاس کې واخيستې نو له هماغې ورځې نه د عباسي کورنۍ رويه له ابومسلم سره بدله شوه او په داسې پلانونو يې کار پيل کړ تر څو نوموړی د سياست له ډګر څخه لرې او يا يې هم ووژنې.

کله چې عباسي خليفه د ابومسلم خراساني په نيت پوه شو چې نوموړی په خراسان کې د خپلواک دولت جوړولو پلان لري نو دا کار يې د خپل قدرت لپاره خطر وباله او په دې فکر کې شو چې که چېرې د ابومسلم مخه ونه نيسي نو حتا د دوی د کورنۍ واک ته هم ستونزې جوړولای شي، نو هماغه و چې د يو لړ پټو دسيسو او پلانونو په واسطه يې هغه خپل دربار ته وغوښت او بلاخره يې په ډير بې رحمانه توګه په شهادت ورساوه او مړی يې ورته د دجلې سيند ته واچوه.

## وړانديز

۱ــ د افغانستان د علومو اکاډمۍ او نورو علمي بنسټونو د علمي کادر غړو ته وړانديز کوم تر څو د ابومسلم خراساني او د ده په څېر د هېواد د نورو سترو شخصيتونو په اړه څېړنيزې رسالې وليکي او علمي کنفرانسونه وړاندې کړي، تر څو زموږ د هېواد  وګړي خپل ستر شخصيتونه وپېژني او د هغو له کارنامو څخه ځان خبر او له هغو څخه درسونه واخلي.

## ماخذونه


۱ــ انصاري، غلام فاروق. غوري، عبدالغياث. عابد، عبدالمالک. درسي کتاب د يوولسم ټولګي تاريخ، د پوهنې وزارت د درسي کتابونو د تاليف عمومي رياست: ۱۳۹۰ل.

۲ــ پژواک، عبدالرحمن. آريانا(لرغونی افغانستان)، ژباړن جواد تيموري، د افغانستان د علومو اکاډمي د عامه اړيکو رياست: لايف سټار مطبعه کابل افغانستان، ۱۴۰۱ل.

۳ـ حبیبی، عبدالحی. تاریخ افغانستان بعد از اسلام، جلد اول و دوم، بنگاه انتشارات میوند: کابل، ۱۳۸٦ل.
۴ـ حسن، محمد عبدالغنی. ابومسلم خراسانی، ترجمه شفیعی کدکنی، بنگاه انتشارات میوند: کابل، ۱۳۸۴ل.
۵ـ غبار، غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول و دوم، انتشارات جمهوری: مطبعه دولتی ـ کابل، ۱۹٦۷م.
٦ـ نجیب آبادی، مولانا اکبرشاه. د اسلام تاریخ، ژباړن سیدفضل مولا لټون، دویم ټوک، پیغام خپرندویه ټولنه: قصه خوانی بازار پېښور، ۱۴۲۷ق.

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Abdul Baqi Shahab

**AS. Editor:** Muhammad Ibrahim Paktin

**Editorial board:**

Senior research fellow Sher Ali Tazari

Senior research fellow Muhammad Sharif Zadran

Senior research fellow Abdul Jabbar Abid

Researcher Fellow Muhammad Dawood Nazim

Researcher Gholam Nabi Hanafi

**Composed & Designed By:**

Abdul Baqi Shahab

**Annual Subscription:**

Price of each issue in Kabul: ۳۲۰ AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: ۷۰ AF.
- For the disciples and students of schools: ٤۰ AF.
- For other Departments and Offices: ۸۰ AF.